# کاکړان

(د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړو لنډه پېژندنه)

لیکوال: ډاکټر عبدالغفار کاکړ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم


## د کتاب ځانګړنې

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | کاکړان (د ننګر هار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو لنډه پېژندنه) |
| لیکوال | :: | ډاکټر عبدالغفار کاکړ (۷۹۹۴۱۸۴۸۱ (۰) ۰۰۹۳) |
| کمپوز او ډیزاین | :: | عاشق الله بېتاب (۰۷۸۵۵۱۹۲۱۸) |
| پښتې ډیزاین | :: | اجمل ښهیر |
| چاپ چارې | :: | باور خپرندویه ټولنه – جلال اباد |
| چاپ کال | :: | 1399لمریز - 2020م |
| چاپ وار | :: | لومړی |
| چاپ شمېر | :: | ۱۰۰۰ټوکه |


د چاپ حقوق له لیکوال سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ؛

**خپلې مهربانې مور او خپل درونـد پلار ته!**

چې زده کړې یې راباندې وکړې او د دعاګانو په برکت یې مخته روان یم.

**او د کاکړ قوم هغه زلمو او پېغلو ته!**

چې تل یې د خپل هېواد او ناموس نـه سـاتنه کړې او ځانونه یې پرې قربان کړي دي.

**ډاکټر کاکړ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

دا کتاب...! ( د ښاغلي بېتاب لیکنه) ---------- 5
تقریظ ( د ښاغلي حفیظ الحق قاري زداه کاکړ لیکنه) ---------- 8
د پیل خبرې! ---------- 10
پښتو ژبه او پښتانه ---------- 13
کاکړ یوه پښتنه قبیله ده ---------- 24
د کاکړو د قبیلې ښاخونه ---------- 27
د کاکړو قبیلې ته لومړۍ ځغلنده کتنه ---------- 30
د کاکړو قبیلې ته دویمه ځغلنده کتنه ---------- 35
د کاکړو د قبیلې مشهور شخصیتونه ---------- 44
میا عبدالحکیم رحمه الله ---------- 46
ملا دوست محمد رحمه الله ---------- 48
ملا میر محمد رحمه الله ---------- 48
د ملا میر محمد لومړی زوی مولوي محمد جان ---------- 49
د ملا میر محمد دویم زوی مولوي محمد یعقوب ---------- 56
د ملا میر محمد درېیم زوی مولوي محمد سالم---------- 85
د ملا میر محمد څلورم زوی ملا ظفر ګل ---------- 89
د ملا میر محمد پنځم زوی مولوي محمد جعفر---------- 96
د ملا میر محمد شپږم زوی ملا محمد اکبر ---------- 109
د ملا میر محمد اووم زوی ملا دوست محمد ---------- 109
ملا نور محمد رحمه الله ---------- 121
د ننګرهار د بهسودو ولسوالۍ د بلند ګاه کاکړو لنډه پېژندنه ---------- 133
سرچینې ---------- 141

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا کتاب ...!

هر هغه څه چې مونږ ته د مخکنیو د کړو بیان کوي، هغه ته تاریخ ویل کېږي، لکه: د نړۍ تاریخ، مونږ د نړۍ له کړو خبروي، اسلامي تاریخ، چې مونږ ته د اسلام د ستر پېغمبر صلی الله علیه وسلم او د ده د یارانو مبارکې کړنې، لاربښوونې، کردار او رفتار را ښایي. افغاني تاریخ، مونږ د افغاني کلتور له عنعناتو او کړنو خبروي، پښتني تاریخ، مونږ ته پښتني دود، رواج، کلتور او د دوی دبدبه او زړورتوب را بیانوي. په نړۍ کې د ژوند کولو لپاره باید هر شخص له خپل تاریخ څخه اګاه او باخبره واوسي.

زه څوک، د چا زوی، د چا لمسی، د چا کړوسی، د چا کودی . . . او ان په نسب کې تر چا رسېږمه، ډېری خلک شته، چې ځان پښتانه بولي او د پښتو دعوې هم کوي، که چېرې ترې وپوښتې، د پښتنو د کوم نیکه پورې تړاو لرې، پښتانه څوک دي، شجره یې له کوم ځای څخه سرچینه اخلي؛ نو دا مالومات خو به ورته بېخي مالوم نه وي، که د خپل غور نیکه د نوم پوښتنه ترې هم وکړې ، هغه به هم ورته یاد نه وي. بس په دې جمله به درنه ځان خلاص کړي، چې پرېږده مړه! نیکه میکه، زه له پلار نیکه پښتون یم، پښتون به یم، پښتون به پاتې شم او پښتون به له دې نړۍ سره مخه ښه کوم.

په عربي ټولنه کې د بشري ټولنو اصلت دومره اهمیت او ارزښت درلود او لري یې، چې د وخت او زمان په تېرېدو سره د اصالت دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تثبیت د ځانګړي علم په توګه د ( الانساب و الرجال ) په نوم پکې رامنځته شوی.

پښتنو چې د تاریخ په بېلا بېلو پړاوونو کې بېلا بېل قبیلوي جوړښتونه درلودل، په عنعوي توګه په لاندینیو پنځو سترو ټولنیزو ګروپونو وېشل شوي دي، چې دغه پنځه سترې ډلې عبارت دي له:

۱- غرغښتي پښتانه.

۲- سړبني پښتانه.

۳- کرلاڼي پښتانه.

۴- بېټني پښتانه.

۵- متوزي پښتانه، چې غلجي او لودي پښتانه ترې مقصد دي. (۱)

دغه پنځه ډلې په ډېرو ښاخونو، څانګو او خېلونو باندې وېشل شوي دي، چې په دې کتاب کې ښاغلي ډاکټر عبدالغفار کاکړ د غرغښتي پښتنو د یو خېل کاکړ، چې د افغانستان د ننګرهار ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې مېشت دي لنډه پېژندنه راټوله کړې او د هغوی منشاء، شجره، استوګنځی، کسب، شغل او ځیني نور دودونه یې لوستونکو ته وړښولي دي.

کاکړ د کاک نیکه په اولاده کې راځي او ان د نسب لړۍ یې د غرغښتي پښتنو پورې رسېږي.

---

۱- پښتني قبیلې ( شجرې).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر صیب کاکړ د دې ترڅنګ چې یو ښه رنځپوه او رنځپېژندونکی ډاکټر دی، خو له پښتو ژبې او پښتو ادب سره د ده شته مینې له ده یو ښه لیکوال هم جوړ کړی دی، د ده دا هڅه ستایم خو د ستایلو تر څنګ په دې کتاب کې یوه نیمګړتیا ورمخته بږدم، هغه دا چې په پښتني ټولنه کې د نارینه وو تر څنګ ښځینه وو هم قربانۍ ورکړې او ورکوي یې، تل یې مېړانه د نارینه وو په شان د نارینه وو ترڅنګ ښولې ده، ښاغلي ډاکټر کاکړ په دې کتاب کې یوازې د نارینه وو یادونه کړې ده، خو د ښځینه وو پکې هېڅ ځرک نه لګېږي، یوازې یو ځای پکې د یوې مېرمنې د مېړانې ذکر راغلی دی، داسې نه ده چې په دې کورنۍ که به یوازې دا یوه زړوره او غیرتي مېرمن وه او نورې به نه وې، خو نه پوهېږم چې ډاکټر صاحب زمونږ د ټولنې د دې کمزوري قشر (ښځینه وو) یادونه په دې کتاب کې ولې نه ده کړې، د دوی د ذکر او نه ذکر موضوع قضاوت او سپیناوی تاسو درنو لوستونکو ته پرېږدم.

زه ورته د دې کتاب ( کاکړان ) د چاپ مبارکي وایم او له رب تعالی نه ورته په ژوند کې د لاځلېدو لپاره لاسونه لپه کوم.

په درنښت

عاشق الله بېتاب

شفاء عصري روغتون، د لابراتوار څانګه

جلال آباد.

۱۲ / وږی / ۱۳۹۹ ل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقریظ

**الحمد لله حمداً شاکرین والصلوة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین و بعد!**

**بسم الله الرحمن الرحیم!**

**دې کې شک نشته، چې د اسلام سپېڅلي دین اصولو او مبادیو اعلان کړی دی، چې ټول انسانان د یوه ځان څخه دنیا ته راغلي دي، لکه الله تعالی فرمایلي دي:**

**ژباړه: ای خلکو! د خپل هغه رب څخه ووېرېږئ، چې تاسو یې له یو کس څخه پیدا کړي یاستئ او د هغه څخه یې د هغه ملګرې (مېرمن) پیدا کړه او له دغه دواړو څخه یې په ګډه ډېر سړي او ښځې پیدا کړي.** ((سورة نساء لومړی ایات))

**جوته شوه، چې د ټول بشریت اصل یو دی او له دغه ګډ تـوکم څخه خلک په قومونو، قبیلو، هېوادونو او جنسونو باندې وېشل شوي دي، پورته موضوع داسې معنا لري، لکه: په یوه کور کې له یوې مور او پلار څخه مختلف ورونه او خویندې وي.**

**په همدې اساس کله چې حقیقت دا دی؛ نو بیا د قومونو د تنوع نتیجه دا کېدای شي، چې په خپل منځ کې د پېژندنې او یو له بل سره نېکۍ کولو باعث وي، الله تعالی فرمایلي دي:**

**ژباړه: ای خلکو ما تاسې د یوه نر او ښځې څخه پیدا کړي یاست او د دې لپاره مې تاسې مختلفې څانګې او قبیلې وګرځولې، چې خپل منځ کې یو بل سره وپېژنئ.** ((سورة حجرات دیارلسم ایات))

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې قوم او قبیله د پېژندنې لپاره ده، باید د هر قوم د نسب شجره معلومه وي او د قوم د مشرانو کارنامې باید راتلونکو نسلونو ته وښودل شي.

د زنا د حرمت یو حکمت همدا دی، چې په دې سره د بشري ټولنې نسب له منځه ځي؛ نو ځکه د اسلام سپېڅلي دین حرام گرځولی دی، لنډه دا چې د انسانانو د تعارف او پېژندنې لپاره قوم او نسب ډېر اړین دی.

له نېکه مرغه چې په همدې اړه زمونږ گران ورور ډاکټر عبدالغفار کاکړ هڅه او کوښښ کړی، چې د کاکړو د قوم شجره او د مشرانو کړه وړه یې په ډېر تکلیف د مختلفو مراجعو او ماخذونو څخه را ټول کړي او د کتاب بڼه یې ورکړې ده، مونږ د جناب ډاکټر صاحب هڅې ستایو او قدرداني یې کوو، چې د دومره بوختیاوو سره سره (چې ۲۴ ساعته د روغتیا په برخه کې د هېوادوالو په خدمت کې دی) خپل قوم ته یې پاملرنه کړې ده، کتاب یې لیکلی او په خپل مالي لگښت یې د چاپ په گاڼه سمبال کړی دی، چې مونږ او راتلونکي نسل لپاره یې د معلوماتو غټه زېرمه برابره کړې ده، بیا هم ترې مننه کوو.

په درښښت

حفیظ الحق قاري زاده کاکړ

د کاکړو علمي او اصلاحي ټولنې مشر

کاکړان، بهسود - ننگرهار

۱٦ – وږی – ۱۳۹۹ل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیل خبرې!

یو وخت و، چې زه د ښووونځي د څلورم ټولگي زده کوونکی وم، د اجتماعیاتو په مضمون کې د تاریخ د برخې لوستلو څخه وروسته راته د خپلو مشرانو د پېژندلو په اړه سوچ پیدا شو، تاریخ عموماً د نومیالیو نومیالیتوب او د بې غیرتو، وطن خرڅوونکو نیمگرتیاوې او تېروتنې بیانوي.

کله چې اووم ټولگي ته ورسېدم؛ نو دلته د تاریخ مضمون له جغرافیې څخه جلا ویل کېده، د خپلو مشرانو د پېژندلو هوډ مې له هماغې وختـه په زړه کې وو، خو له ښوونځي څخه فارغ او د روغتیایي علومو انستیتوت ته بریالی شوم، هېڅ چانس مې پیدا نکړ، چې دا کار باید وکړم. د روغتیایي علومو له انستیتوت وروسته د طب پوهنځي ته بریالی او له هغې وخته مې په زړه کې د خپل هوډ د پوره کولو هڅې پیل کړې، یو څه معلومات مې له خپل والد صاحب نه را واخیستل، خو پوره معلومات را سره نه وو او د پوره معلوماتو د پیدا کولو لپاره وخت ته اړتیا وه، د طب پوهنځي لوستل هم مطالعې ته ضروت لري او د پوهنځي لوستلو د خپل هوډ د پوره کولو چانس نه راکوه.

کاکړ قوم په ټول افغانستان او ان د نړۍ په ځینو هېوادونو کې هم شتون لري، د ټولو پېژندگلوي ډېر کار ته اړتیا لري، خو زه یوازې د خپلې وسې مطابق د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړو د پېژندگلوۍ په لیکلو بریالی شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لسو کالو راهیسې مې پدې برخه کې کار وکړ، له کال ۱۳۸۹ل. څخه ان د دې کتاب د چاپ کېدو پورې لګیا او خپلې هڅې مې کولې، چې سم او درست معلومات را ټول او تاسې درنو لوستونکو ته یې وړاندې کړم. لس کاله یې ځکه ونیول، چې د وخت د ناخوالو له وجې ځینې کاکړ هېواد پرېښودو ته اړ او تیت وپرک شوي وو او خپل ګران هېواد یې پرابښی وو، د ډېرو د مرګ او ژوند پته نه لګېده، کله چې د نوي دولت په راتګ سره مهاجر هېواد ته په راتلو شو؛ نو د کاکړو کورنۍ هم خپل هېواد ته په را کډه کېدو شوې، د دوی راتګ ما ته د خپل هوډ د پوره کولو لپاره ښه موقع په لاس راکړه او لاس په کار شوم.

د کتاب نوم مې د ځینو ملګرو په مشوره ( کاکړان ) کېښود. په دې کتاب کې به د ځینو کاکړو د پېژندګلوی پوره معلومات نه وي، ځکه چې د ځینو سره زما د بیا بیا تماس نیولو او هغوی ته په ورتللو هغوی دې ته چمتو نه شول، چې خپل معلومات ما ته راکړي؛ نو مجبوراً یوازې د هغوی د نومونو ذکر او د پیدا کېدو ځای مې ذکر کړی دی. د دې ترڅنګ چې زمونږ ټولنه یوه پښتنه او افغاني ټولنه ده، یو هم دې ته نه چمتو کېده، چې د خپلې کورنۍ د ښځینه وو پېژندګلوي ما ته را وسپاري او هر یوه به د دې معلوماتو د راکولو څخه ډډه کوله، ما هم یوازې د نارینه پېژندګلوي پدې کتاب کې ذکر کړې ده.

په دې کتاب کې به ځای نیم تېروتنه هم شوي وي، مخکې له مخکې د هغو تېروتنو له تاسې درنو لوستونکو څخه بښنه غواړم، انسان الله تعالی عاجز پیدا کړی دی، بیا هم که په کتاب کې مو کومه تېروتنه تر نظر لاندې راغله؛ د مهربانۍ له مخې یې را په ګوته کړئ، چې په راتلونکي چاپ کې یې اصلاح او سمون پکې راولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې له ټولو هغو ملگرو، خپلوانو او یارانو څخه منندوی یم، چې ما سره یې د دې کتاب د معلوماتو په را ټولولو او یا د خپلیو کورنیو په اړه د معلوماتو را کولو همکاري کړې او د خپل زیار ترڅنگ یې تکلیف او زحمت گاللی دی، الله تعالی دې د دې تکالیفو او زحمتونو اجر په دنیا او اخېرت ور په برخه کړي.

یوه خاصه مننه او تشکري له ځوان لیکوال، شاعر او ډاکټر ملگري عاشق الله بېتاب څخه کوم، د دې ترڅنگ چې د کتاب کمپوز او ډیزاین د چارو لپاره یې په ورین تندي زما غوښتنې ته لبیک وویل، د کتاب د سمون او تقریظ لیکلو ذمه مې هم د دې په غاړه ور واچوله او په ورین تندي یې دغه غوښتنه هم ومنله، له خپلو شته مصروفیتونه سره سره یې په کتاب کې له حده وتې خواري وکړه او ځان یې راسره په پوره ډول په تکلیف کړ، بیا هم ترې مننه کوم کور یې ودان، ورسره په خوا کې د ننگرهار د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو د علمي او اصلاحي ټولنې له مشر حفیظ الحق قاري زاده کاکړ څخه هم مننه کوم، چې زما کړې هڅې یې وستایلې، کتاب یې ولوست او تقریظ یې پرې ولیکلو.

نورې خپلې خبرې نه اوږدوم، تر څو تاسې درانه لوستونکي راسره ستومانه او ستړي نه شئ، دا هم تاسې او دا هم کاکړان.

په مینه او مننې

ډاکټر عبدالغفار کاکړ

تسلیمه کاکړ د نسایي او ولادي ناروغیو روغتون او زېږنتون

جلال آباد ـ افغانستان

اول - د تلې میاشتې - ۱۳۹۹ل. کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو ژبه او پښتانه

پښتو د پښتنو ژبه ده، هغه څوک چې په دې ژبه خبرې کوي او د هغه مور او پلار چې په پښتو سره پوهول او را پوهول کوي هغه پښتانه دي. دا چې پښتانه څوک دي؟ په نوموړې پوښتنه د تاريخ په مختلفو وختو کې د څېړنې او تحقيقاتو په جريان کې پرې ډېر بحثونه شوي دي او د نړۍ د ګوټ، ګوټ ژبپوهان او نسل پېژندونکي پر دې خبرې څېړنې کوي، چې انسان څه شی دی؟ او څنګه د انسانيت مرحلې ته رسېدلی دی؟ خو په هر صورت دا خو به د انتروفولوژی علم ته پرېږدو، چې هماغه علم پر دې څېړنه وکړي او د نسلونو او قومونو په باب خپل معلومات وڅېړي، خو چې تردې پړاو را تېرشو او د انسانانو هغه پرمختللې ټولنه تر نظر لاندې ونيسو؛ نو دا پوښتنه بيا هم را منځته کېږي، چې څنګ دومره ډېرې ژبې او ډېر کلتورونه را منځته شوي دي. که نوموړی تاريخ د هغه وخته چې د کلتور او بيا د ژبې اړوند څېړنه ده؛ نو زموږ کار هم مختصر کېږي او هم مو موضوع ټاکل کېږي. دلته پوښتنه د ژبې ده، انسانانو چې انساني ژوند را پيل کړی دی د هغه تاريخ د ميلاد څخه پنځه او شپږ زره کاله مخکې دی، ولې دا! انساني هغه تاريخ دی، چې انسانان په بشپړه توګه د حيواناتو څخه را بېل شوي دي او د فرهنګ په يوه لوړ پړاو کې ژوند کوي، افزار په کار اچوي، خبرې کوي، کورنۍ جوړوي او حتا د فلزاتو څخه ګټه اخلي، خو د تاريخ د دې پړاو او د تاريخ څخه د مخکې پړاو تر منځ په سوونه کلونه فاصله شته. په همدغه ډول انسانانو چې په مختلفو سيمو کې ژوند را پيل کړی دی، خو بيا هلته تر پايه هم نه دي پاتې شوي، د يوې سيمې څخه بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمې ته د ډول، ډول پېښو او عواملو په سبب مهاجر شوي دي او د ځانه سره یې د یوې او بلې سیمې کلتور، زده کړې او نورې انساني پوهې هم را نقل کړي دي او د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې د محیطي شرایطو سره یې ژوند را پیل کړی دی او د محیط رنګ یې هم خپل کړی دی. دلته بیا هم د پښتنو او افغانانو خبره ده، چې افغانان او پښتانه څوک دي؟. په دې باب یونامتو ډنمارکي ژبپوه (رسمیز رسیک ) په ۱۷۸۷ ـ ۱۸۳۲م کې لیکي: که موږ وغواړو چې د یوه قوم او یا د یوې سیمې د انسانانو تاریخ او د هغه پېژندنه وکړو؛ نو بیا باید د هغه خلکو ژبه تر مطالعې لاندې ونیسو، چې په تاریخي لحاظ هغه پیدا او د هغه په باب علمي دلایل وړاندې کړو؛ نو په همدغه دلیل که موږ غواړو چې د پښتنو او پښتو په باب وپوهیږو چې پښتانه په کوم قوم نژاد یا سیمې پورې اړه لري، د دې لپاره موږ د ښاغلي ( رسیک ) د تحقیق او میتود ته مراجعه کوو او مجبور یو چې د سیمې مختلفې ژبې سره وڅېړو، د مقایسوي ژبپوهنې د علم په مرسته موږ دا معلومه کړو چې د پښتو ژبې تاریخي اړیکې د سانسکریټ، استا، فارسي، بلوڅي، اورمړي، عربي، هندي، اروپایي او نورو مغولي ژبو سره څنګه دي؟ څو موږ دې نتیجې ته ورسیږو، چې پښتو ژبه څومره لرغونې او په مقایسوي لحاظ د ژبو په کوم ګروپ پورې اړه لري. په دې باب بیا هم د یوه جرمني ژبپوه ښاغلي( ډی جینش (۱۷۹٤م) ) دغه خبره وڅېړو، چې ژبه په یوه تاریخي او زماني مقطع کې خپل ځانګړی کلتور، ادبي طرز، لغاتونه، اصطلاحات، د پېښو انعکاسات او داسې نور په خپل ځان کې لري او ساتي یې. ښاغلی جینش د ژبو د مقایسې په لړ کې دغه څلور توکي د پام وړ ګڼي او د هغه له مخې د ژبې مقایسوي اړیکې پېژندل کېدای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ د لغاتونو اوډنه او تغیر د یوه ډول څخه بل ډول ته.
۲ـ صرف او نحوه (سنټکس) یا په ساده توګه د جملو جوړښتونه.
۳ـ په ژبه کې صفایي او قاطیعت په ساده ډول د ژبې سمبولونه.
٤ـ آهنګ په ساده ډول هره ژبه ځانته خپل اهنګ او وزن لري؛ نو په پورته تحلیل سره یو ځل بیا مور د پښتو په باب دا ویلای شو، چې نوموړې ژبه د لغاتونو د جوړښتونو له مخې یوه غني او په سیمه کې یوه بې سارې د لغاتو او ګرامر له مخې بشپړه لرغونې ژبه ده، په دې باب ښاغلی سلطان محمد صابر په خپل کتاب ( قدیم پشتو اور پشتون) کې لیکي،: ( پشتو لغات اور اعتبار سے قدر وسیع اور جامع زبان هے، کے اوس پاس اور قیر هی کوئے زبان اس کا مقابله نہے کر سکتہے). د هغه ادعا دا ده، چې په پښتو ژبه کې بشپړه ګرامر پروت دی او د هر حالت، تغیر او نوم لپاره لغات او جوړونې لري، چې د سیمې په نورو مشهورو ژبو کې لکه: فارسي او اردو کې نه شته، د بېلګې په توګه هغه د مونث او مذکر په دوو حالاتو کې بېلګې را وړي او لیکي: ( قریبي زبانو مے فارسي اور هندي خاص طور پر مقابله ذکر هے، فارسي مے مذکر اور مؤنث کے مثتثنی هی) لکه: څنګه چې په فارسي کې وایي ( امد) په بشپړه توګه دا واضیح نه شوله، چې نر راغلی که ښځه؟؛ نو دا حقیقت بیا هغه وخت څرګندېږي، څو چې یې په سترګو باندې ووینې، چې نر دی که ښځه او که دواړه، خو په پښتو کې نوموړی حقیقت څرګند دی چې نوموړې څرګندونې د الفاظو غنا ګڼل کېږي او په ډېره اسانۍ سره مفهوم ترلاسه کېدای شي. بل د حیواناتو او جامداتو لپاره خپل نومونه او الفاظ شته. په همدغه ډول د پښتو په ګاونډېو ژانګو کې په اردو کې هم په دغه ډول کمزورۍ شته، چې د ژبې پر نه بشپړتوب باندې دلالت کوي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلگې په توگه په اردو کې وايي: ( جاو ) نو د جاو کس بيا هم څرگند نه شو، چې نوموړی نر و او که ښځه. ژبپوهان په دې عقيده دي، چې ژبه په تاريخي لحاظ د پېړيو، پېړيو محصول او په پېړو وختونه غواړي، چې بشپړه شي او دپوخوالي مرحلې ته ورسېږي، نو موږ د پښتو ژبې په باب په ډېر جرئت سره ويلای شو، چې پښتو ژبه په تاريخي لحاظ ډېره لرغونې او د پوخوالي يوه پړاو ته رسېدلې ده. که څه هم عربي هم يوه لرغونې ژبه ده، خو د پښتو سره يې بنسټونه ډېر توپير لري او پر عربي ژبه هم ډېر کار شوی دی، خو هغه غږونه (فونيمونه) چې په پښتو کې شته په عربي ژبه کې نشته او عربي ورنه عاجزه ده. دا ځکه چې د عربي (فونيمونه ) يا توري ۲۸ ته رسېږي، خو د پښتو په پرتله وړ د مقايسې هم نه ده. پښتو توري ٤٦ توري دي، چې د هر غږ لپاره خپل صوتي حالت لري. دا ځکه چې د ژبپوهنې له نظره عربي يوه جلا ژبه ده، چې د عبراني ژبو سره يې اړيکې شته او په سامي نژادو خلکو کې استعمالېږي، چې ويونکي يې د منځني ختيځ خلک دي، ولې فارسي ژبه چې د پښتو سره نږدې اړيکې لري د پښتو ژبې د کورنۍ څخه گڼل کېږي او سانسکريت هم ددغه خاندان څخه ده. دا چې پښتو، فارسي، سانسکريت، اويستا، ژند، هندي او داسې نورې هندي او اروپايي ژبې د يوې ونې مختلف ښاخونه دي، د نړۍ ژبپوهان په دې باب گډ نظر سره لري، خو په ۱۸٦۰م کال کې چې د فرانسې ستر ژبپوه (داپيران) د ژند او اوستا پر ژبو څېړنه وکړه او د هغه د لرغونتوب په باب يې خپل نظر وړاندې کړی دی هغه د خپلې مقالې په يوه برخه کې داسې وايي: چې اوستا د سانسکريت څخه پيدا شوېده، خو دا نظر بيا ليگانگټ پرريسک نه مني او هغه بيا په دې اند دی، چې ژند د سانسکريت څخه نه ده پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې او دا ثابته وي، چې ژند د سانسکریت لور نه ده؛ بلکې د هغه خورېې بولي. د ریسک دغه نظر تر اوسه پورې چا هم نه دی رد کړی او غوښتنه هم دا ده، چې دغه یادې شوې ژبې، ژند، اوستا او سانسکریت اریایي ژبې دي او د اریانا په شاوخوا کې په یوه پراخه جغرافیایي شاوخوا کې تر نن ورځې پورې په مختلفو اوښتنو او تغیراتو سره موجودي دي. په اوسنۍ پښتو، فارسي، بلوڅي حتا اورمړي ژبه چې اوس ډېر لږ خلک خبرې پرې کوي تاثیرات یې جوت دي. نوموړې ژبې اریایي ژبې دي، چې آریانا ته یې په یو وخت کې اریانا ویجه ویله. استرابو په ۲٤۰ ق کال په خپل جغرافیه کې د اریانا حدود داسې تعین کړي دي. ختیځ سرحد اباسیند، جنوب ته د هند بحر او د غرب خوا ته کرمان او ایران ښیي، خو شمال ته تر باکتریا او د سفیدان ځینې برخې شاملې بولي پر همدغه لیکه د پرتو ولسونو ژبه یوه ګڼي او په خپل ورستي تحلیل کې یادونه کوي، چې اریانا د پارس، مدیا، باختر او د سفیدیان اخېري برخې شاملې بولې. هغه د باختر یا (باکتریا) ژبه چې د اریانا ویجه په نوم په اوستا کې یاده شوې ده، ښایسته ادبي ژبه یې بللې ده. په اریانا ویجه کې اوستایي او سانسکریت ژبو رواج درلوده. اوستا هغه ژبه ده، چې زردشت په هغه خپل کتاب (ژند) لیکلی وه او سانسکریت بیا هغه ژبه ده، چې په هغه باندې ویدي سرودونه لیکل شوي دي او اوس یې په هند کې لیک دود شته، خو په هر صورت سانسکریت او اوستا دوې جلا ژبې دي، چې دي وه بنسټه څخه سرچینه اخلي او خوېندې ورته ویل کېږي، خو د سیمو د لېرې والي پر بنسټ او د هند او پارس د سیمو د جلاوالي په سبب یې صلیقې، فرهنګي او اخلاقي اړیکې سره بېلې شوي او د جلا، جلا ژبو په حیث یې رواج پیدا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، خو په دې کې شک نشته، چې د اریایانو یوه برخه په افغانستان کې اوسېدل او دغه ژبې یې کارولې، ولې د اریانا ویجه په وخت کې سیمه پراخه او سره پاشلې وه، چې سرحدات یې بهرونو او یا هم سیندونو جوړول. د ډېرو ثقه دلایلو او لرغونو اسنادو له مخې پښتانه د دې سیمې اوسېدونکي وو او موجودیت یې په همدغه ځای کې ثابت دی، لکه څنګه چې په دې باب یوناني پوه هیرو ډوټس په ٤٠٠ ق کې د پکتیان یا پکتویس څخه یادونه کوي، هغه لیکي: هغه خلک چې په پکتیا یا پکتیکا کې اوسېږي، هغه غښتلي دلاوره، مېلمه پالونکي او جنګیالي خلک دي، چې د څرمنې لباسونه اغوندي او دا هغه سیمه ده، چې په تاریخ کې په وارو، وارو یاده شوېده، لکه: ارکوزیا څخه چې یادونه شوېده. هیرو ډوټس او استرابوچي لرغوني تاریخ پوهان دي هغوی د ارکوزیا خلک اریایان ګڼي، چې په وروسته کې ځینې مؤرخین ارکوزیا ته د الکوزیانو په*یادونه چې په دغه سیمه کې یوه لویه قبیله ده اشاره کوي او د ارکوزیا خلک د افغانانو په نوم سره یادوي.

*یادونه: (نوموړی نظر د غور وړ دی؛ خو اثبات یې تحقیق غواړي).

همدغسې په شهنامه کې فردوسي هم د ارکوزیا د سیمې خلک افغانان ګڼي او هغه د ډېرو لرغونو زمانو تاریخي یادونه په خپله شهنامه کې کړېده وایي: (( نشسته در این دشت بسیار کوچ از افغان ولاچین کرد)).

همدغسې د اریانا په دغه قلمرو کې چې د هندوکش د غرو د سلسلې څخه پیل بیا تر بولان، هرات او ترال پورې رسېږي، دلته پښتنو ژوند کړی دی او پښتو ژبه یې استعمالوله، بیا هم استرابو یادونه کوي چې: (( د پارس ځینې برخې، د سفیدان، باکتریا او مدیا ځینې برخې هم په پښتنو پورې تړلې وې او پښتو ژبه یې ویله، پښتو یوازې ژبه نه؛ بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه یو غټ اتنیکي قـوم، رواج، اخـلاق، قـوانین او ځـانگړي عنعنـات دي، چې په ټولنیز ډول پښتو او پښتانه ورته وایي. دلته مـوږ د تـاریخي ژبپوهنې له مخې د لغـاتو نـږدې والـی داسـې سره مقایسـه کـوو، چـې د لرغونو ژبو نژدې والی د اوسنیو ژبو سره ښیې، د بېلگې په توگه د فارسي ژبې او سانسکریت د ژبې ترمنځ د یوه مثال اېښـول لکـه څنگـه چـې پـه فارسي کې ماست او په پښتو کې مستې او په سانسکریت کـې بیـا ماسـته راغلـې ده. د دوی تـرمنځ اړیکـې جـوتې دي، د دې معنـا دا ده چـې سانسکریت، اوستا، ژند، فارسي او پښتو د اریایي ژبو لرغونې ژبې یا ژبنې ډولونه دي او یو په بل کې گډې اړیکې سره لري. لغاتونه یې سره مشابه او گرامري اړیکې یو له بله سره لري. ځینې لغاتونه لومړی په پښتو کې را پیدا شوي دي او بیا نورو همسـایه ژبـو تـه ور نقـل شـوي دي، چـې پـه همدغه ډول ویلای شو چې د فارسي او سانسکریت ژبو تـرمنځ د نښـلولو مزی پښتو ژبه ده، چې په دې معنا پښتو د اریایانو ډېره لرغـونې ژبـه ده، چې د سیمې په سطحه یې موږ اړیکې لیدلای شو. هیرو ډوټـس ٤٤٥ ق کې او بیا استرابو په ٢٤٠ ق کې خپل نظر داسـې وړانـدې کـړی دی: (( هغه کسان چې د هندي تهذیب او فارس ترمنځ ژوند کـوي هغـه پښـتانه دي، چې دغه دوه مدنیتونه سره نښلوي او ترمنځ یې اړیکـې سـاتي.)) د دوی ترمنځ د لغاتو نژدې والی، د کیسو او نقلونو نژدې والی، د متلونو او نورو فلکلوریکو اړیکو درلودل د دې معنا لري، چې د پښتنو سیمه د هند او فارس ترمنځ واقع او یو پر بل یې خپلې اغېـزې پرېښـې دي. دا چـې پښتو ژبه په لرغونتوب سره څومره لرغونې ده او د پرمختگ زمانـه یـې د نورو ژبو په پرتله څونده زمانه ورته کښېږدو؟ دا بـه یـوه مغلقـه او پېچلـې موضوع وي، خو د اوسنۍ پښتو او پخوانۍ پښـتو تـرمنځ پېـړی، پېـړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاصله موجوده ده او مـوږ د نومـوړې ژبې(پښـتو) لرغونتـوب پـه نـورو لرغونو ژبـو کـې تـر لاسـه کـولای شـو، یعنـې کـه مـوږ د فـارسي، پښـتو اوسانسکریت ژبې ته د مقایسوي ژبپوهنې له نظره پاملرنه وکړو؛ نو موږ ته به خامخا دا را جوته شي، چې پښتو هم د سانسـکریت، فـارسي ژبـې پـه څېر یوه لرغونې او له میلاد څخه زرونه کلونه په ځـان کـې لـري او هغـه وخت پښتانه وه، پښتون د پښتو سره نه جلاکېـدونکي مفهومونـه دي. کـه موږ وگورو پښتو (پښتون) دلته په گرامري لحاظ مـوږ لاحقـه یـا گرامـري اړیکه گورو (تون) یوه لاحقه ده، چې د پښتو څخه یې پښتون جوړکړی، ولې نوموړې لاحقه په نورو لرغونو ژبو کې نه شته، چې د دې معنا دا ده چې پښتو تر نورو ژبو د غني گرامر درلودونکې غني ژبه وه او د دغه دود پر بنسټ چې پښتو ـ پښتون ـ پښتني نیت دغه درې سره سره تـړلي دي؛ نو که یو څوک چا ته ووایې: چې پښتون نـه یـې؟ نـو د دې معنـا دا ده، چې د دغه ځانگړي قانونیت څخه یې وېستی، چـې دا پـه پښـتنو کـې د ډېرې لرغونې زمانې څخه یو را پاتې شوی شونی دی، چې اوس هم پـه پښـتنو کـې د ښـکنځلو او د یـوه پښـتون د بـې غیرتـه کولـو پـه معنـا استعمالېږي، خو نوموړی دود په پنجابي کلتـور، فـارسي او داسي نـورو کې مفهوم نه لري. د بېلگې په توگه: سندهی نه یـې؟، پنجـابی نـه یـې؟، فارسیوان نه یې؟ او داسې نور... دا یوه ځانگړې خبره ده په پښتنو کـې. په دې ډول پښتانه په پښتو سره قـول ورکـوي او پـر خپـل قـول بیـا ولاړ وي، که چېرې یو څوک د چا سره پښتو وکړي؛ نو هغه بیـا پـر خپلـه ژبـه پښتو باندي ولاړ وي او هغه څه تر سره کوي کوم چې وعده یې کړېـده. پښتانه د نورو قومونو په پرتله جنگیالي او د تشدد خلـک دي او د عـدم تشدد اصول په ځان کې نه شي سا تلای .د لرغونو ژبو په بـاب چـې هـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا څېړنه کړېده، پښتو ژبه یې یوه لرغونې اریایي ژبه گڼلې ده او پر نورو ژبو یې د پښتو ژبې اثرات جوت کړي دي لکه څنگه چې د سانسکریت ژبې ماهر (پانیني) وایي: سانسکریت ژبه ۳۵۰۰ ق کې یوه لرغونې ژبه وه او هغه په ځان کې د گرامر ۳۹۹۶ قاعدې درلودې ، هغه په دې اند وو، چې د لاتینو ژبو سره په مقایسوي لحاظ سانسکریت دومره جوتې اړیکې نه درلودلې لکه د پښتو سره چې یې درلودلې او د پښتو اغېزې پر هندي او سانسکریت باندې خورا ډېرې دي، چې یو علت یې هم دا دی چې پښتو د سانسکریت په څېر یوه لرغونې ژبه ده او په سیمه کې یوه مطرحه ژبه وه، چې موږ د خپلې ادعا د ثبوت لپاره یو لړ بېلگې، اړیکې، اوښتنې یادولای شو او موږ د خپل څېړنیز تحقیق په نتیجه کې دا لاندې څو مثالونه راوړو، سانسکریت پښتو او اردو: پالنا ـ پالنه ـ پورا یا پردی، پورا ـ پوره ـ سالو دووپټه، ماسته ـ ماسته یا مستې، شالی ـ شائی دهان، گودهوم ـ غنم ـ گندم، روج ـ ورځ (روځ) ـ دن، شپا ـ شپه ـ رات، شام ـ ماښام یا مشام ـ شام، ماس ـ میاشت ـ مهینه، بیوتی ـ بوټی بوټی، سنگم ـ څنگ، مرتپ ـ مړ ـ (مرد )، جنی ـ نجلۍ (جنی) لړکي، موژک ـ موږک ـ چوها، میږ ـ مږه ـ بیهړ، نیکهـ ـ نوک ـ ناخن، ماتری ـ مور ـ ما، پتري ـ پلار ـ باپ، کبجا ـ کوږ په ملا کوږ ـ کوبړا، جبها ـ ژبه ـ زبان، جمکه ـ ځمکه ـ زمین او همدغسې بې شماره لغاتونه په سانسکریت کې شته، چې په سر او تن سره پښتو دي او رېښه یې هم په پښتو کې شته. هغه ژبې چې په سانسکریت پورې اړه لري او اوس هم په ډېره پیمانه د سانسکریت ژبې لغاتونه استعمالوي، لکه پنجابي ژبه په هغه کې هم د پښتو ډېر لغاتونه شته، چې د ډېرې لرغونې زمانې راهسې د اریایانو په لرغونو ژبو کې استعمالېږي. اوس هم د پښتو رېښه په یو لړ نورو اریایي ژبو کې شته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پر پنجابي ژبې برسېره يې موږ ځېرلای شو، نوموړې هندي او اروپايي ژبې که ګاونډۍ ژبې دي او که هم په اروپا او نورو هېوادونو کې استعمالېږي، خو د يوه اريايي ژبې په ځېر په يو ډول نه په بل ډول د پښتو سره ټينګې اړيکې لري. چې لاندې بېلګې يې موږ لومړی په پنجابي کې ګورو، پنجابي پښتو: تسي- تاسې، منل - ماننا، مانجهنا - مينځل، بالنا - بلول، بلانا - بلل، سوکه - سوکه، چاټنا - څټل، جګه - ځای، مانړيا - ماڼۍ، تو - ته، کوُن - کوم. هغه علاقې چې اريانا ته نژدې دي هغه که سيند دی، که پنجاب دی او يا هم د هندوستان نورې ژبې دي او يا د فارس ژبې دي، هم يو له بله سره اړيکې لري او هغه الفاظ چې په سيمه ييز لحاظ په سيمې پورې اړه لري، خو بيا په پښتو ژبې ته را داخل شوي دي. په امانت دارۍ سره د هغې ژبې لغات ساتل شوي دي. د بېلګې په توګه د پښتنو سيمه څنګه چې څرګنده ده يخه سيمه ده او هلته ځينې ميوې او پيداوار شته دی چې موږ ته د همسايه د سيمو څخه را استول کېږي، موږ د هغه لپاره نوم نه لرو، خو د بل ځايه څخه مو يې نوم ترلاسه کړی دی. لکه: کيله، ليمو، سنتره، کينو او داسې نور...، خو ځينې بيا هغه ميوې چې په طبعي ډول د پښتنو په سيمه کې پيدا کېږي او په همسايه هېوادو کې نه پيدا کېږي. نو په طبعي ډول هغه هم هغه پښتو نومونه استعمالوي لکه: اينځر، انګور، بادام، پسته، انار، جغندر او نور... په هالنډ کې هم ځينې داسې کلمې شته، چې زموږ د پښتو او دري سره يې ورته والی ډېر څرګندېږي او دا ثابتېږي لکه د لرغونې پښتو او يا دري څخه چې په لږ او ډېر تغير سره يو سلسله لغاتونه دې سيمې ته را داخل شوي وي. په دې کې شک نه شته چې ژبې يو له بله سره ګډې اړيکې او نژدې والی لري، خو بيا هغه ژبې چې د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایلمه او یوه گروپ د ژبو څخه وي، هغه بیا د تاریخ په اوږدو کې هغه خپل قوانین او ځانگړنې په ځان کې ساتي، خو موږ ته د ژبو څېړنه هغه وخت ښه تر کېدای شي، چې په لیکلي توگه اسناد د ژبې قلمي نسخې په لاس راشي؛ نو په همدغه دلیل سره پوهانو د ژبپوهنې مقایسوي پوهه د تاریخ د هغه دورې څخه را پیل کړېده، چې دوی یې په لیکلي ډول اسناد په لاس کي لري. چې د همدغه ژبو د جملې څخه اوستایي، سانسکریت، پښتو او لرغونې پهلوي ژبې دي. په دې کې هم شک نه شته چې تر دغو یا پورته ژبو مخکې به هم نورې ډېرې لرغونې ژبې وې او د پوهولو او را پوهولو وسیلې به وې، نومورې ژبې به هم د هغه ژبو څخه جوړې شوې او منځته راغلې وي، خو هغه زمانه تر میلاد لس زره کاله وړاندې زمانه وه او موږ ته یې شوني په لیکلي توگه نه دي را پاتې شوي، چې تر اوستا او یا هم سانسکریت مخکې به د مور او یا انا ژبه څه نومېده او انسانانو به کومه ژبه استعمالوله او په دې وخت کې به انسانان څه ډول وو؟؟ خو مخکې تر هغه چې نور اریایي قومونه د یخبنده سیمو څخه ځینې خلک او قومونه دلته را وکوچېږي، دلته انسانان موجودوو او د مغارو ژوند به یې تېراوه، چې نومورې موضوع تر ډېره ځایه په انتروفولوژۍ پورې تړلې ده، خو هغه وخت چې لیکنه را منځته شوه او د اوستا او سانسکریت سرودونه د غوایي پر پوستکو ولیکل شو یا ووایو چې لیکنه او تاریخي اسناد موږ ته په لاس راغلل؛ نو تاریخ د سیمې هم له دغه ځایه څخه نیولای شو او موږ خپل ثقه دلایل را وړلای شو، چې دلته ژوند څه ډول وو؛ دوی کومې ژبې ویلې؟ په دې کې شک نشته، چې د انسانانو تاریخ چې پنځه زره کاله پر باختر زمین په نظر کې نیسو، پر همدغه ځمکه چې اوسنی افغانستان دی پښتانه اوسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کاکړ یوه پښتنه قبیله ده

زموږ پښت پوهان او توکم پېژندونکي کاکړ د پښتنو د غرغښت په ټولنیز گروپ پورې یوه اړونده قبیله گڼي. د پښتنو د عنعنوي شجرو د روایاتو له مخې د غرغښت د زوی داني په څلورو زامنو کې کاکړ تر ټولو مشر و چې اولاده یې نن په یوه لویه او پراخه سیمه کې پراته دي۰ د یوه بل روایت پر بنسټ کاکړ د کاک نیکه اولاده ده، چې د هغه د نامه له کبله په کاکړو سره مشهور شوي دي او داسې ویل کېږي، چې کاک نیکه یو زاهد او نېک انسان و، چې د سلطان غیاث الدین غوري د واکمنۍ په وخت کې وفات شو او مزار یې د هرات د جامع جومات تر څېر مه دی۰ په پخوانیو زړو تاریخي متونو کې د کاکړو اصلي او پخوانی ټاټوبی د کاکړستان په نامه یاد شوی دی او تر اوسه پورې د سهیلي پښتونخوا خلک د ژوب او بورې تاریخي ناوې د کاکړستان په نامه یادوي۰ په تاریخ حیات افغاني کې د کاکړو د سیمې په اړوند داسې راغلي دي: " د کاکړو د ملک شمالي خوا ته د غلجیو د سیمې جنوبي برخې پرتې دي، شمال لویدېز ته یې د ارغستان سیمه او نورې سیمې پرتې دي ... ". ارواښاد استاد عبدالرؤف بینوا په خپل مشهور اثر پښتونستان کې د کاکړو سیمې داسې را پېژني:

**۱- د برشور وادي یا دره:** دغه وادي له لوړې چینې نه پیل او د پشین

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سیمې پورې غځېدلې ده، شمال ته یې د توبې سیمه ده، په دغې درې کې د کاکړو د قبیلې د تره غري او سنتیا ښاخونه اوسېږي٠

**۲- دهنه دره:** دهنه وادي د شال د علاقې سره لگېدلې ده، دا علاقه د افغانستان د تولواک اعلیحضرت احمد شاه ابدالي بابا له خوا د قلات والي نصیرخان ته د ده د هغه خدمتونو په بدل کې ورکړل شوې وه، چې ده ورته سر ته رسولي ول٠

**۳- دکنچوغې دره:** دا یوه تنگه دره ده، چې د کنډ د غره لویدېز ته پرته ده، چې ډېرې ښې ځمکې لري او زیاتره ځایونه یې ښه اباد دي٠ د پسرلي په مو سم کې د دغې درې غرنې سیمې شنې او له گلانو نه ډکې وي٠ د کنچوغې د وادي پورتنۍ برخه تنگه، خو کښتنۍ برخې یې په تدریج سره پراخېږي او تقریبا دېرش میله اوږدوالی لري٠ په دې سیمه کې د کاکړو د قبیلې د سنتیا ښاخ استوگنه لري او د دې سیمې خان په ورگس کې اوسېږي٠

**٤- د بوري سیمه:** دا یوه ښه اباده او زرخېزه سیمه ده، یورود هم پکې بهېږي٠ د دغه ځای ځمکې په غرنیو ویالو سره خړوبېږي، په دې سیمه کې د کاکړو د قبیلې دولس ښاخونه اوسېږي، چې په دغو دولسو ښاخونو کې د اري خېلو د ښاخ د خلکو شمېر زیات دی٠ په پورتنیو سیمو سربېره توره مرغه، ترین او توگي یې هم مشهورې درې او سیمې دي٠ پردې برسېره د سهیلي پښتونخوا په لاندنیو سیمو کې هم کاکړ ژوند کوي:

۱- د کوئېټې په هنه، غبرگ، کچلاغ، سره غوړگۍ، نوی کلی او کوټوال کې ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د زیارت په ژرنده، ورچوم، احمدون، گوگۍ، چونگۍ، کڅ، منه، چینه، سنځاوۍ، ریگوړه، سملن، پوئ او بغاوه کې.
۳- د مسلم باغ په کان مهترزی، تور غبرگی او چرمیان کې٠
٤- د کاریزات په خانزی، بلوزی، شرنه،گوال، خانی، زرغون او رود ملازی کې٠
٥- د سیوۍ په کړک، خجک، زردالو او کهوست کې٠
٦- د ژوب په شېرک کلا، مرغه، کیبزۍ، شاهیغالو، پلن کلی، بندات موسی زۍ، قمر دین، لاکا بند، اغبرگی، سورکڅ، مینا بازار، زاروزي، زرد او مسافر پور کې.
۷- د کلای سیف الله په گوال، حیدرزۍ، شرن، جوگیز، تریخ کلی، سیب زي، باران کلی، چارگل برج، تانیشپه، تنگی زیرت، چینه کلی، سنځل بند، باغ او انځرگۍ کې٠
۸- د لورلايي په بوری، پټانکوټ، زنگي واله، پوټی، ټاټۍ، باور، درگۍ شبوزي، میختز، کینگرۍ، راړاشم، ژېړ کاریز، رودلین، خانکۍ، اصغر لون او نوا کلی کې٠
۹- د پشین په سرانان، یاروبرشور او توبه کاکړي گانگلزۍ کې٠
۱۰- د چمن په نورک سلیمانخېل، مئ زي، حبیب زي، عبدالرحمان زي او مجک کې٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کاکړو د قبیلې ښاخونه

د کاکړو قبیله په ډېر زیاتو ښاخونو او څانگو باندې وېشلې شوې ده، خو دلته به د دغې قبیلې د ځینو مشهورو ښاخونو یادونه وکړو:

**۱- سنځرخېل:**

د روایاتو له مخې سنځر نیکه یو تورزن مشر او منلی روحاني شخصیت و، چې د مغولو پر خلاف یې اوږدې مبارزې کړي دي او ویل کېږي، چې د ده مزار د ژوب په کهوسه نومې ځای کې دی، چې ډېر شمېر خلک د ده مزار ته ورځي۰
پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ د سنځرخېلو کاکړو په اړوند په خپل کتاب "پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې" کې داسې لیکي: " د کاکړو نوابي او سرداري له پخوا نه د سنځرخېلو په لاس کې ده او دوی د شمېر له پلوه د کاکړو تر بل هر ټبر زیات دي۰"
دسنځر خېلو ښاخ په لاندنیو څانگو او خېلو نو باندې وېشل شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي زي، عبدالله زي، کب زي، برن خېل، سنخېل، هرمزي، تیمني، عرب خېل، پښیزون، نیسي، کدیزي او دومړان۰

**۲- سنټیا:**

دا هم د کاکړو یو ښاخ دی، د تاریخي روایتونو له مخې دوی د سنټ نیکه اولاده دي۰ د تاریخ په اوږدو کې سنټیا کاکړانو ډېرې تورې وهلي او تاریخي رجال او شخصیتونه یې پیدا کړي دي۰ په کاکړو کې د شمېر له پلوه له سنځرخېلو وروسته د سنټیا کاکړو شمېر زیات دی۰ هیبت خان کاکړ چې د خانجهان لودي له لورې د سمانا حاکم او د مخزن افغاني په تالیف کې لویه برخه لري، د سنټیا کاکړو نه و۰ دوی په هندو باغ، کان مهتر زي، کچلاغ، هنه، سره غوړگۍ، سره خوله، نو حصار، غبرگ غوڅکی، خانوزي، بلوزي، رود ملازي، مستنگ او په ځینو نورو ځایو نو کې مېشته دي۰
د کاکړو د سنټیا ښاخ په لاندنیو خېلونو وېشل شوی دی: پانیزي، مهتر زي، بازیان، سارینگ زي، شموزي، ملا زي او عیسی خېل۰

**۳- تره غري:**

د کاکړو دغه ښاخ د کاکړستان د بوري د تاریخي ناوې په موسی خېل تحصیل کې مېشته دي. په کندهار، زابل، سیوۍ او د غزني په ولایت کې له پخوا نه موسی خېل کاکړ استوگنه لري۰
**٤- کسایي:** کسایي د کاکړو ښاخ دی، چې د شال په دره کې استوگنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، خو احمد شاه ابدالي دا دره د بلوڅو مشر نصیــر خان ته د هغـه د خدمتونو په بدل کې ورکړې وه۰ اوس دغه دره د بلوچستان یـوه برخـه ګڼله کېږي۰ همدا راز په بېلا بېلو تاریخي منابعو او اثارو کې د کـاکړو د قبیلې شجرې کښل شوي دي، چې د ځینو ښاخونو نومونـه یـې دا دي: سام خېل، یونس خېل، موسی زي، تـره غـري، سرګـړي، درپـي خېـل، جلال خېل، ختن خېل، چرمي خېل، زڼغـوزي، سینې، سـوران، عیسی زي، یعقـوب زي، شـادي خېـل، بـاجو خېـل، ایـوب خېـل، منـدوزي، شادزي، انګوزي، فاطمه زي، انـوزي، الیـاس زي، تـاجوزي، مماخېـل، سالار خېل، سودان زي، علي خېل، برات خېل، هرم زي، اتمـان خېـل، کیوي، خضر خېــل، عبدلزي، شازي، زکوزي، مرزي، غـوري زي، مـلي زي، امیزي، ابراهیم زي، محمـد زي، رجـر زي، حسـن خېـل، یـا سین خېل، احمدزي، کمالزي، ابو سعید زي، مـردان زي، ادو خېـل، شـکور خېل، سنټیا، پانیزي، مهترزي، بازیان، سارینګزي، شموزي، عیسی خېل، موســـی خېــــل، ســـنځر خېـــــل، کســـايي، پڼیــــزون او نـــور... ۰

**یادونه:** د کاکړ قبیلې ته مې له دوو اړخونو لنډه ځغلنده کتنـه کړېـده، چې یوه یې د روزمره ژوند او بله یې په دیني اړخ راڅرخي، دا کار مـې په دې خاطر وکړ، چې د لوسـتونکو معلومـات د کـاکړو قبیلـې پـه اړه لا زیات شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کاکړو قبيلې ته لومړۍ ځغلنده کتنه:

په سهيلي پښتونخوا کې د کاکړو د قبيلې خلک په مجموعي توګه د کرنې او مالدارۍ په چارو بوخت دي، خو د دوی د کرنې ځمکې د دوی ورځنۍ اړتياوې نه شي پوره کولای٠ ځينې کاکړ کوچياني ژوند لري او د خپلو رمو او ګلو په درلودلو خپل ژوند پر مخ بيايي٠ ځينې خلک يې د سو داګريو په چارو هم بوخت دي٠ د دوی دودونه او رواجونه کټ مټ د دوی د نورو پښتنو ګاونډيو قبيلو په څېر دي٠ کاکړ زړور، غيرتي او په پښتني ننګ او ناموس ټينګ ولاړ خلک دي ٠ دوی همدا راز مېلمه پالو نکي دي٠ دوی سپين زړي او د زړه او خوله خبره يې يوه وي٠ د کاکړو خلک د اتڼونو او موسيقۍ سره ډېره مينه لري٠ د دوی کاکړۍ غاړې ډېرې مشهورې دي٠ کاکړ په علم او پوهې مين خلک دي له همدې کبله ده، چې د دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبیلــه کــې ســتر عالمــان، پــو هــان، شــاعران، مــورخین او لیکــوالان تېـــــر شـــــــوي او اوس هـــــــــم شـــــــته دي٠

د سهیلي پښتونخوا نـه پرتـه ډېـر شـمېر کـاکړ پـه افغانسـتان، پښـتونخوا، پاکســـتان، هندوســـتان او ایـــران کـــې هـــم اســـتوگنه لـــري.

په افغانستان کې کاکړ د افغا نستان په بـېلا بېلـو ولایتونـو لکـه: کنـدهار، هلمند، زابل، هرات، غور، فراه، بادغیس، فاریاب، سرپـل، مـزار شریـف، کنـدز، تخـار، کابـل، پـروان، ننگرهـار او لغـمان کـې اسـتوگنه لـري.

د کندهار ولایت کاکړ د دغه ولایت په مرکز کندهار، پنجوایي، ارغنداب پـــه شـــمول او ځینـــو نـــورو ولســـو الیـــو کـــې اســـتوگنه لـــري٠

د هـرات ولایـت کـاکړ د دغـه ولایـت پـه مرکـز هـرات او همـدا راز د اوبـــې، پښـــون زرغـــون، کـــرخ، گـــذرې، ادرســـکن او انجیـــل پـــــــه ولســـــــوالیو کـــــــې اســـــــتوگنه لـــــــري٠

د هلمند ولایت کاکړ د دغـه ولایـت پـه مرکـز لشـکرگاه، نـاوې، نـادعلي، مـــــارجې او ځینـــــو نـــــورو ولســـــوالیو کـــــې اوســـــېږي٠

د بادغیس ولایت د مرغاب په ولسوالۍ کې د کـاکړو پـه نامـه یـوه سـیمه شته، چې خلک یې زیاتره د پسونو او رمو له لارې خپله گوزاره کـوي او د کرنــې د لــړو ځمکــو پــه درلودلــو سره خپـل ژونـد مختـه بیـایي٠

د فاریـــاب او سرپـــل ولایتونـــو پـــه بـــېلا بېلـــو ولســـوالیو کـــې هـــم یـــــو شـــــمېر کـــــاکړ اســـــتو گنـــــه لـــــري٠

د کندز ولایت په مرکز د امام صاحب، خان اباد، دشت ارچـي، چـاردره، علي اباد او کلای ذال پـه ولسـوالیو کـې هـم ډېـر شـمېر کـاکړ اسـتوگنه لــري، چــې د ځینــو مشرــانو نومونــه یــې: غــلام محمــد خــان، صـــالح الـــدین خـــان، وکیـــل مـــیرزا او رئـــیس عبـــد الله دي٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تخار ولایت کاکړ د دغه ولایت په مرکز او د خواجه بهاوالدین، درقد او خواجه غار په ولسوالیو کې استوګنه لري.
د ارزګان ولایت کاکړ د دغه ولایت په مرکز او ځینو نورو ولسوالیو او په تیره بیا د چارچینو په سیمه کې استوګنه لري.
د زابل ولایت کاکړ د دغه ولایت په ځینو ولسوالیو او له هغې جملې نه د شهر صفا او ارغنداب په ولسوالیو او د خاک افغان په سیمه کې استوګنه لري.
د پروان ولایت کاکړ د دغه ولایت د غوربند په ولسوالۍ کې د خیشکو د قبیلې په ګاونډ کې استوګنه لري.
د غور ولایت کاکړ د دغه ولایت په مرکز او ځینو نورو ولسوالیو کې استوګنه لري.
د کابل ولایت د سروبي په ولسوالۍ کې هم یو شمېر کاکړ پښتانه استوګنه لري.
د لغمان ولایت کاکړ د دغه ولایت په مرکز د مهترلام د ښار پورې اړوند د دیوې او عمرزیو په کلیو کې استوګنه لري، چې د افغا نستان ستر مورخ پوهاند محمد حسن کاکړ د همدې سیمې کاکړ پښتون دی.
د ننګرهار ولایت کاکړ د دغه ولایت د سره رود، بهسودو او چپرهار په ولسوالیو کې استوګنه لري، چې د چپرهار کاکړو ته خلک په درنه سترګه ګوري او د ستانه وو په نامه د دوی درناوی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د هندوستان کاکړ:**

په پښتنو کې به یوه داسې لویه او کوچنۍ قبیله نه وي، چې د هندوستان په بېلا بېلو سیمو کې دې شتون ونه لري. د دې له کبله چې پښتانه د لرغونو زمانو نه د سوداګریزو چارو د تر سره کولو او نورو خواریو او مزدوریو لپاره دې هېواد ته تلل او له بلې خوا هند د افغا نستان په ګاونډ کې یو هېواد و، چې موږ تل ور سره ښې اړیکې درلودې، له بله پلوه د تاریخ په اوږدو کې ډېرو پښتنو واکمنانو پر هندوستان واکمني کړېده، چې ښې بېلګې یې غلجیان (خلجیان)، لودیان او سوریان دي٠ د دغو واکمنیو په وخت کې ډېر پښتانه د منصبونو او د پوځي دندو د تر لاسه کولو لپاره دې هېواد ته تللي دي چې ځینو یې نوموړو پښتني واکمنانو ته د چوپړ په بدل کې ډېر جاګیرونه هم تر لا سه کړي دي٠
د پیرنګیانو نه د هندوستان د خپلواکۍ تر وخته یعنې د ۱۹٤۷ زېږدېز کاله پورې یوازې په هندوستان کې ٥٠ پښتني ریاستونو شتون درلود، چې د دغو ریاستونو مشري به یوه پښتون نواب ته ور په غاړه وه، چې د دغو ریاستونو په لړ کې کولای شو، چې د بهوپال، ټونک، فرخ اباد، رامپور، ملیر، کوټلې او ځینو نورو نومونه واخلو٠
کاکړ هم د نورو پښتنو په څېر د هندوستان په بېلا بېلو برخو کې مېشته دي، لکه د تاریخ حیات افغاني په قول چې: له ننه ١٤٦ کلونه وړاندې لیکل شوی دی، د هندوستان د هاریانا د ایالت دره تک د ضلعې په کوهانه نومې سیمه کې د کاکړو د اولادې د علي خېلو له ښاخ نه د ابو سعیدزي څانګه او نور کاکړ استوګنه لري ویل کېږي، چې په هند کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون واکمن سلطان ابراهیم لودي د واکمنۍ په وخت کې د عبدالمالي یا عبدالعلي ابو سعیدزي کاکړ د سهیلي پښتونخوا د بوري له سیمې نه له خپلو دریوو وروڼو سره هندوستان ته ولاړ او په کوهانه کې مېشته شو۰ د سلطان ابراهیم لودي تر مړینې وروسته نوموړی بېرته خپل اصلي ټاټوبي بوري ته ستون شو، خو د هغه دوه نور وروڼه له نورو کاکړو سره هلته پاتې او همغلته مېشته شول، چې په هغه وخت کې د دوی شمېر ۳۰۰ تنه ښودل شوي دي. همدا راز د تاریخ حیات افغاني د لیکنې پر بنسټ د هند د اتهر پرادیش د ایالت د بلند شهر په ولسوالۍ کې هم د پښتنو ۹٦ سیمې شته، چې په هغو کې ۱۲ سیمې یې زیاتې مشهورې دي او هلته هم ګڼ شمېر پښتانه کاکړ اوسي، په تېره بیا د دوی زیات شمېر په خورجه نومې سیمه کې هم مېشته دي، چې شمېر یې د٤۰۰۰ کسانو په شا او خوا کې اټکل شوی دی. همدا راز د هند په بینګال، دکن او د راجستان د مرکز په جیپور کې هم کاکړ استوګنه لري۰

په دې وروستیو کې د هندوستان د جیپور په ښار کې د هندي پښتنو له خوا د "کاکړي ګلدان" په نامه یوه ټولنه هم رامنځ ته شوه، چې موخه یې په دغه سیمه کې د پښتو ژبې او د پښتني دود او دستور ژوندي ساتل او وده ده. د دې ټولنې بنسټ اېښودونکې شیلپي بترا ده، چې ځان پښتنه کاکړه بولي او د پښتو ژبې او د کاکړو پښتنو د دود او کلچر را ژوندي کول غواړي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کاکړو قبیلې ته دویمه ځغلنده کتنه:

کاکړ د پښتنو په قبائیلو کې یوه لویه قبیله ده، که څه هم دا وخت د دې قبیلې اصلي مسکن د ژوب، لورالائې، کوئټې زیارت علاقه ده، لیکن دا قبیله تر دغه علاقو پورې محدوده نه ده؛ بلکې په کندهار، کوئټه، پشین او ضلع سبوئ کې هم په ډېر زیات تعداد کې پراته دي. د دې قبیلې په باره کې چې تر اوسه پورې څومره پلټنې شوي دي له هغو څخه صرف دومره معلومه شوې ده چې د دې قبیلې جد اعلی کاک نیکه نومېده. چې د سلطان غیاث الدین غوري په زمانه پنځه سوه اته اتیا (588) هجري کې په هرات کې یادوي. تر کومه ځایه چې د دې قبیلې د زیاتوالي خبره ده؛ نو زړه دا نه مني، چې کاک یا کاکړ نیکه به د دې قبیلې جد اعلی وو. البته دا زړه مني چې کاکړ نیکه به په دې قبیله کې یو ستر انسان وو او د دې قبیلې یو نومیالی روحاني پېشوا وو. د پښتنو په پخوانیو تاریخونو کې چې تر اوسه پورې منځ ته راغلي دي، د ځینو لویو قبائیلو ذکر نشته. تر اوسه پورې چې کوم جدید تحقیقات شوي دي، له هغو څخه دومره معلومېږي، چې دا قبیله تر کاک نیکه هم قریباً یو نیم زر کاله له مخه د پښتونخوا په دې سیمه کې چې د ژوب په نامه یادېږي موجوده وه. ولې چې له تاریخي شواهدو دا ثابته ده، چې په ژوب کې کومه قبیله د پښتنو د یو ستر قام په حېثیت ژوندون کوي. قریباً دوه نیم زره کاله پخوا هم په دې سیمه کې اوسېده او د دوی تهذیب او ثقافت له معمولي تغیر او تبدل سره اوس هم په هغه حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. د دې خبرې دلالت د دوی هغه رسم و رواج هم کوي کوم، چې په قدیم آریایي رسوماتو او روایاتو کې رنگ دې. ځکه چې ځینو مؤرخینو د دوی جد اعلی کاک نیکه بللی دی. له دې کبله؛ نو که مونږ په دې بناء دا خبره رد کړو، چې که کاک نیکه د اسلامي دور سړی وو او دا قبیله د اسلامي دور پر له پسې پیداوار ده؛ نو بیا پخواني روایات یا د زړې زمانې غیر اسلامي رسمونه په دوی کې له کومه راغله، بې ځایه به نه وي د زړې زمانې رسمونه په هغه چا کې پاتې کېږي، چې د هغو نسلي سلسله له زړې زمانې سره تړون لري. د کاکړستان په باره کې چې د کومو قدیمو قبائیلو ذکر په تاریخ کې څه نه څه پیدا کېږي، له هغو څخه دا ښکاره کېږي، چې کاکړ قبیله په حېث د یوې لوې قبیلې دوه نیم زره کاله له مخه په داسې حال کې موجوده وه، چې ځینې ښاخونه یې هم درلود. د یورپ د اولني وخت مؤرخینو چې کوم تحقیقات کړي دي د هغو له رویه دا ثابته ده، چې د دې قبیلې یو ښاخ چې پنې نومېږي او په سانسکریت کې د پانیني په نامه یاده شوی دی، په درې نیم سوه قبل مسیح کې موجود وو او د دې قبیلې یو عالم چې په دغه نامه د افغانستان په پخواني تاریخ کې یاد شوی دې، د آریایي قبائیلو د علماو مشر وو، د اباسین په غاړه یې د ده مسکن ښودلی دی او د تاریخي حوالو په واسطه یې دا لیکلي دي، چې په هغه زمانه کې د آریانا په خاوره کې کومه ژبه ویل کېده، د هغې په علمي او تحریري ژبه جوړولو کې دې عالم ډېر لوی لاس درلود او د سانسکریت نوم په دغه علمي ژبه هم ده ایښې وو. یو مشهور پښتون محقق مولانا محمد امین خوگیانۍ په خپل مضمون (افغان) کې چې د پېښور په رساله پښتو کې چاپ شوی وو، لیکلي دي: چې دغه پنړي قبیله د کاکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو ښاخ چې بابي نومېږي، یوه څانګه وه. یـو بـل لـوی محقیـق مولانـا محمد اسحاق شهید چې په سانسکریت کې یې ډېر ښه علم درلود ویـلي دي چې: د آریانا ولسي ژبـې علمـي کولـو لپـاره علـماء را غونـډ شـول، نامانوسه او بې خونده الفاظ یې ځینیې وویستل او د سانسکریت پـه نامـه یې یـوه علمـي ژبـه جـوړه کـړه. لـه دې څخـه ثابتـه شـوه چـې دا ژبـه (سانسکریت) په هغه زمانه کې جوړه شوېده او دغه قبیله پنړي چـې نـن هم په کاکړو کې وجود لري، په هغه زمانه کې هم وه. علاوه له دې مـونږ ته د څلورو پخوانیو وید او هندي راګو هم دا معلـومېږي، چـې د هغـې زمانې سرودونه په هماغه طـرز دي، پـه کـوم طـرز چـې د کـاکړی غـاړو لنډېې لنډېې مصـرې له اووه څخه مترانـه سېلابه جـوړې دي او دغـومره مختصر سرونه یې درلود... کېدای شې چـې دا سرونـه د ویـد او د لنـډېو مصرعو مطابق جوړ شوي وي. په هر حال دا یو جلا بحث دی. غرض دا دی چې دغه شعري ادب د پښتنو په نورو قبائېلو کې په دې رنـګ او پـه دې وزن وجود نه لري. که چېرې د پښتنو په یو بله پخوانۍ قبیله کې دا ډول ادب وای؛ نو دا خبره پورې تړل کېدای شوای، چې کاکړو له هغو څخه اخیستی دی. هغه هم په داسې صورت ممکن وه، چـې هغـه قبیلـه یـا خـو بېخـي ور څېرمـه وای یـا یـې ګـډ ژونـد ور سره کـولای. موجوده تحریري تحقیقات دا څرګندوي چې د مسیح تر پیـداېښ قریبـاً اته نه سوه کاله له مخه چې کومه قبیله ژوب ته راغلـې وه، هغـه کاسـیان وو. لاکن مونږ دا ثبوت ته نشو رسولای چې دا قبیله چې دلته راغله، نـو دوی له ځان سره دغه منفرد شعري ادب هم راوور یـا دوی پـه دې ادب پوهېدل ځکه چې کاسیان ټول ژوب ته نه ولاړ؛ بلکې یوه برخـه یـې لـه کـرد قبیلـې سره د شـال او بـولان پـه نـاوې کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شوه او بله برخه يې په ژوب کې مېشته شوه او درېيمه برخه يې د خېبر په لار پېښور او بيا کشمير ته ورسېده. په خېبر کې د دوی يو ښاخ د شينوارو په نامه اوس هم موجود دی او په تاکال پېښور کې د اربابانو په نوم تر اوسه پورې يادېږي، لاکن دغه شعري ادب نه خو د کوئټې په کاسيانو کې وجود لري او نه په شينوارو کې او نه يې اثر د پېښور په سيمه کې ښکاره کېږي. له دې څخه ثابته شوه، چې دغه شعري ادب چې يوازې د کاکړ قبيلې ډېره لويه ادبي سرمايه ده، له بل چا نه وه اخيستل شوی؛ بلکې د دوی خپل دی، ځکه چې دا ادب له ډېرې زمانې څخه د شعري صنعت له لحاظه پوخ او مکمل را روان دی؛ نو د دې لپاره مونږ کمه موده کې دومره لوړتيا پيدا کولای شو پس؛ نو چې د يوې قبيلې شعري ادب دومره قديم شي د هغه قبيلې په قدامت باندې دا تر ټولو روښانه دليل دی.

له ادب علاوه د يوې قبيلې يا نسل په قدامت کې رسم، رواج او روايات هم ډېر لاس لري. په کاکړ قبيله کې اوس هم د ډېر پخواني آريايي تهذيب او رواياتو پالنه کېږي. مثلاً د هلکانو په غوږ کې لشتئ اچول، د نېک شګون لپاره په پښه کې کړه اچول، د هلکانو شکريې پرېښودل، د سندور استعمال، د سواستيکا نښان او داسې نور... ډېر رسمونه شته، چې له ډېر پخواني مجوسي او بودايي مذاهبو سره تعلق لري.

په ژوب کې فورټ سنډېمن ته نږدې د آتش پرستانو د زمانې آثار اوس هم موجود دي. البته د بوتانو آثار نشته. په دوکئ کې په يو غره کې د قديمې زمانې په کاڼو باندې ليکلي داسې نښانونه موجود دي، چې له هغه څخه په دې سيمه کې د يو قديم مذهب وجود ثابتېږي.

د کاکړو په باره کې که څه هم پوره معلومات لا تر اوسه پورې لاس ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي راغلي، لاکن په دې سر بېره مونږ د لوړو دلایلو په بناء دا ویلای شو، چې دا قبیله لکه څرنګه چې ځینو تاریخ پوهانو د اته نهه سوه کالو بللې ده، دغسې ده. په خپله د ژوب له نامې څخه څرګنده ده چې دا نوم دې قبیلــې قریبــاً څلــور زره کالــه پخــوا لــه ځــان سره راوړی دی. دا نوم په تاریخ کې صرف یو ځای اوړېدل کېږي او هغه څلور زره کالـه له مخه د زاب په نامه په هغه وخت کې یـاد شـوی دی، چـې د آسـوري قام جنګونه د زاګروس د علاقې چې د عراق او ایران په منځ کـې ده لـه خلقو سره کېدل او آسوریانو د خپل حکومـت آخېـري مشـرقي سرحـد زاب بللې وو، چې سوکه سوکه د لب او لهجې له تغېر سره په ژوب بـدل شو. دلته باید دا څرګنده کړو، چې د آسوریانو مذهب آتش پرسـتي وه. له دې امله ممکن ده، چې د فورټ سنډېمن په خـوا کـې آتـش خانـه د هغې زمانې له آثارو څخه وي او دغه شان د سواستیکا نښان هم پـه هغـه زمانه کې راغلی وي، ځکه چې دا نښان د هغو قومو هم مذهبي نښان وو. د دوه درې سوه کالو په تاریخ مثلاً احبات افغاني، صولت افغاني، مخزن افغاني، خورشید جهان او داسې نورو... د تاریخ په کتابو کې چې قریب قریب یو له بله ماخوز دي او صرف په اولسي روایاتو یې اکتفـا کـړې ده. لیکلي دي چې: د قیس عبدالرشید درې زامن وو. د یوه نـوم سـړبن، د بل نوم غورغشت یا غرغښت او د دریېم نوم بېټني یا بېټ وو. دوی وایي: چې کاکړ د غرغشت اولاده ده، یعنـې کـاکړ ابـن واني ابـن غورغشـت. د غورغشــت زمانــه 388 هجــري ټاکــل کېــږي او د قــیس زمانــه 300 هجري. د غورغشـت نامـه لیکـوال دوسـت محمـد کـاکړ او شـېر محمـد ګنډاپور د کاکړ نیکه زیارت لپاره هرات ته تللي وو او دا ثابته ده چـې د کــــاکړ نیکــــه زیــــارت پــــه هــــرات کــــې موجــــود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کاک نیکه په اولاد کې مشهوره قبیله سنزر خېل او سنټیا دي. سنزر خېل د سنزر نیکه اولاد او سنټیا د سنټ نیکه دي. د کاکړو سترې سرداري هم دې دوه قبیلو کې تقسیم دي. په دغه دواړو قبیلو کې ډېر پیاوړي سرداران تېر شوي دي او دوی د خپلې خاورې او اسلام لپاره په بېلو بېلو وختونو کې ډېرې کارنامې کړي دي او له مسلمان پاچاهانو سره یې د هندوستان په جنګو کې لویه برخه اخیستې ده، مثلاً: ملک یار غرشین چې له شهاب الدین غوري سره یې د ملتان په جنګ کې کومه مېړانه ښکاره کړېده، هغه په تاریخ کې ښکاره ده. بیا له احمد شاه ابدالي سره چې بکیر نیکه کومه ملګرتیا کړې ده او د هغه په وجه جوګیزئ خاندان ته احمد شاه ابدالي د ژوب د علاقې سرداري ورکړه. د هغه ثبوت په تاریخ کې موجود دی. همدغه رنګه چې د ډیلي پاچا فرخ سمېر سره پانیزئ کاکړانو کومه بهادري ښکاره کړه، د هغه په عوض کې یې دوی ته د خپلې علاقې سرداري ورکړه. په 1786م کې چې انګرېزانو دې سیمې ته هم د اقتدار لاسونه راوغځول؛ نو کاکړ قام د خپلې خاورې د حفاظت او آزادۍ لپاره له دوی سره کلک جنګونه وکړل. په دې جنګونو کې سردار عبدالله پانیزي، سردار فېض محمد خان پانیزي، سردار شاه جهان خان جوګیزي، سردار دوست محمد خان جوګیزي او سردار بنګل خان جوګیزي انګرېزانو ته ډېر تاوانونه ورسول. آخېر په 1888م کې چې په قبائیلو کې بې اتفاقي راغله او انګرېزانو هغه زړه هندوستانۍ پالیسي-دلته هم اختیار کړه؛ نو دوی له انګرېزانو سره سوله وکړه او انګرېزانو سردار دوست محمد خان جوګیزی چې د موجوده نواب محمد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکـــــــــــه وو د کـــــــــــاکړو نـــــــــــواب تسلیم کړ.

د کاکړو وطن ژوب په باره کې مشهوره ده؛ چې د ژوب خاوره د سمندر د ماهي په شا واچوې؛ نو ماهي په سمندر کې سر را پورته کړي چې اوف!!! دا د ژوب خاوره ده. د کاکړو وطن دوستۍ او له خپلې خاورې سره د ډېرې مینې یو ثبوت دا دی چې د دوی وړې وړې نجونې او پېغلې هم د خپلې خاورې ستاینه په خپلو غاړو کې کوي، څکه خو یوې کاکړې پېغلې دا غاړه چې:

د ســـــنزر نیکـــــــــه پــــــــــه مځـــــــــکه
گـــــــاډۍ مـــــــــــه پرېـــــــــږده لالــــــــــکه
دا غـــــــــــــر زمـــــــــــــونږ د نیکـــــــــــانو
اوس پـــــــر نـــــاچ گـــــــر جـــــــوړ کـــــــۍ مېمانـــــــو

د زړه له سوزه هغه وخت ویلې وه، چې انگرېزانو په دې سیمه کې رېلوایي لائن جوړاوه، لکه څرنگه چې کاکړان د خپلې خاورې او ازادۍ په پالنه کې ننگیالي دي، دغسې دا قام د ادب په مېدان کې هم په پښتونخوا کې د لوړ نوم خاوند دی. اوس هم په دې قام کې شاعران، ادیبان، تاریخ دانان او عالمان په دومره تعداد کې موجود دي، چې شاېد د پښتونخوا په بله قبیله کې به نه وي. عموما په ټول افغانستان کې کاکړان اوسېږي، په ځینو ځایونو کې په پښتو او په ځینو ولایتونو کې په دري خبرې کوي، چې د دري ژبې بېلگې یې په هرات، بادغیس او غور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایتونـو کـې روښـانه لیـدل کیـږي، پـه دې درې ولایتونـو کـې اکـثر تایمني کاکړ اوسېږي.

په افغانستان او هندوستان کې مو د کاکړو سیمې په لومړۍ ځغلنده کتنه کې در وپېژندې، اوس په پښتونخوا او د نړي پـه نـورو هېوادونـو کـې د کاکړو سیمې در پېژنم.

## کاکړ په پښتونخوا کې:

**۱- کوټه:**

کوټه، هنه، غبرگ، کچلاغ، سره غوړگۍ، نوی کلی او کوټوال.

**۲- زیارت:**

زیارت، ژرنده، ورچوم، احمـدون، گـوگۍ، چـونگۍ، کـڅ، منـه، چینـه، سنځاوی، ریگوړه، سملن، پوئ، بغاوه.

**۳- مسلمباغ:**

مسلم باغ، کان میترزی، تور غبرگی او چرمیان.

**۴- کاریزات:**

کاریزات، خانزی، بلوزی، شرنه، گوال، خانی، زرغون او رود ملازی.

**۵- سیوی:**

سیوی، کړک، خجک، زردالو او کهوست.

**٦- ژوب:**

ژوب یا ږوب، شېرک کلا، مرغه، کیبـزي، شـاهیغالو، پلـن کلـی، بنـدات، موسی زي، قمردین، لاکا بند، اغبرگی، سورکڅ، مینا بـازار، زارو زي، زرد او مسافر پور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷- کلا سیف الله:**

کلا سیف الله، گوال، حیدرزي، شرن، جوگیزي، تریخ کلی، سیب زي، باران کلی، چارگل برج، تانیشپه، تنگی، زیرت، کلی چینه، سنځل بند، باغ، انځرگۍ.

**۸- لورالای «بوری»:**

بوری، پټان کوټ، زنگي واله، پوټی، ټاټۍ، باور، درگی، شبوزي، میختز، کینگري، راړاشم، ژېړ کاریز، رودلین، خانکی، اصغر لون او نوا کلی.

**۹- پشین:**

پشین، سرانان، یاروبرشور، توبه، کاکړي او گانگلزي.

**۱۰- چمن:**

چمن، نورک، سلیمانخېل، مئ زي، حبیب زي، عبدالرحمان زي او مجک.

په پنجاب کې هم ډېر زیات کاکړ پراته دي نور په پېښور، مستونگ، اصفهان او سیستان کې هم په گڼ شمېر کاکړ پراته دي. کاکړ په برما، سریلانکا، افریقا، امریکا او نورو ... ډېرو هېوادونو کې هم شته، خو دا نه شو ویلای، چې هغه له کاکړو سره څه اړیکې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کاکړو د قبیلې مشهور شخصیتونه

۱- مولوي حبیب الله مشهور په محقق کندهاري٠

۲- د پښتو ژبې ستر لیکوال، محقق او نوماند مؤرخ ارواښاد عـــــلامه عبدالحی حبیبي، چې په سلگونو کتابونه او په زرگونو علمي مقالې یې لیکلي دي ٠

۳ - د پښو ژبې شاعر پیر محمد کا کړ٠

٤- د پښتو ژبې شاعر دوست محمد کاکړ٠

۵- د پښتو ژبې شاعر شمس الدین کاکړ٠

٦- د پښتو بوستان منظومه شاعره زرغونه کاکړ٠

۷- د افغانستان وتلی مؤرخ پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ٠

۸- ارواښاد پوهاند عبدالغفار کاکړ٠

۹- عبدالعلي اخندزاده کاکړ ٠

۱۰- د هېواد د خپلواکۍ د لارې ملي مبارز حاجي محمد ایوب کاکړ٠

۱۱- شهید ملک احد کاکړ، چې په ۱۸۹۳ زېږدیز کال کې په پښین کې د انگرېزانو له خوا شهید شو٠

۱۲- میا عبدالحکیم کاکړ مشهور په نانا صاحب٠

۱۳- سخي خان احمد خان د سهیلي پښتونخوا د کچلاغ د سیمې پانیزی کاکړ٠

۱۴- د سهیلي پښتونخوا نامتو لیکوال او مؤرخ پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ٠

۱۵- د پښتو ژبې لیکوال خانزمان کاکړ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦- د پښتو ژبې لیکوال محمد فاروق خان کاکړ٠

۱۷- شهید مولوي عبدالغفار بریالی کاکړ٠

۱۸- عبدالسلام جوگیزی٠

۱۹- ډاکټر کرام الدین کاکړ٠

۲۰- خان محمد سرور خان کاکړ٠

۲۱- د میرویس خان هوتکي د پوځ مشر یونس خان کاکړ٠

۲۲- ملک حاجي نور علي کاکړ٠

۲۳- ملا دادالله کاکړ٠

۲٤- ډاکټر فیض الله کاکړ٠

۲۵- ملا بورجان کاکړ٠

۲٦- سردار شاه وزیر کاکړ٠

۲۷- ایډوکیټ عزیزالله خان کاکړ مشهور په عزیز ماما٠

۲۸- عبدالغني خان غنو کاکړ پانیزی٠

۲۹- شهېد مولوي محمد ابراهیم همیم کاکړ.

۳۰- ملا محمد رباني٠

۳۱- د افغانستان د پوځ پخوانی جنرال هاشم خان کاکړ٠

۳۲- د پیرنگیانو پر خلاف مبارز شهید شېرجان کاکړ، چې په ژوب کې اعدام شوی و٠

۳۳- سردار شېرک کاکړ٠

۳٤- ډاکټر صادق فطرت ناشناس٠

۳۵- جنرال عبدالوحید کاکړ او داسې ډېری نور... .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میا عبدالحکیم رحمه الله

میا عبدالحکیم رحمه الله د میا سکندر شاه رحمه الله زوی، په خټه کاکړ، چې په کال ۱۰۷۰ لمریز کې زیږېدلی، زیږېدلو ځای یې د افغانستان کندهار ولایت دی. لومړنۍ زده کړې یې د کاکړو دکورنۍ له دیني علماء وو څخه کړي او بیا یې ننګرهار او پېښور ته سفرونه کړي دي. کله چې میا صاحب سید لعل محمد ننګرهاري ولید، د استعداد او کفایت له نظره یې هغه ته د لازیاتو زده کړو لپاره پېښور ته د سفر لارښوونه وکړه، د هغه د لارښوونې سره سم پېښور ته ولاړ او هلته یې د میا عبدالغفور صاحب څخه دیني زده کړې: ( صرف، نحوه، اصول تفسیر، اصول حدیث، اصول فقه، علم تفسیر، علم حدیث، علم عقاید، علم فقه او علم سیرت) پیل کړي، چې په تاریخ کې د خپلې زماني د ښو علماوو په قطار کې وشمېرل شو. د علم او عرفان د نشر اشاعت تدریس او ترویج په نیت بېرته کندهار ته راغی. په کندهار کې یې د علم او تدریس نه علاوه په دعوت او تبلیغ پیل وکړ او د خلکو د ډېر محبوبیت سره مخ شو. په کال ۱۱۲۱ لمریز کې چې د مېرویس نیکه پادشاهي وه، کندهار یې د علم مرکز وګرځاوه او خپله مېرویس خان بابا د میا صاحب عبدالحکیم ډېر عقیدتمند وو. تر هغه وروسته په کال ۱۱۴۲ لمریز کې د افغانستان پادشاه شاه حسین هوتک شو.

د شاه حسین هوتک په دور کې د میا صاحب عبدالحکیم رحمه الله د تعلیم، تدریس او دعوت د لارې منتقدین په حېرانېدونکي صورت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات شول، د لر او بر څخه به ورته ډېر خلک راتلل، دغه حالت شاه حسین هوتک ونه شو زغملای او فرمان یې صادر کړ، تر څو میاصاحب عبدالحکیم رحمه الله کندهار ترک کړي. میا صاحب مجبور شو او هجرت یې وکړ. دا، د ده اولاده او ټول زده کوونکي یې د لوی افغانستان بېلا بېلو برخو ته کډن شول، لکه: غزني، کابل، پروان، ننګرهار، بلوچستان او خېبر پښتونخوا ته ولاړل. شاه حسین هوتک ښه ورځ ونه لیده او د نادر افشار لخوا د کورنۍ له غړو سره ووژل شو. یو شاعر وایي:

میا صاحب یې وویست شاه حسین له کندهاره
غرقه یې پادشاهي شو د ولیانو له ګفتاره.

عبدالرحمن بابا فرمایي:

په هر چا چې د غضب لښده کړي کشه
خطا نه درومي ګوزار د درویشانو.

ملا میر محمد ولد ملا دوست محمد ولد ملا محمد عثمان ولد ملا لعل محمد ولد ملا عبدالستار، چې په همدې ترتیب سره یې د نسب لړۍ د میا عبدالحکیم او له هغه نه وروسته دا لړۍ د غرغښت بابا، بیا کاک نیکه او ان تر حضرت قیس عبدالرشید رحمه الله پورې رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملا دوست محمد رحمه الله

ملا دوست محمد یو مخور دیني او علمي شخصیت و، چې اصلي ټاټوبی یې کندهار او له کندهاره بیا ننګرهار ته را کډه‌ن او د ننګرهار د بهسودو په ولسوالۍ کې مېشت شوی دی. نوموړي دوه زامن درلودل، یو یې ملا میر محمد رحمه الله او بل یې ملا نور محمد رحمه الله نومېده.

## ۱- ملا میر محمد رحمه الله

ملا میر محمد رحمه الله یو لوی دیني شخصیت وو، چې اوه زامن درلودل:

۱- مولوي محمد جان
۲- مولوي محمد یعقوب
۳- مولوي محمد سالم
۴- ملا ظفر ګل
۵- مولوي محمد جعفر
٦- ملا محمد اکبر
۷- ملا دوست محمد.

## ۲- ملا نور محمد رحمه الله

ملا نور محمد رحمه الله هم یوه لوی دیني عالم و، چې یو زوی یې د ملا راز محمد په نوم درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د ملا میر محمد لومړی زوی مولوي محمد جان

مولوي محمد جان هم یو دیني عالم وو، نوموړي دوه زامن درلودل، چې مشر زوی یې عبدالرحمن او دویم یې عبدالمالک وو.

## د مولوي محمد جان د مشر زوی عبدالرحمن د زامنو پېژندنه:

عبدالرحمن درې زامن درلودل، چې عبارت دي له:

۱- سیدالرحمن، ۲- فضل الرحمن، ۳- سیف الرحمن.

## د عبدالرحمن د لومړي زوی سید الرحمن پېژنده:

د ډاکټر سیدالرحمن د زېږېدلو ځای د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، ډېر متدینه او همتناکه انسان وو، نوموړی د طبي ببړنیو زده کړو انستیتوت څخه فارغ شوی وو، چې د جهاد په دوران کې یې مجاهدینو او عامو وگړو ته پوره پوره خدمتونه کړي دي.

ډاکټر سید الرحمن دوه زامن درلودل:

۱- شمس الرحمن، ۲- محمد قسیم.

## د ډاکټر سید الرحمن د مشر زوی شمس الرحمن پېژندنه:

شمس الرحمن د سید الرحمن زوی، د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. ښوونځی یې تر دولسم ټولگي لوستی وو. نوموړي په کال ۱۳۹۳ لمریز د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ستر غازي امان الله خان په لېسه کې د ښوونکي په حیث دنده مخته وړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډاکټر سید الرحمن د دویم زوی محمد قسیم پېژندنه:

محمد قسیم د سید الرحمن دویم زوی، د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. ښوونځی یې تر لوستی لوستی وو. نوموړي په کال ۱۳۹۳ لمریز د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په محمدي صاحبزاده لیسه کې د ښوونکي په حیث دنده مخته وړله.

## د عبدالرحمن د دویم زوی فضل الرحمن پېژنده:

فضل الرحمن د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، ډېر متقي، دینداره او یو با احساسه انسان وو، نوموړي درې زامن درلودل، چې:

۱- محمد جان، ۲- محمد نعمان، ۳- محمود.

## د فضل الرحمن د لومړي زوی محمد جان پېژنده:

محمد جان یو متدینه او د ښو اخلاقو څښتن وو، د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړي منځنۍ طبي زده کړې کړې وې.

## د فضل الرحمن د دویم زوی محمد نعمان پېژنده:

محمد نعمان د فضل الرحمن زوی، چې په کال ۱۳٦۱ لمریز کې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې زېږېدلی دی. د وخت د ستونزو له امله پېښور ته مهاجر او لومړنۍ او منځنۍ زده کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې هلته سرته رسولي دي، لیسانس دوره یې د ننګرهار ولایت د خراسان له پوهنتونه د اقتصاد پوهنځي په برخه کې بشپړه کړې ده، نوموړی اوسمهال په خراسان پوهنتون کې د انګلیسي ژبې استاد دی.

## د فضل الرحمن د درېیم زوی محمود پېژنده:

محمود چې د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، ما ته د لاسته راغلو معلوماتو په اساس نوموړی د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي فارغ شوی دی.

## د عبدالرحمن د درېیم زوی سیف الرحمن پېژنده:

سیف الرحمن چې د عبدالرحمن درېیم زوی وو، د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، ما ته د لاسته راغلو معلوماتو په اساس نوموړی یو ښه ښوونکی وو، د بچیانو د روزنې ترڅنګ یې بزګري هم کوله. سیف الرحمن هېڅ اولاد نه درلود.

## د مولوي محمد جان د کشر زوی عبدالمالک د زامنو پېژندنه:

عبدالمالک دوه زامن درلودل، چې یو یې عبدالرازق او بل یې عبدالخالق دی.

## د عبدالمالک د مشر زوی عبدالرازق پېژنده:

عبدالرازق یو متدینه او د ښو اخلاقو څښتن وو. د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړي په دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د مامور په حیث کار کولو او په ټول چم کې یې په مامور صاحب شهرت درلود. نوموړي پنځه زامن درلودل، چې مخکې به یې انشاءالله هر یو در وپېژنم.

## د عبدالمالک د کشر زوی عبدالخالق پېژنده:

عبدالخالق په کال ۱۳۳۲ لمریز د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زیږېدلی دی. په کال ۱۳۴۰ لمریز کې د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده په ښوونځي کې شامل او لومړنۍ زده کړې یې هملته بشپړې کړې دي، د نورو زده کړو لپاره بیا د ننګرهار عالي په لېسه کې داخل او په کال ۱۳۵۲ لمریز کې د ننګرهار له لېسې د دولسم ټولګي څخه په عالي درجه فارغ شوی دی. له ۱۳۵٦ لمریز - ۱۳۵۸ لمریز پورې له وطن څخه د دفاع په خاطر د عسکرۍ سپېڅلې دنده اجرا کړه. په ۱۳۷۴ لمریز کال کې یې په ګمرک کې دنده واخیسته او هلته د مامور په حیث مقرر شو، په ګمرک کې له دندې کولو نه وروسته له کال ۱۳۸۱ - ۱۳۹۲ل یې د جلال آباد په ښار کې یو درمل پلورنځي وو او هلته یې کار کاوه. په کال ۱۳۹۲ لمریز د چنګاښ (سرطان) په اتمه نېټه د مازیګر په څلورو بجو د زړه د ناروغۍ له امله وفات او د کاکړانو په کلي کې خاورو ته وسپارل شو. عبدالخالق دري نارینه اولادونه لري، چې وروسته به یې انشاءالله در وپېژنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عبدالرازق د زامنو پېژندنه:

**۱- مولوي انصار احمد د عبدالرازق زوی:** انصار احمد په کال ۱۳۵۱ لمریز د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زیږېدلی دی. د وخت د ناخوالو له امله یې خیبر پښتونخوا ته هجرت وکړ. خپلې لومړنۍ زده کړې یې د الهجرت والجهاد په مدرسه کې بشپړې کړي دي، ثانوي دوره یې د امام ابو حنیفه رحمه الله په عالي دارالمعلمین کې پوره او په کال ۱۳۷۳ ل کې یې له عالي دارالمعلمین څخه دیپلوم ترلاسه کړ. نوموړي د دیني زده کړو ترڅنګ د انګلیسي او کمپیوټر د زده کړي کورسونه هم تعقیب او ولوستل. په پښتو، دري، عربي، انګلیسي او اردو ژبو بشپړ تسلط لري. انصار احمد د هېواد د بچیانو د سالمې روزنې لپاره د ښوونکي سپېڅلې دنده د خپل ځان لپاره وټاکله او هېواد ته له راستنېدو وروسته یې د هېواد په بېلابېلو ښوونځیو کې د ښوونکي سپېڅلې دنده مخته ویوړله. مولوي انصار احمد څلور زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- حارث، ۲- عمر، ۳- مصطفی، ۴- مرتضی.

**۲- مولوي حمایت الله د عبدالرازق زوی:** په کال ۱۳۵۴ ل د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زیږېدلی دی. پېښور ته د وخت د ناکردو له امله مهاجر او خپلې لومړنۍ زده کړي یې د ابو سفیان رضی الله عنه په مدرسه کې بشپړې کړي دي. په کال ۱۳۷۳ ل کې یې د ثانوي زده کړو سند د امام ابو حنیفه رحمه الله له مدرسې ترلاسه کړ. له دې وروسته یې په مرکز علوم اسلامیه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیثو دوره وکړه. هېواد ته له راتلو وروسته په کال ۱۳۸۱ ل کې د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي څخه یې په عربي ادبیاتو کې د لیسانس تر کچې زده کړې وکړې. د هېواد په مختلفو ادارو کې یې په مختلفو ځانګو کې دندې اجراء کړې دي. مولوي حمایت الله څلور زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- صلاح الدین، ۲- عامر، ۳- طارق، ۴- سهیل.

**۳- امدادالله د عبدالرازق زوی:** د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. په کال ۱۳۹۱ ل کې د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي زده کړیال وو، چې د زړه د ناروغۍ له امله یې له نړۍ سره خدای په امانې وکړه.

**۴- عبدالباسط د عبدالرازق زوی:** د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. نوموړی په کوچنیتوب کې وفات شوی دی.

**۵- عبدالفتاح د عبدالرازق زوی:** چې د عبدالرازق وروستی زوی دی، د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. نوموړی په کوچنیتوب کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عبدالخالق د زامنو پېژندنه:

**۱- وحیدالله د عبدالخالق زوی:** په کال ۱۳٦۴ ل. د هجرت په دیار پېښور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د غلام دستګیر شهید په ښوونځي کې کړي، د لېسې دوره یې د محمدي صاحبزاده په لېسه کې په کال ۱۳۸۴ ل کې پوره کړې ده او په کال ۱۳۹۵ ل کې یې د الکوزي طبي علومو انستیتوت څخه د فارمسي په څانګه کې د فارمسست په حیث دیپلوم ترلاسه کړی دی. ډاکټر وحیدالله درې زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- ادریس، ۲- عباس، ۳- صهیب.

**۲- اسدالله د عبدالخالق زوی:** په کال ۱۳٦۸ ل د هجرت په دیار پېښور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د غلام دستګیر شهید په ښوونځي کې کړي، د لېسې دوره یې د محمدي صاحبزاده په لېسه کې په کال ۱۳۸۹ ل کې پوره کړې ده. د کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون د سیول انجینرۍ پوهنځي ته کامیاب او له همدې پوهنځي څخه یې په کال ۱۳۹۳ ل کې د لیسانس دیپلوم ترلاسه کړ. نوموړی له فراغت وروسته په بېلابېلو دولتي او غیر دولتي اداراتو کې د انجینر په حیث دندې اجراء کړي دي. انجینر اسدالله دوه زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- خبیب، ۲- خذیفه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- عبيدالله د عبدالخالق زوی:** پـه کـال ۱۳۷۲ ل د هجـرت پـه ديـار پېښور کې زېږېدلی دی. هېواد ته له راستنېدو وروسته يې د لېسې دوره په محمدي صاحبزاده لېسه کې په کال ۱۳۸۰ ل کې تکميله کـړې ده. د ښوونځي له لوستلو سره سره يې د خيـاطۍ د مسلک يـادولو هڅـه هـم وکړه، چې اوسمهال د خياطۍ دنده مخته وړي.

## ۲- د ملا مير محمد دويم زوی مولوي محمد يعقوب

مولوي محمد يعقوب هم يو ديني عالم وو، نوموړي ديني زده کـړې پـه خصوصي ښه ترسره کړې وې. درې مېرمنې يې درلودې، چې په ترتيب سره به يې د هرې مېرمنې د بچو يادونه وشي.

## ۱- د مولوي محمد يعقوب د لومړۍ مېرمنې د بچو پېژندنه:

مولوي محمد يعقـوب لـه لـومړۍ مېرمنـې څخـه دوه زامـن او يـوه لـور درلوده.

**۱- ملا محمد شريف د مولوي محمد يعقوب زوی:** په کـال ۱۲۸۸ ل. د ننگرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ د کـاکړانو کـلي پـه يـوه روڼ انـده او مدبره کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی. لـه خپـل تـره مولـوي محمـد جعفر څخه ديني زده کړې کړې وې، وروسته د دينې تعليم له پوره کولو يې د هېواد بجيانو ته ديني تعليم ورکاوه، ډېرى شاگردان يـې وروزل. د خپلې قريې يو ښه امام او خطيب سره سره د خپلې کـورنۍ مشـر پـاتې شوی دی. د متدينتوب او ښو اخلاقو ترڅنگ يوه مينه ناک، مدبر، سوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرست او انسان دوست شخص وو. ملا محمد شریف په کال ۱۳۷۲ ل. کې د ورپېښې ناروغۍ له امله له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړي او د کاکړانو کلي په پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو. ملا محمد شریف څلور زامن درلودل، چې عبارت دي له:

۱- محمد داود، ۲- محمد مسعود، ۳- عبدالغفور، ۴- مولوي محمد جان.

**۲- ملا عبدالقدوس د ملا محمد یعقوب زوی:** په کال ۱۲۹۸ ل. د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوه روڼ انده او مدبره کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی. لا د ځلوېښتو ورځو نه وو، چې د مور له خوړو بې برخې شو، پلار یې هغه د سلوزیو د کورنۍ یوې مېرمنې ته ورکړ، دغې مبارکې مېرمنې د مولوي عبدالقدوس تر اوه کلنۍ پورې پالنه وکړه، بیا وروسته له اوه کلنۍ یې بېرته خپل پلار ته وسپاره. دیني زده کړې یې له خپل والد او له خپل تره محمد جعفر څخه وکړې، ډېر متقي او ایماندار شخص وو، اویا (۷۰) کاله یې د امامت سپېڅلې دنده مخته یوړله. په کال ۱۳۴۲ ل. کې د څلوېښتو کلونو په عمر د عسکرۍ لپاره ځاځې منګل ته سوق شو، چې دوه کاله یې عسکري وکړه او په عسکرۍ کې یې هم امامت کاوه. شاعري یې هم کوله چې دلته یې د عسکرۍ د وخت یوه بېلګه راوړم:

عمر برباد راباندې تېر شو په منګل کې
لکه برباد تېر شي بادونه په ځنګل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي عبدالقدوس د ژوند بلا کړاوونه ګاللي دي، یوه ورځ د مولوي صاحب په پښه کې حېزی یا حرېزی ننوتی وو، له درده یې ډېر په عذاب وو، د ده مشر ورور مولوي محمد شریف چې هغه مهال د خپلې خسرګنۍ ( محمد میر ) کره د بهسودو په ځان آباد سیمه کې اوسېده. نوموړی چې کله د خپل کشر ورور له تکلیفه خبرېږي، ځان ورسوي، له ډېرې مینې یې په غېږ کې نیسي او له هغه ځایه یې نېغ په خپله شاه د پلن غر ښار ګوتي ته وړي، بیا یې د نقره الدین د کورنۍ حکیم تر درملنې لاندې ونېوه او د رب په فضل د صحت خاوند شو. مولوي محمد جعفر چې د ده استاد او تره هم وو، د ده د انسانیت په اساس یې خپله لور ده ته په نکاح ورکړه.

د مولوي محمد شریف او مولوي عبدالقدوس ډېر خاطرات له ما سره شته، چې د هغې له جملې یې زه صرف او صرف یوه خاطره تاسې لوستونکو سره شریکوم: ( زه (ډاکټر عبدالغفار کاکړ) په خپل کور کې چې د جلال آباد ښار په انګور باغ سیمه کې یې موقعیت درلوده، د قرآن کریم په تلاوت کولو لګیا وومه، چې یوې کشرې خور مې د خونې ور را پرانیست او راته یې وویل: لالا وا لالا! راشه وګوره! زموږ کور ته دوه فرښتې راغلي. زه چې کله له خپلې خونې را بهر شوم، ومې لیدل چې مولوي صاحب محمد شریف چې زما نیکه وو، له خپل کشر ورور ملا عبدالقدوس سره چې سپینې جامې او سپین څادورنه یې له ځانه راتاو کړي ول او ول په ول سپیني پګړۍ یې وهلې وې، چې یقیناً ډېر نورانیت پکې له ورایه ښکارېده ، سره یو ځای ناست و.

ملا صاحب عبدالقدوس پنځه عمرې او درې حجه کړي وو، چې د سردار محمد داود خان په دور کې یې په خپلو پښو یو حج اداء کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، چې په هغه دور کې الوتکې نه وې، ځای نیم به د موټر سهولت وو او ځای نیم به بیا پلی سړي مزل کولو.

ملا عبدالقدوس د ورپېښې ناروغۍ له امله په کـال ۱۳۷۷ ل. د سـنبلې د میاشتې په ۱۷ نېټه د چهارشـنبې پـه ورځ اتـه نیمـې بجـې د شـېرپاو پـه روغتون کې سا ورکړه او بیا وروسته د پلن غر په هـدیره کـې خـاورو تـه وسپارل شو. د ملا عبدالقدوس درې زامن وو، چې عبارت دي له:

۱- مولوي حافظ محمد نذیر، ۲- مولوي شمس الدین، ۳- مولوي شـمس الحق.

## ۳- د مولوي محمد یعقوب له لومړۍ مېرمنې نه یوه لـور بي بي وه:

د زېړېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کـاکړانو کلـی دی.نوموړې له ملا محمد شریف کشره او له ملا عبدالقدوس نه مـشره وه، چې پلار یې د پیر وړو کلي ملا محمد مزدور ته په نکاح ورکړې وه.

## ۲- د مولوي محمد یعقوب د دویمې مېرمنې د بچو پېژندنه:

د مولوي محمد یعقوب له دویمې مېرمنې نه یو نارینه اولاد وو، چې هغـه عبدالحلیم نومېده.

**۱- عبـدالحلیم د مـلا محمـد یعقـوب زوی:** د مـلا یعقـوب د دویمـې مېرمنې څخه یوازینی نارینه اولاد وو، ، د زېږېـدلو ځـای یـې د ننگرهـار ولایت د بهسودو ولسـوالۍ د کـاکړانو کلـی دی، نومـوړي هـېڅ اولاد نـه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- د مولوي محمد یعقوب د درېیمې مېرمنې د بچو پېژندنه:

د مولوي محمد یعقوب له درېیمې مېرمنې نه درې زامن وو، چې هغه عبارت دي له:

۱- غلام حضرت، ۲- فقیر محمد، ۳- محمد امان.

**۱- استاد غلام حضرت د مولوي محمد یعقوب زوی:** په کال ۱۹۵۰ میلادي د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي کې زېږېدلی دی. نوموړی د ننگرهار ولایت د عالي دارالمعلمین څخه فارغ شوی او بیا یې دوه کلن دیپلوم د ارتوپیدۍ په مصنوعي غړو جوړولو کې اخیستی. ۳۰ کاله یې له استادۍ نه نیولې ان په نورو ځانگو د دولت او غیر دولتي( سنډیگال، جي ټي زیډ او...) کې بېلابېلې دندې اجرا ء کړي دي. په دواړو ملي ژبو پښتو او دري مکمل پوهېږي او په انگلیسي او اردو هم غږېدی شي. نوموړي پنځه زامن درلودل، چې عبارت دي له:

۱- عبدالصبور، ۲- بلال احمد، ۳- جلال احمد، ۴- کمال احمد، ۵- هلال احمد.

**۲- فقیر محمد د مولوي محمد یعقوب زوی:** په کال ۱۹۵۵ میلادي د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي کې زېږېدلی دی. ما ته په لاس د راغلو معلوماتو له مخې د ننگرهار له عالي دارالمعلمین څخه د څوارلسم پاس په سویه فارغ شوی دی. په مختلفو دولتي او غیر دولتي اداراتو کې یې کار کړی دی. فقیر محمد هېڅ اولاد نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- محمد امان د مولوي محمد یعقوب زوی:** په کال ۱۹۶۱ میلادي د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي کې زېږېدلی دی، خو ما ته په لاس د راغلو معلوماتو له مخې د پېښور پوهنتون د طب پوهنځي د ارتوپیدي له څانگې څخه د مافوق لیسانس په سویه فارغ شوی او په ارتوپیدي کې یې د جرمني هېواد څخه ماستري هم اخیستې ده، د دولت ترڅنگ په ډېرو غیرو دولتي ادارو کې کار کوونکی پاتې شوی دی. نوموړی دوه نارینه اولادونه لري، چې عبارت دي له:

۱- حمیدالله، ۲- لرغون.

## ۱- د ملا محمد شریف د زامنو پېژندنه:

**۱- محمد داود د ملا محمد شریف زوی:** د پیدایښت نېټه یې ۱۳۲۰ل. کال او د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د محمدي صاحبزاده ښوونځي کې بشپړې کړي دي، وروسته بیا د ملاریا مجادلې په کورس کې شامل او د ملاریا مجادلې د ډاکټر په حیث یې په مختلفو برخو کې دندې اجراء کړي دي. له دې وروسته د ننگرهار ولایت د کانال په ریاست کې شامل او د لغمان په کڅ کې د کبانو په پروژه کې کارکوونکی شو. په کال ۱۳۵۹ ل. له هېواده مهاجر او پېښور ته ولاړ، هلته یې هم بېلابېلې دندې اجراء کړي دي. په ۱۳۸۸ ل. کال د ورپېښې ناروغۍ له امله یې په پېښور کې له دې فاني دنیا څخه سترگې پټې کړي او په خپله پلرنۍ هدیره (د کاکړانو کلي په هدیره) کې خاورو ته وسپارل شو. محمد داود پنځه نارینه اولادونه درلودل، چې عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- عاشـــق الله، ۲- عبـــدالله (نـــورالله)، ۳- نجیـــب الله، ۴- شـــفیع الله، ۵- قدرت الله.

**۲- محمد مسعود د ملا محمد شریف زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۳۲ل. کال او د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د محمدي صاحبزاده په ښوونځي او د لېسې دوره یې ننگرهارعالي لېسه کې تکمیل کړې ده. د لېسې له فراغت وروسته د ننگرهار په عالي دارالمعلمین کې شامل او له دوه کلن درس ویلو وروسته ترې په عالی درجه فارغ شو. مسعود د هېواد د بچیانو له روزنې سره ډېره مینه درلوده؛ نو همدې مینې استادۍ ته مجبور کړ. د دارالمعلمین له فراغت وروسته یې د بامیانو ولایت د یک ولنگ ولسوالۍ د ده سرخ په لېسه کې ښوونکی مقرر شو، له څو کلونو دندې کولو وروسته یې ځان کونړ ولایت ته بدل او د کونړ ولایت د نورگل ولسوالۍ په مرکزي لېسه کې ښوونکی شو. بلاخېره په کال ۱۳۵۸ ل. د لړم (عقرب) د میاشتې په ۲۲ نېټه د کونړ ـ جلال آباد په لویه لار کې د وخت د نظام د مخالفو وسلوالو له لورې په ډزو کې شهید شو. جسد یې له کونړه ننگرهار ته نقل او په خپله پلرنۍ هدیره ( د کاکړانو کلي په هدیره) کې خاورو ته وسپارل شو. محمد مسعود دوه زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- زاهد الله، ۲- عبدالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- عبدالغفور د ملا محمد شریف زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳۳۴ل. کال او د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د محمدي صاحبزاده په ښوونځي او د لیسې دوره یې د ننګرهار عالي لېسه کې په کال ۱۳۵۴ل. تکمیل کړې ده. په کال ۱۳۵٦ل. کې د عسکرۍ د مکلفیت دورې ته سوق او په کال ۱۳۵۷ل. کې ترې ترحیض شو. په کال ۱۳۵۸ل. کې د سلواغې (ثور) په شپاړسمه نېټه د ننګرهار ولایت د ولایت په مقام کې د مکلفیت په مدیریت کې د رسمي مامور په حیث مقرر شو. په کال ۱۳٦۰ل. کې د دفاع او لوړو زده کړو وزارتونو په موافقه د ننګرهار اسلامي پوهنتون د زده کړیالانو په مدیریت کې د مامور په حیث بدل شو، په یاد مدیریت کې له یوې مودې دندې اجراء کولو وروسته د پوهنتون د ریاست او د کوپراتیفونو د اتحادیې د خپلمنځي تړون له مخې حرفوي کارمند شو، نوموړي تر ۱۳٦۹ل. کال پورې په یاد ریاست کې دنده اجراء کړه. په ۱۳۷۰ل. کال کې د ننګرهار ولایت د مرکز جلال آباد د ښاروالۍ د ټاکنو په اساس د ښاروالۍ د درېیمې ناحیې د ښاروال په حیث مقرر شو، بیا وروسته یې په ۱۳۸۰ل. کال د ننګرهار ولایت د بېرته راستنېدو (مهاجرینو) په ریاست کې د شهېدانو او معلولینو د حقونو د تثبیت د مدیر دنده واخیسته. په کال ۱۳۸۱ل. کې د یاد ریاست بلې برخې ( د تحصیصاتو او د حساباتو د تطبیق ) شعبې ته تبدیل او هلته د مدیر په حیث مقرر شو. په کال ۱۳۹۸ل. د تلې (میزان) د میاشتې په خوارلسمه نېټه په فوق رتبه کې د څلوېښتو کالو خدمتونو وروسته تقاعد شو. عبدالغفور د خپل عمر په دوران کې یو ځل د حج فریضه اداء کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. نوموړی د څلوېښتو کالو د ښو خدمات په دوران کې څو ځل د لوړو مقاماتو د ستاینې او د ښه کار کولو په اساس څو دولتي مډالونه اخیستي دي.

**۴- مولوي محمدجان د ملا محمد شریف زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳۳۸ل. کال او د زېږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د محمدي صاحبزاده په ښوونځي او د لېسې دوره یې د ننګرهار عالي لېسه کې په کال ۱۳۵۸ل. تکمیل کړې ده. په ۱۳۶۰ل. کال کې د کانکور له لارې د ننګرهار اسلامي دارالعلوم ته بریالی او له یوه کال درس ویلو وروسته د عسکرۍ د مکلفیت دورې ته سوق شو، بیا خېبر پښتونخوا ته ولاړ او هلته په سپین جومات کې تر درې کالو دیني زده کړو وروسته یې په کال ۱۳۶۴ل. د هجرة و الجهاد په لیلیه کې د مامور په حیث مقرر شو. په خېبر پښتونخوا کې له اته کلن ماموریت وروسته، خپل هېواد ته له راستنېدو سره سم یې په کال ۱۳۸۷ل. د همیم صاحب په شرعي دارالعلوم کې د حدیثو لویه دوره پیل او په کال ۱۳۸۸ل. کې له نوموړي دارالعلوم څخه په عالي درجه فارغ شو. مولوي محمد جان له ۲۱ کلن خدمت کولو وروسته لا هم د هېواد والو د بچو په روزنه لګیا او اوسمهال د ملکه حمیرا عالي لېسه کې د ښوونکي په سپېڅلې دنده مشغول دی. نوموړی دوه زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- ریاض احمد، ۲- قاري ارشاد احمد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د ملا عبدالقدوس د زامنو پېژندنه:

**۱- مولوي محمد نذیر د ملا عبدالقدوس زوی:** د پیدایښت نېټه یې ۱۳۲۷ل. کال او د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، لومړنۍ زده کړې یې ظاهر شاهي دارالحفاظ جلال آباد کې بشپړې کړي دي، ثانوي زده کړې یې د ننگرهار ولایت په نجم المدارس کې کړي او له همدغه دیني مرکزه په کال ۱۳۵۳ لمریز کې په عالي درجه فارغ شوی دی، وروسته له فراغته په یاد دارالحفاظ کې د سر ښوونکي په حیث مقرر شو، وروسته له یو څه وخت تېرولو بیا په کال ۱۳۵۷ل. د پروان ولایت په قمچاق کې ښوونکی شو، په کال ۱۳۵۸ل. کې یې له هېواده هجرت وکړ او پېښور ته مهاجر شو. په کال ۱۹۹۳م. کې د مجاهدینو د دفتر نماینده په قطر هېواد کې وټاکل شو. په کال ۱۹۸۸م. کې د مجاهدینو د راستنېدو په چارو کې عمومي مدیر شو او وروستۍ دنده یې د ننگرهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور په ریاست کې د کتابونو عمومي امریت وو. د نوموړي یوه چاپي رساله د توبه او استغفار په نامه چاپ شوېده. مولوي صاحب محمد نذیر اوه زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- جاوید احمد، ۲- نوید احمد، ۳- مجاهد جمال احمد، ۴- کمال احمد، ۵- خالد احمد، ٦- محمد سعید، ۷- محفوظ الحق.

**۲- مولوي شمس الدین د ملا عبدالقدوس زوی:** د پیدایښت نېټه یې ۱۳۳٦ل. کال او د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلی دی، لومړنۍ زده کړې یې په اسلامیاتو ( قرآن کریم، فقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په اسلامي ادابو) کې له خپلې مور او پلار څخه کړي دي. په کال ۱۳۴۲ل. د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده ښوونځي په لومړي ټولگي کې شامل او په کال ۱۳۵۰ل. کې د یادې لیسې له نهم ټولگي څخه فارغ شو. په کال ۱۳۵۱ل. کې یې خپل ماما شهید مولوي محمد ابراهیم همیم په نجم المدارس مدرسه کې شامل او په کال ۱۳۵۸ل. کې د یادې مدرسې له دولسم ټولگي څخه فارغ شو. څرنگه چې په افغانستان کې د کمونستانو، خلقیانو او پرچمیانو حکومت حاکم وو، علماء، روڼ اندي، مشران او عام مسلمانان نیول کېده، بندیانېدل او شهیدان کېدل؛ نو مولوي شمس الدین د هجرت لاره خپله او پېښور ته مهاجر شو، پدې کال د ننگرهار د بهسودو ولسوالۍ د کاکړو د کورنۍ دا درېیم تن وو، چې هجرت یې وکړ، له دې نه مخکې مولوي غلام حیدر او قاري محمد نذیر مهاجر شوي وو. څوارلس کاله یې په هجرت او جهاد کې تېر کړل. په ۱۳۶۸ل. کې یې د اسلام پنځم رکن (د حج فریضه) هم اداء کړه. نوموړي ډېرې دندې کړي دي، چې د مجاهدینو د سیاسي کمیټې غړیتوب، د ابوحنیفه رحمه الله د مدرسې مدیریت، د کتابونو ماموریت، د قطر د کمیټې د ښوونې او روزنې مدیریت او داسې نورو دندو سره سره یې مجاهدینو ته اکمالات هم کول. په کال ۱۳۷۱ل. کې بېرته خپل هېواد افغانستان ته راغی، دلته د همیم صاحب د مدرسې مدیر او لس کاله یې دا اداره مخته ویوړله. په کال ۱۳۸۳ل. کې د ننگرهار د خېوې ولسوالۍ د محکمې محتسب مقرر شو، له دې وروسته یې په کال ۱۳۸۹ل. د ننگرهار د حج او اوقافو ریاست د لعلپورې ولسوالۍ اړوند مدیریت مدیر وټاکل شو. په کال ۱۳۹۰ل. کې د ننگرهار ولایت د ښوونې او روزنې په ریاست کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارپوه په حیث تعین او ورسره یې د ای ډي ای په موسسه کې دنده کوله. مولوي شمس الدین د خپل ژوند له ټولې مبارزې سره سره شاعري هم کوله، چې تازه یې یوه شعري ټولگه چاپ ته چمتو ده. نومړی پنځه زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- عمادالدین، ۲- بدرالدین، ۳- حسام الدین، ۴- عبیدالله، ۵- یونس.

**۳- مولوي شمس الحق د ملا عبدالقدوس زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳۴٦ل. کال او د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، په شرعي علومو کې یې ماستري کړېده او یوه ماستري په اسلامي اقتصاد کې لري او اوسمهال د پوهنتون استاد دی. نومړی څلور زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- نجم الحق، ۲- سلیمان، ۳- سلمان، ۴- مدثر.

## ۳- د استاد غلام حضرت د زامنو پېژندنه:

**۱- عبدالصبور د استاد غلام حضرت زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۹۸۲م. کال او د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په پېښور کې بشپړې کړې دي او د امام ابوحنیفه رحمه الله له معهد څخه فارغ شوی دی. ماستري او دوکتورا یې د سعودي عربستان هېواد څخه د شرعي علومو او اسلامي ښوونه کې بشپړه کړې ده. پښتو او دري ژبه مکمل پوهېږي او د دې ترڅنگ په عربي، انگلیسي، فرانسوي او اردو باندې هم رواني خبرې کولای شي. د قرآن کریم حافظ دی او درې ځلې یې د حسن قرائت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوالو سیالیو کې برخه اخیستې ده. په سعودي عربستان کې د ښوونکي سپېڅلې دنده مخته وړي او د دې ټولو سره سره یې مختلفې څېړنې کړي او څو چاپي اثار هم لري.

**۲- بلال احمد د استاد غلام حضرت زوی:** په کال ۱۹۸۳ م. د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي کې زېږېدلی دی، په پېښور کې د امام ابوحنیفه رحمه الله له معهد څخه فارغ شوی دی. کله چې هېواد ته راغی، د کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون اقتصاد پوهنځي ته بریالی او له یاد پوهنځي څخه په لوړه درجه فارغ شو. د ښوونې او روزنې په مختلفو پروژو کې یې دندې تر سره کړي دي. پښتو او دري یې مورنۍ ژبې دي، په عربي، انګلیسي او اردو ژبو هم خبرې کولای شي.

**۳- جلال احمد د استاد غلام حضرت زوی:** په کال ۱۹۸۴ م. د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي کې زېږېدلی دی، په پېښور کې د امام ابوحنیفه رحمه الله له معهد څخه فارغ شوی. وروسته یې بیا د اسلام آباد د نړیوال اسلامي پوهنتون له شرعیاتو پوهنځي څخه د لیسانس دیپلوم اخیستی دی. په انګلیسي او کمپیوټر کې یې هم دوه کلنۍ زده کړې سرته رسولي دي. پر دې سربېره چې پښتو او دري ژبه باندې مکمل پوهېږي، په عربي، انګلیسي او اردو هم ښه پوهېږي. په هېواد کې د پوهنې په برخه کې یې ښه چوپړونه وړاندې کړي دي او د ښوونې او روزنې په مختلفو پروژو کې یې دندې اجراء کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- کمال احمد د استاد غلام حضـــرت زوی:** په کال ۱۹۹۵ م. د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي کې زیږېدلی دی، د چکنوریو عالي لیسې له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی دی. نوموړی اوسمهال د سعودي عربستان هېواد د مدینې منورې په اسلامي پوهنتون کې په لوړو زده کړو بوخت دی. کمال سره له دې چې څنګه یې نوم کمال دی، همداسې د کمال څښتن هم دی، کله چې په هېواد کې وو، دلته یې له کلید راډیو سره هماهنګ کننده او همدارنګه د عربي او انګلیسي ژبې ژباړونکی او په ځینو شخصي کورسونه کې د انګلیسي ژبې استاد پاتې شوی.

**۵- هلال احمد د استاد غلام حضـــرت زوی:** په کال ۲۰۰۰ م. د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي کې زیږېدلی دی، د چکنوریو عالي لیسې له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی دی.

## ۴- د استاد فقیر محمد د زامنو پېژندنه:

استاد فقیر محمد چې څه وخت له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټولې، نوموړي هېڅ اولاد نه درلوده.

## ۵- د محمد امان د زامنو پېژندنه:

**۱- حمیدالله د محمد امان زوی:** په کال ۱۹۹۹م. کال په ډنمارک هېواد کې دې نړۍ ته راغلی دی، اوسمهال د ډنمارک هېواد د طب پوهنځي زده کړیال دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- لرغون د محمد امان زوی:** په کال ۲۰۰۳م. په ډنمارک هېواد کې دې نړۍ ته راغلی دی، اوسمهال د ډنمارک هېواد کې د ښوونځي زده کوونکی دی.

## ۱- د محمد داود د زامنو پېژندنه:

**۱- عاشق الله د محمد داود زوی:** ما ته د شته معلوماتو له مخې نوموړی د محمد داود مشر زوی، چې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي دې نړۍ ته راغلی دی، په کاکړانو کې ستر او په کاکړانو کلي کې اوس هم خپل ژوند مخته وړي.

**۲- ځارنیار عبدالله (نورالله) د محمد داود زوی:** په کال ۱۳۵۱ل. د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوه متدینه کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په کال ۱۳۵۸ل. د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ د کڅ کلي په گل پاچا الفت عالي لېسه کې پیل کړې، خو په کال ۱۳۶۰ل. کې یې د محمدي صاحبزاده لېسې ته ځان تبدیل او نورې زده کړې یې هلته پیل، چې د وخت د ناخوالو له وجې مجبور شو او په کال ۱۳۶۱ل. کې له خپلې کورنۍ سره پېښور ته مهاجر او هلته یې بیا په همدې کال د پښتونخوا ایالت د پېښور ولسوالۍ د کوز تاکال پورې اړوند د معاذ او معوذ رضی الله عنهم په ابتدایه ښوونځي کې ځان له لومړي ټولگي څخه له سره شامل کړ. په ۱۳۶۴ل. کال یې ځان له دې ښوونځي څخه د پېښور د سپینه وړۍ کلي اړوند ابوسفیان رضی الله عنه ابتدایه ښوونځي ته تبدیل کړ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم ټولگي د بشپړېدو سره یې ځان سم د نورو زده کړو لپاره د پېښور د سردار کالونۍ د امام ابوحنیفه رحمه الله په مدرسه کې واچوه، په کال ۱۳۶۹ل. کې د ازادې سیالۍ له لارې د پېښور ولسوالۍ د پبو د مهاجر بازار د ابوبکر صدیق رضی الله عنه عالي معهد یا انستیتوت ته بریالی او له دوه کاله درس ویلو وروسته په کال ۱۳۷۱ل. کې ترې په عالي درجه فارغ شو. په کال ۱۳۷۲ل. کې د ننگرهار پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې شامل او په کال ۱۳۷۶ل. کې له نوموړي پوهنځي څخه فارغ شو، د ماسټرۍ لپاره د ننگرهار اسلامي پوهنتون ته په کال ۱۳۹۴ل. کې کامیاب او ماسټري یې د ننگرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي څخه د فقهې او قانون په څانگه کې په ۱۳۹۶ل. کال بشپړه کړه. نوموړي ډېرې دندې اجراء کړي دي، څه وخت چې په کال ۱۳۸۳ل. کې له خېبر پښتونخوا څخه خپل هېواد ته را ستون شو، په کال ۱۳۸۴ل. کې یې د ننگرهار د بهسودو ولسوالۍ اړوند زنگویي کلي په زنگویي ابتدایه ښوونځي کې ښوونکی وټاکل شو. په کال ۱۳۸۷ل. د لړم د میاشتې په ۲۷ مه نېټه یې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په لویه څارنوالۍ کې دنده واخیسته. شپږ میاشتې یې د زابل ولایت د استناف څارنوالۍ ریاست د کوچیانو د تحلفاتو اختصاصي څارنوالۍ د ابتدایه څارنوال په حیث دنده اجراء کړېده، وروسته له دې بیا د بامیانو ولایت د استناف څارنوالۍ ریاست د تاریخي آثارو د قاچاق د مخنیوي او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د تحقیق څارنوال په توگه په دنده وگمارل شو. په کال ۱۳۸۸ل. د قوس په پنځلسمه نېټه د ننگرهار ولایت استناف څارنوالۍ ته بدل او د دې ولایت د څارنوالۍ په بېلابېلو برخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يې د يوه فعال او مسلکي څارنوال په حيث دنده اجراء او لا هم پدې برخه کې کار کوي.

**۳- نجيب الله د محمد داود زوی:** ما ته د شته معلوماتو له مخې نوموړی د محمد داود درېيم زوی، چې د ننګرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي دې نړۍ ته راغلی دی، په کاکړانو کې ستر او په کاکړانو کلي کې اوس هم خپل ژوند مخته وړي.

**۴- شفيع الله د محمد داود زوی:** ما ته د شته معلوماتو له مخې نوموړی د محمد داود څلورم زوی، چې د ننګرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي دې نړۍ ته راغلی دی، په کاکړانو کې ستر او په کاکړانو کلي کې اوس هم خپل ژوند مخته وړي.

**۵- قدرت الله د محمد داود زوی:** ما ته د شته معلوماتو له مخې نوموړی د محمد داود پنځم زوی، چې د ننګرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي دې نړۍ ته راغلی دی، په کاکړانو کې ستر او په کاکړانو کلي کې اوس هم خپل ژوند مخته وړي.

### ۲- د استاد محمد مسعود د زامنو پېژندنه:

**۱- زاهدالله د محمد مسعود زوی:** ما ته د شته معلوماتو له مخې نوموړی د محمد مسعود مشر زوی، چې د ننګرهار ولايت د بهسودو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسوالۍ په کاکړانو کلي دې نړۍ ته راغلی دی، په کاکړانو کې ستر او په کاکړانو کلي کې اوس هم خپل ژوند مخته وړي.

**۲- عبدالله د محمد مسعود زوی:** ما ته د شته معلوماتو له مخې نوموړی د محمد مسعود دویم زوی، چې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي دې نړۍ ته راغلی دی، په کاکړانو کې ستر او په جلال آباد ښار اوس هم خپل ژوند مخته وړي.

## ۳- د عبدالغفور د زامنو پېژندنه:

**۱- ډاکټر عبدالغفار کاکړ د عبدالغفور زوی:** د پیدایښت نېټه یې کال ۱۳۵۴ل. او د زیږېدلو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د جلال آباد ښار په تجربوي ښوونځي کې سرته رسولي. په کال ۱۳٦۹ل. کې د ننګرهار د منځني روغتیایي علومو په انستیتوت کی شامل او په کال ۱۳۷۲ل. کې د ننګرهار د منځني روغتیایي علومو له انستیتوت څخه په لوړه درجه فارغ شو. په کال ۱۹۹۴م. کې د انګلیسي ژبې ای ـ ال ـ پي د اډوانس دویم څخه په لوړه درجه فارغ شو. په کال ۲۰۰۲م. کې د مالوماتي تکنالوجۍ د سافټ ویر او هارد ویر انستیتوت څخه په لوړه درجه فارغ شو. په کال ۱۳۷۲ل. کی د ای – ار – سي د انګلیسي او پښتو ټایپینګ( شپږ میاشتني کورس) څخه په لوړه درجه فارغ شو. په کال ۱۳۷۴ل. کې د عمومي کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون طب پوهنځي ته بریالی او په کال ۱۳۸۱ل. کې له یاد پوهنځي په اعلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



درجه فارغ شو. په کال ۲۰۰۳م. کې د پېښور د طبي او کلینیکل التراسوند د انستیتوت څخه په لوړه درجه فارغ شو. په کال ۲۰۱۲م. یې د هند د دهلي د مکس په روغتون کې د التراسوند (کلینیکل امیج ) ولوست. نوموړي ډېری دندې اجراء کړي دي، چې عبارت دي له:

۱- په ۱۳۸۱ل. کال د ننگرهار د عامې روغتیا روغتون کې د معالج ډاکټر په دنده.

۲- په ۲۰۰۳م. کال په ختیځه سیمه کې د ننگرهار د سرې میاشتې ریاست د سیارو روغتیایي کلینکونو مشر وو، چې د ننگرهار ولایت په خوږیانیي، سرخرود، بهسود، کامه، گوشته، لعلپوره، بتي کوټ او چپرهار ولسوالیو کې یې روغتیایي خدمات وړاندې کول، هغه مهال مولوي شمال خان عثماني د ننگرهار سرې میاشتې عمومي رئیس وو، چې نوموړي ډاکټر عبدالغفار کاکړ ته د ښه چوپړونو له امله لوړ ستاینلیکونه ورکړل، د ده ترڅنگ همدرانگه د ای، سي، ار، سي او سرې میاشتې د فدرېشن لخوا په ستاینلیکونو ونازول شو، چې د همدې ټولنې له لورې ورته د لوړو پوستونو وړاندیز هم شوی وو.

۳- له کال ۱۳۸۴ــ ۱۳۹۶ل. پورې د جلال کوټ ښار کې د اریانا تشخیصیه روغتیایي کلینک مسوول وو، نوموړي کلینک په ۱۳۸۴ل. کال کې د عامې روغتیا وزارت لخوا په رسمي ډول کار پیل او په لنډه موده کې یې ښه روغتیایي فعالیتونه ترسره کړ، چې نه یوازې د ختیځې سیمې ( ننگرهار، لغمان، کونړ او نورستان ) وگړي د تشخیص او تداوې لپاره ورتلل، بلکې د پلازمینې په گډون د هېواد د نورو برخو ډېری وگړي د ښه تشخیص او درملنې لپاره ورتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- په کال ۱۳۹٦ل. یې د جلال اباد ښار په لومړۍ ناحیه کې د تسلیمه کاکړ د نسایي ولادي ناروغیو روغتون او زېږنتون جوړ او ان تر اوسه پورې هېوادوالو ته ښه چوپړونه وړاندې کوي.

او داسې نورې دندې ... .

ډاکټر کاکړ د ښه چوپړونو د وړاندې کولو له کبله د هېواد د بېلابېلو ادارو او د ځینو ادارو د استازو له لورې په ستاینلیکونو نازول شوی دی، چې یو څو بېلگې به یې لاندې ذکر شي:

۱- د افغانستان د اسلامی جمهوري دولت د عامې روغتیا وزارت.

۲- ولسي جرگه.

۳- د ننگرهار ولایت د مقام.

۴- د ننگرهار د عامې روغتیا ریاست.

۵- د ننگرهار د محیط زیست ادارې.

٦- د ننگرهار ولایت د ډاکټرانو اتحادیې.

ډاکټر عبدالغفار کاکړ د روغتیایي خدماتو ترڅنگ له لیکوالۍ سره هم مینه لري، چې دا ستاسې په لاسونو کې چې کوم کتاب دی، دا یې درېیم چاپي اثار دی، چې دوه نور اثار (کلینکل امیج التراسوند) او (د انگلیسي ژبې گرامر په پښتو ژبه) پخوا د چاپ په گاڼه سمبال شوي دي.

ډاکټر عبدالغفار کاکړ دوه زامن لري، چې عبارت دې له:

۱- جواد احمد، ۲- فرهاد احمد.

**۱- عبدالغني (بریالی) د عبدالغفور زوی:** د پیداېښت نېټه یې کال ۱۳٦٦ل. او د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د جلال آباد ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیمه ناحیه ده. لومړنۍ، منځنۍ ا و د لېسې زده کړې یې د نصرت عالي لېسه کې په کال ۱۳۸۷ل. په عالي درجه بشپړې کړي، د ښوونځي په دوران کې یې له اباسین راډیو سره د تخنیک په برخه کې دنده درلوده او په کال ۱۳۸۸ل. کې د ننګرهار عالي دارالمعلمین د انګیسي ادبیاتو په څانګه کې شامل او په کال ۱۳۹۰ل. کې له یادې څانګې فارغ او له فراغت وروسته د شهېدانو او معلولینو ریاست په روزنتون کې د استادۍ په دنده وګمارل شو، وروروسته یې د لوی سیدجمال الدین افغان د روغتیایي علومو انستیتوت د دواسازۍ یا فارمسۍ په څانګه کې نورې دوه کلنۍ زده کړې هم وکړي. فاروغیدو سره سم یې د تسلیمه کاکړ په روغتون کې د فارمسیست په حیث دنده واخیسته او لاهم پدې روغتون کې د فارمسیست دنده لري. عبدالغني له دې ټولو سره سره په کمپیوټر او انګلیسي ژبه مکمل واک لري. نوموړی دوه زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- عبدالرحمان (جاوید)، ۲- حامد.

**۳- توریالی کاکړ د عبدالغفور زوی:** په کال ۱۳۷۲ل. د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار په درېیمه ناحیه کې دې نړۍ ته راغلی دی. لومړنۍ، ثانوي او تر دولسم ټولګي زده کړې یې د ننګرهار ولایت د عبدالوکیل په عالي لېسه کی په کال ۱۳۹۱ل. په عالي درجه بشپړې کړي دي. د ښوونځي په دوران کې یې د خطاطۍ، خوش نویسۍ، انګلیسي ژبې او کمپیوټر کورسونه هم ویلي. د ژورنالیزم او سیاسي اصطلاحاتو ترڅنګ یې ځینې نور ورکشاپونه هم اخیستي او نړدې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال له اباسین اسلامي راډیو سره د پروډیوسر په دنده پاتې شوی دی. په کال ۱۳۹۳ل. کې د کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون د حقوقو پوهنځي ته بریالی او ۱۳۹۷ل. کال کې د یاد پوهنځي د قضا او څارنوالۍ له څانګې په عالی درجه بریالی راووت. ښاغلی کاکړ لا له ښوونځي فارغ نه وو، چې د خطاطۍ او خوش نویسۍ په برخه کې د استادۍ تر سپېڅلې دندې ورسېد او د لسو کالو راهیسې یې په مختلفو کورسونو کې زده کوونکي د قلم له ښکلا برخمن کړي دي. د نوموړي یوه کتاب د خط ښکلا په نامه چاپ او بل کتاب ( د خوش نویسۍ لارښود) په نامه چاپ ته چمتو دی. توریالی کاکړ د دوه زامنو پلار دی، چې مشر یې عبدالحق فولاد او کشر یې عبدالاحد فواد نومېږي.

**۴- ننګیالی د عبدالغفور زوی:** په ۱۳۷۴ل. کال کې د ننګرهار ولایت دجلال اباد ښار په درېیمه ناحیه کې زېږېدلی دی. په کال ۱۳۸۱ل. کې د عبدالوکیل په عالی لېسه کې شامل او په کال ۱۳۹۳ل. کې له یادې لېسې په عالی درجه فارغ، بیا د کانکور ازموینې له لارې کونړ پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ته بریالی او په کال ۱۳۹۸ل. کې ورڅخه فارغ شو.

## ۴- د مولوي محمدجان د زامنو پېژندنه:

**۱- ریاض احمد د مولوي محمدجان زوی:** په کال ۱۳۷۵ل. د هجرت په دیار په پېښور کې زېږېدلی دی. په کال ۱۳۸۳ل. کې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده په عالي لېسه کې شامل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له یادې لېسې په کال ۱۳۹۵ل. کې له دولسم ټولګي څخه فارغ شو. په کال ۱۳۹٦ل. کې د ننګرهار ولایت د الکوزي د روغتیايي علومو په انستیتوت کې شامل او په کال ۱۳۹۸ل. کې د نوموړي انستیتوت د طبی تکنالوژۍ له څانګې په عالی درجه فارغ شو. اوس مهال د جلال اباد ښار په اوله ناحیه د تسلیمه کاکړ په روغتون کې دنده لري.

**۲- ارشاد احمد د مولوي محمدجان زوی:** په کال ۱۳۷۷ل. د هجرت په دیار په پېښور کې زیږېدلی دی. په کال ۱۳۸۵ل. کې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده په عالي لېسه کې شامل او له یادې لېسې په کال ۱۳۹۷ل. کې له دولسم ټولګي څخه فارغ شو. نوموړی اوسمهال د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د همیم صاحب په شرعي دارالعلوم کې د قرآن کریم په حفظ بوخت دی.

## ۱- د مولوي حافظ محمد نذیر د زامنو پېژندنه:

**۱- جاوید احمد د مولوي حافظ محمد نذیر زوی:** په ۱۳۵۳ل. کال د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو په یوه دینداره کورنۍ کې زیږېدلی دی. په شپږ کلنۍ کې یې پېښور ته هجرت وکړ او د هجرت په دیار کې یې خپلې لومړنۍ زده کړې په مختلفو ښوونځیو کې کړې، بیا د امام ابوحنیفه رحمه الله د عالي لېسې د دولسم ټولګي فارغ شو. معهد الشرعي دارالمعلمین کې یې زده کړې وکړې او دوه نیم کلن ډیپلوم یې ترلاسه کړ. بیا یې د پېښور په عالی دارالعلوم کې زده کړې وکړې او د وفاق سند یې ترې واخیست او خپلې لوړې زده کړې یې بشپړې کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ماسټرۍ د کچې سره برابرېږي. نوموړي ډېرې دندې سرته رسولې دي، چې د يو څو يادونه يې په لاندې ډول سره کوو:

۱ـ له ۱۹۹۳ــ ۲۰۰۴ م کال پورې د ژورنالیزم په برخه کې د وحدت ورځپاڼې سره يې دنده درلوده. په همدې وخت کې يې د پامیر ورځپاڼې او افغان اسلامي اژانس سره هم دنده مخته وړله.

۲- په کال ۲۰۰۴م کې خپل هېواد ته ستون او د پژواک خبري اژانس ایډیټر مقرر شو.

۳- د افغان کرکټ بورډ د رسمي مجلې (افغان کرکټ) د مسوول مدير په صفت يې دنده کړېده.

۴- د افغانستان په تاريخ کې د لومړۍ سپورتي مجلې (لوبه) مسول مدیر هم پاتې شوی دی.

او داسې نورې .... .

جاويداحمد د پاکستان ترڅنګ د نړۍ نورو هېوادونو ته علمي او په ځينو کنفرانسونو کې د ګډون په موخه سفرونه کړي دي، لکه:

امريکا، جاپان، ترکیه، سعودي عربستان، فرانسه، بلجیم، اتریش، هندوستان، چین او نور.... .

پخواني ولسمشر حامد کرزي او د ناټو د قواو مشرتابه په ستاينليکونو نازولی دی. په پښتو او دري ژبو مکمل پوهېږي او د دې ترڅنګ په انګلیسي، عربي او اردو ژبو هم خبرې کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- نوید احمد د مولوي حافظ محمد نذیر زوی:** په ۱۳۵۸ل. کال د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په ولایتو کلي کې زېږېدلی دی. نوموړی اوس هم د ننگرهار ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې اوسېږي.

**۳- مجاهد جمال احمد د مولوي حافظ محمد نذیر زوی:** په کال ۱۹۸۰م. د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زېږېدلی دی. نوموړی اوس هم د ننگرهار ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې اوسېږي.

**۴- کمال احمد د مولوي حافظ محمد نذیر زوی:** په کال ۱۳۶۳ل د هجرت په دیار پېښور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ، ثانوي او تر دولسم ټولگي پورې زده کړې یې د شهاب الدین غوري په عالي لیسه کې تکمیل کړي دي، بیا د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي څخه فارغ شوی، د کابل په کاردان پوهنتون کې یې ماسټري وکړه، چې مونوگراف یې د زراعتی صناعیو د بازار موندنې په برخه کې لیکلی وو، د ماسټرۍ تیزس یې د زعفرانو د پروسس او مصارف په اړه دی. په مختلفو دولتي او غیر دولتي ادارو کې یې دندې سرته رسولي دي.

**۵- خالد احمد د مولوي حافظ محمد نذیر زوی:** په کال ۱۹۸۶م. د دولسمې میاشتې په ۲۳مه نېټه د هجرت په دیار د پېښور په ډوره کلي کې زېږېدلی، لومړنۍ زده کړې یې د پېښور په معاذ بن جبل رضي الله عنه ښوونځي کې کړي، ثانوي او تر دولسم ټولگي زده کړې یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان شهاب الدين غوري په عالي لېسه کې بشپړې کړي دي. مختلفې دندې يې په نړيوالو او کورنيو دفترونو کې اجراء کړي دي. يو چاپي اثار د (انفارميشن تکنالوژۍ په برخه کې معلومات) په نوم لري.

**٦- محمد سعید د مولوي حافظ محمد نذير زوی:** په کال ۱۹۸٦م. د دولسمې مياشتې په ۲۳مه نېټه د هجرت په ديار د پېښور په ډوره کلي کې زېږېدلی، خالد احمد او محمد سعيد دواړه غبرګونې پيدا شوي دي. لومړنۍ، ثانوي او د دولسم ټولګي پورې زده کړې يې د شهاب الدين غوري په عالي لېسه کې تکميل کړي دي. محمد سعيد ډېرې دندې کړي دي، چې د يو څو ذکر کول يې اړين دي:

۱- له ۲۰۰۸ـ۲۰۱۳م. کال پورې د روښانه تکنالوجۍ کمیټه کې د پروژې سوپر وايزر په دنده پاتې شوی.

۲- له ۲۰۱۳ـ ۲۰۱۴م. کال پورې په اسيا پروان ترانسپورتی شرکت کې د عملياتي مدير په حيث.

۳- له ۲۰۰٦ـ۲۰۰۸م. کال پورې د وحدت ورځپاڼې کمپوزر او ډيزاينر پاتې شوی دی.

۴- په ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز کې د ويب پاڼې مسوول په دنده هم پاتې شوی دی.

او داسې نورې... .

د محمد سعيد په ځينو ورځپاڼو او مجلو کې مختلفې مقالې او رسالې چاپ شوي دي، نوموړی د شعر له خوږو هم برخمن دی او يوه شعري ټولګه يې د (سپوږمۍ) په نوم چاپ ته چمتو کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷- محفوظ الحق د مولوي حافظ محمد نذیر زوی:** په کال ۱۹۹۱م. د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په کاکړانو کلي کې زېږېدلی، لومړنۍ زده کړې یې د عبدالله بن زید رضی الله عنه په لېسه کې کړي. ثانوي زده کړې او د دولسم ټولګي د فراغت سند یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده له لېسې څخه اخیستی دی. د کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته کامیاب او له همدې پوهنځي څخه فارغ شوی دی. وروسته له فراغته یې د پژواک خبرې اژانس او کلید راډیو سره د خبریال په حیث دندې درلودې. نوموړی یو ناچاپ اثار(د معاصرو لیکوالو په اړه) لري.

## ۲- د مولوي شمس الدین د زامنو پېژندنه:

**۱- عمادالدین د مولوي شمس الدین زوی:** په کال ۱۳۶۵ل. د هجرت په دیار د پېښور په دوره کلې کې زېږېدلی دی. قرآن کریم یې له خپلې نیا بي بي څخه زده او دیني علوم یې له خپل پلار څخه زده کړي وو. لومړنۍ زده کړي یې د عبدالله بن زید رضی الله عنه ښوونځي کې کړې وې او ثانوي او تر دولسم ټولګي زده کړې یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده په عالي لېسه کې سرته رسولې وې، چې په کال ۱۳۸۴ل. کې له نوموړې لېسې څخه فارغ شوی دی. په ۱۳۸۵ل. کال کې د کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي ته بریالی او په کال ۱۳۸۹ل. کې له نوموړي پوهنځي فارغ شو. د پوهنتون په دوره کې یې مونوګراف د ( رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاقو ته کتنه ) په نوم لیکلی وو. د پوهنتون د دورې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال يې د سرخرود ولسوالۍ د امرخېلو عالي لېسه کې د ښوونکي په توګه يو کال دنده اجرا کړه، وروسته بيا د بهسودو ولسوالۍ اړوند د غازی امان الله خان په عالي لېسه کې د ښوونکي په دنده وګمارل شو. بيا د يونسکو لخوا د لعلپورې ولسوالۍ د سواد زده کړې د آمر په صفت مقرر شو، بيا د پوهنې د کچې د لوړوالي د ملي پروګرام لخوا د ګوشتې ولسوالۍ د ښوونځيو لپاره د ټولنيز کار کوونکي په توګه دنده واخيسته. نوموړي د بهسودو ولسوالۍ د سواد زده کړې د آمر په توګه هم دنده اجراء کړې ده. په پښتو او درې ژبو مکمل پوهېږي. د عربي، انګليسي او اردو ژبو ترڅنګ په کمپيوټر هم پوهېږي. عماد الدين يو چاپي اثار د (درسول الله ص صورت ،سيرت او سياست) په نوم لري.

**۲- بدرالدين د مولوي شمس الدين زوی:** په کال ۱۳۷۰ل. د هجرت په ديار د پېښور په ډوره کلي کې زېږېدلی، په ۱۳۷۷ل. کال د قلعه جانان خان عالی لېسه کې شامل او په کال ۱۳۸۹ل. کې له نوموړې لېسې څخه فارغ شو. په کال ۱۳۹۰ل. کې د کانکور ازموينې له لارې د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي ته بريالی شو او تر اخېره يې ولوست.

**۳- حسام الدين د مولوي شمس الدين زوی:** په کال ۱۳۷۲ل. د هجرت په ديار د پېښور په پاوکی کلي کې زېږېدلی، لومړنۍ زده کړې يې په ۱۳۷۸ل. کال د ناهيد شهيد ښوونځي کې شروع کړې، بيا يې ځان د قلعه جانان خان لېسې ته بدل او په کال ۱۳۸۹ل. کې له نوموړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېسې څخه فارغ شو. بیا په کال ۱۳۹۳ل. کې د کابل ولایت د اداره او حسابدارۍ انستیتوت څخه فارغ شوی.

**۴- عبیدالله د مولوي شمس الدین زوی:** په ۱۳۷٦ل. د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي په یوې دینداري کورنۍ کې زیږېدلی دی.

**۵- یونس د مولوي شمس الدین زوی:** په کال ۱۳۷۹ل. د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي په یوې دینداري کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی.

**۲- د مولوي شمس الحق د زامنو پېژندنه:**

**۱- نجم الحق د مولوي شمس الحق زوی:** په کال ۱۳۷۲ل. د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوې دینداري کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی. د ننگرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي د ریاضي له څانگې فارغ شوی.

**۲ - سلیمان د مولوي شمس الحق زوی:** په کال ۱۹۹۹م. د اومې میاشتې په لومړۍ نېټه د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوې دینداري کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی. اوسمهال د ننگرهار پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي زده کړیال دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- سلمان د مولوي شمس الحق زوی:** په کال ۲۰۰۲م. د دویمې میاشتې په شلمه نېټه د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوې دینداري کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی. اوسمهال د هیمم صاحب په شرعي دارالعلوم کې زده کړیال دی.

**۴- مدثر د مولوي شمس الحق زوی:** په کال ۲۰۰۷م. د شپږمې میاشتې په درېیمه نېټه د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوې دینداري کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی.

## ۳- د ملا میر محمد درېیم زوی مولوي محمد سالم

مولوي محمد سالم د ملا میرمحمد درېیم زوی دی، د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. دا هم لکه د نورو وروڼو په شان لوی دیني عالم و. ملا محمد سالم جان دوه زامن لري، چې یو یې مولوي غلام حیدر او بل یې مولوي محمد حنیف نومېده.

## د مولوي محمد سالم د زامنو پېژندنه:

**۱- مولوي غلام حیدر د مولوي محمد سالم زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. نوموړی د نجم الدین اخندزاده له مدرسې فارغ شوی وو، چې د لوړ استعداد او انساني کرامت څښتن وو. د نظامي محکمې د مرستیالۍ او سرپرستۍ نه نیولې ان د دولت په لوړو ادارو کې یې دندې اجراء کړې وې او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمه کې د یو لوی مخور او دیني عالم په حیث پېژندل شوی شخصیت وو. مولوي غلام حیدر شپږ زامن لري، چې عبارت دي له:
۱- غلام فاروق، ۲- ضیاءوالحق، ۳- منهاج الحق، ۴- سراج الحق، ۵- ذولکفل، ٦- ذوالقرنین.

**۲- مولوي محمد حنیف د مولوي محمد سالم زوی:** په کال ۱۳۱۸ل د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوې دینداري او روڼ اندې کورنۍ کې زېږېدلی دی. خپلې ابتدایه زده کړې یې په اسلامي علومو کې د خپل مشر مولوي صاحب محمد جعفر څخه پوره کړې وې، بیا د سویې ازموینې په ورکړې سره یې خپلې لوړې زده کړې د کابل په عربي دارالعلوم کې په ډېره ښه بڼه د لیسانس تر دورې پورې ورسولې. د امامت او خطابت ترڅنګ یې په کابل کې د غازي، شیوکیو او فرزي په لېسو کې د تفسیر او فقهې د استاد په حیث دنده کړېده. په زرګونه ځوانان یې په اسلامي او دیني روحیې روزلي دي. د هجرت او جهاد په دوره کې دی د تعلیم تربیې، د مهاجرینو او د مجاهدینو د بچیانو لپاره د زده کړې او روزنې د برابرولو د عمومي تفتیش په حیث د یو اسلامي ګوند سره نه ستړې کېدونکې هڅې کړي دي. دی د جهاد په سنګرونو کې د مجاهدینو لپاره د تنویر او تبلیغ د ټیم غړی او مختلفو جبهاتو کې یې ګډون درلود. دی د افغانستان د نهضت العلماء د مشورتي بورد غړی دی او د افغانستان د سترې محکمې د دارالافتاء متقاعد غړی هم دی په فقه او اصولو کې یو منل شوی عالم دی. مولوي صاحب پنځه زامن لري، چې عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- فضل غني، ۲- عبدالخبیر، ۳- عبدالنافع، ۴- عبدالبصیر، ۵- عبدالنصیر.

## ۱- د مولوي غلام حیدر د زامنو پېژندنه:

مولوي غلام حیدر شپږ زامن لري، چې نومونه یې په ترتیب سره په لاندې ډول دي:

۱- **غلام فاروق**، ۲- **ضیاءوالحق**، ۳- **منهاج الحق**، ۴- **سراج الحق**، ۵- **ذولکفل**، ٦- **ذوالقرنین**.

**یادونه:** د دې ټولو د پیداښت د پیدا کېدو ځای د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

## ۲- د مولوي محمد حنیف د زامنو پېژندنه:

**۱- فضل غني د مولوي محمد حنیف زوی:** په ۱۳۵۲ل کال د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کې په یوې دینداري او روڼ انده کورنۍ کې زیږېدلی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د هجرت په دیار د امام ابو حنیفه رحمه الله په عالي مدرسه کې بشپړې کړې دي. د لیسانس دوره یې د الاکادمیة الاسلامیه للعلوم والتقنیة په اکاډمۍ کې د عربي ژبې په څانګه او ماستري یې هم د عربي ژبې په ادبیاتو کې د پېښور پوهنتون ( اسلامیک سنټر ) او دوکتورا یې په شریعت او قانون کې له همدې پوهنتون څخه په کال ۱۹۹۹م. کې اخیستې ده. نوموړي پدې دوران کې ګڼې ټولنیزې دندې هم درلودې، د تدریس تر څنګ دی د الفجر اسلامي کلتور د مرکز بنسټ اېښودونکی او په سلونو زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړیال یې روزلي دي. د الفجر د جریدې مدیر او د الاصلاح د خپرونې مؤسس هم وو. د هجرت په دوران کې یې گڼې لیکنې، لکه: نبوي سیرت درسونه او عبرتونه، د عربي ژبې قاموس ( المورد المتداول)، د رڼا په لور، قدس قبله اول مسلمانان، قواعد اللغة العربیه، په انگلیسي ژبه پروف فار د اکستنس اف الله، تروږمۍ کې مشالونو او داسې نورې لیکنې بې حسابه مقالې ... چاپ شوي دی د افغانستان د نهضت العلماء مؤسس دی، چې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې څانگې لري او د ۶۰۰۰ څخه زیا ت علماء پکې ثبت دي. د افغانستان نهضت العلماء په پنځه اصولو ولاړ دی:

۱- اسلام وسطیت، ۲- ټولنیز عدالت، ۳- تسامح، ۴- توازن، ۵- شورا.

فضل غني کاکړ د نکهو د موسسې رئیس او په افغانستان کې د تلپاتې سولې لپاره یو ټولنیز فعال دیني عالم دی. نوموړی د کابل په بتخاک کې د النور د اسلامي مرکز او د احمد شاه بابا په مینه کې د اندونیزیا د اسلامي مرکز پالونکی او بنسټ ایښودونکی. د علماو په نوښت د سولې د بهیر په ملي او نړیواله کچه غږی او د جاکارتا، بوگور، جدې او مکې مکرمې د سولې د کنفرانسونو گډون وال هم پاتې شوی او همدارنگه په ملي او بین المللي گڼو کنفرانسونو کې یې د افغانستان د مدني ټولنې او د علماو په استازیتوب گډون کړی دی.

**۲- عبدالخبیر د مولوي محمد حنیف زوی:** د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- عبدالنافع د مولوي محمد حنیف زوی:** د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

**۴- عبدالبصیر د مولوي محمد حنیف زوی:** د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

**۵- عبدالنصیر د مولوي محمد حنیف زوی:** د زېږېدلو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

## ۴- د ملا میر محمد څلورم زوی ملا ظفر گل

ملا ظفر گل د ملا میر محمد څلورم زوی دی، دا هم لکه د نورو ورونو په شان پوه او لوی دیني عالم و. ملا ظفر گل څلور زامن درلودل، چې عبارت دي له:

۱- عبدالقادر، ۲- عبدالحبیب، ۳- عبدالقدیر، ۴- عبدالکریم.

## د ملا ظفر گل د زامنو پېژندنه:

**۱- عبدالقادر د ملا ظفر گل زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. عبدالقادر د خپل پلار او ترونو په شان یو مدبر او خیرخوا انسان وو، نوموړي دوه ودونه کړي وو، له مشرې مېرمنې یې څلور زامن درلودل، چې عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- غلام قادر، ۲- محمد صدیق،۳- عبدالبصیر، ۴- احسان الله.
عبدالقادر له دویمې مېرمنې نه درې زامن لري، چې عبارت دي له:
۱- رفیع الله، ۲- شفیع الله، ۳- سمیع الله.

**۲- عبدالحبیب د ملا ظفر ګل زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. عبدالحبیب د پخوانۍ ښوونیزې دورې د شپږم ټولګي فارغ او صحي منځنۍ زده کړې ( بېړنۍ طبي زده کړې ) یې کړې وې. نوموړی په کال ۱۳۵۲لمریز کې وفات او په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو. ډاکټر عبدالحبیب دوه زامن لري، چې عبارت دي له:
۱- عبدالکبیر، ۲- ولی الله.

**۳- عبدالقدیر د ملا ظفر ګل زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. عبدالقدیر د پخوانۍ ښوونیزې دورې د شپږم ټولګي فارغ او بېړنې صحي زده کړې یې کړې وې، په کال ۱۳۹۰لمریز کې د ورپېښې ناروغۍ له امله وفات او په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو. عبدالقدیر پنځه نارینه اولادونه لري، چې عبارت دي له:
۱- ولي محمد، ۲- ذکرالله، ۳- شکرالله، ۴- محب الله، ۵- وسیم الله.

**۴- عبدالکریم د ملا ظفر ګل زوی:** د پیدایښت نېټه یې د پېژند پاڼې له مخې ۴۱ یو څلوېښت کلن د ۱۳۶۳ل کال او د زېږېدلو ځای یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګرهـار ولایــت د بهســودو ولســوالۍ د کــاکړانو کلــی دی. د پخــوانۍ ښــوونیزې دورې د څلــورم ټــولګي څخــه فــارغ شــوی دی. نومــوړی د ننګرهار ولایت د جلال آباد ښار د عبـدالوکیل د ښـوونځي تحویلـدار او کروندګر وو، نوموړی په ۱۳٦۴لمریز کال د خپل مشر زوی محمــد طاهر سره یو ځای د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې د روسي یرغلګرو لخوا په بې رحمانه ډول په شهادت ورسـېده. عبـدالکریم دوه زامن درلودل، چې عبارت دي له:

۱- محمد طاهر، ۲- محمد جمیل.

## ۱- د عبدالقادر د زامنو پېژندنه:

**۱- غلام قــادر د عبــدالقادر زوی:** د پیـدا کېـدو ځـای یـې د ننګرهـار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی درې زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- رحیم الله، ۲- رحمت الله، ۳- طالب.

**۲- محمد صدیق د عبدالقادر زوی:** د پیدا کېدو ځـای یـې د ننګرهـار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی دوه زامن لـري، چې عبارت دي له:

۱- محمد نصیر، ۲- عتیق الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- عبدالبصیر د عبدالقادر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی څلور زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- عبدالظاهر ، ۲- محمد قاسم، ۳- محمد هاشم، ۴- محمد صابر.

## ۱- د غلام قادر د زامنو پېژندنه:

**۱- رحیم الله د غلام قادر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

**۲- رحمت الله د غلام قادر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

**۳- طالب د غلام قادر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

## ۲- د محمد صدیق د زامنو پېژندنه:

**۱- محمد نصیر د محمد صدیق زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی او تر دولسم ټولګي پورې یې زده کړې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- عتیق الله د محمد صدیق زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی او اوسمهال زده کوونکی دی.

## ۳- د عبدالبصیر د زامنو پېژندنه:

**۱- عبدالظاهر د عبدالبصیر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

**۲- محمد قاسم د عبدالبصیر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی او د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د انگلیسي څانگې څخه فارغ دی.

**۳- محمد هاشم د عبدالبصیر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

**۴- محمد صابر د عبدالبصیر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

**یادونه:** د عبدالقادر د دویمې مېرمنې څخه چې کوم درې نارینه (**رفیع الله،شفیع الله او سمیع الله**) اولادونه دي، هغه کوچني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- د عبدالقدیر د زامنو پېژندنه:

**۱- ولي محمد د عبدالقدیر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی دی.

**۲- ذکرالله د عبدالقدیر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. خپل ژوند د روزمره کار له مخې مخته وړي.

**۳- شکرالله د عبدالقدیر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. خپل ژوند د روزمره کار له مخې مخته وړي.

**۴- محب الله د عبدالقدیر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. د کندهار پوهنتون له شرعیاتو پوهنځي څخه یې د لیسانس دیپلوم اخیستی دی.

**۵ - وسیم الله د عبدالقدیر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. نوموړی د پېښور ښار د شهاب الدین غوري عالي لېسې له دولسم ټولګي فارغ شوی او اوس مهال معلوماتي تکنالوجست دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- د عبدالکريم د زامنو پېژندنه:

**۱- محمد طاهر د عبدالکريم زوی:** د پيدا کېدو ځای يې د ننگرهار ولايت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. د واده ښځه يې شپږ مياشتې تېرې نه وې او لا د نهم ټولگي زده کوونکی و، چې په وروستيو د کال ۱۳٦۴لمريز د روسي يرغلگرو له لورې په ځوانه ځوانۍ کې له خپل پلار سره یوځای شهید شو. عبدالکريم او محمد طاهر يې پر صورت، ټټر او د بدن په نورو برخو په مرميو وېشتلي وو. د شهېدانو د تدفين لپاره په کلي کې نارينه نه وو پاتې، له دې پېښې مخکې يې کلی پرابښی وو. بي بي فاطمه د عبدالکريم غيرتي مېرمن او د محمد طاهر بهادره مور پخپلو لاسونو خپل شهيد شوي خاوند او زوی ته قبر اوباسي او په خپله يې خاورو ته سپاري. د شهېد محمد طاهر له شهادت وروسته الله تعالی د دې مېرمنې ته په کال ۱۳٦۷لمريز زوی ورکړ، چې د هغه نوم محمد طيب دی.

**۲- محمد جميل د عبدالکريم زوی:** د پيدايښت نيټه يې د پېژند پاڼې له مخې دوه کلن د ۱۳٦۳لمريز کال، د زېږېدو ځای يې د ننگرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي دی. د قرآن کريم له حفظ سره يې په کال ۱۳۸۸لمريز د ننگرهار عالي دارالمعلمين د بيولوژي له څانگې څوارلسم پاس فارغ شوی دی، همدارنگه يې په حقوقو او سياسي علومو کې د ليسانس تر کچې زده کړې کړي دي. نوموړی اوس مهال د ننگرهار ولايت د جلال آباد ښار د عربانو په لېسه کې د ښوونکي دنده لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د ملا میر محمد پنځم زوی مولوي محمد جعفر

د مولوي محمد جعفر د پیدا کېدو ځای د ننګرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. مولوي محمد جعفر ته الله تعالی په علم، عرفان، دعوت، تبلیغ او تزکیه د نفس کې لوی مقام ور په برخه کړی وو. په هېواد کې د لومړنیو زده کړو نه وروسته د هېواد د ستر غازي او عالم حضرت خواجه امام الدین صاحب د ښوونې وروسته هندوستان ته د نورو زده کړو لپاره ولاړ او هلته د شرعي او عربي علومو لکه: صرف، نحو، تفسیر، حدیث، فقه، عقاید، سیرت، تاریخ، منطق، فلکیات او طب کې یې په لوړ مقام زده کړې وکړې. د حضرت خواجه امام الدین صاحب په ملګرتیا بېرته افغانستان ته راستون شو. مولوي محمد جعفر د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي ته په رسېدو یې په ۱۲۹۲المریز کال کې یوه دیني مدرسه تأسس او همدې ته یې ترجیح ورکړه. ٦۹ کاله مسلسل یې تدریس، تربیت، ارشاد او تبلیغ کولو نه وروسته په ۱۳۴۰المریز کال د قوس د میاشتې په ۲۳ مه د پنجشنبې په ورځ له دې فاني نړۍ سره خدای په اماني وکړه او د پلن غر په هدیره کې د حضرت خواجه امام الدین صاحب مقبرې تر څېرمه دفن شو. مولوي محمد جعفر درې زامن درلودل، چې عبارت دي له:

۱- مولوي محمد ابراهیم، ۲- مولوي محمد اسماعیل، ۳- الحافظ مولوي محمد اسرار الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د مولوي محمد جعفر د زامنو پېژندنه:

### ۱- مولوي محمد ابراهیم همیم کاکړ د مولوي محمد جعفر زوی:

مولوي محمد ابراهیم په ۱۳۱۴لمریز کال کې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي په یوې دینداري او روڼ اندې کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی، لا د اوو کالو نه وو چې د قرآن کریم په ختم مشرف شو او وروسته بیا د نجم المدارس په عالي مدرسه کې شامل او په ۱۳۴۱لمریز کال له همدې مدرسې نه فارغ او په یاده مدرسه کې د استاد په حیث مقرر شو. په ۱۳۴۴لمریز کال کې د ننګرهار عالي دارالمعلمین کې استاد او په همدې کال یې د مسلمان ځوانانو د تنظیم بنسټ کېښود. د نوموړي د اسلامي مبارزې او بلنې لړۍ لا د مدرسې د شاګردۍ له شېبو څخه پیل شوې وه، ورځ تر بلې یې د ښوونې او روزنې له لارې مبارزه تانده کېده. د وخت چارواکو هغه د دارالمعلمین نه د ننګرهار عالي لېسې ته تبدیل کړ، د انسان په هر شر کې خیر وي؛ د ده هم پدې بدلون کې خیر وو، له بدلون سره د ده غورځنګ لا پیاوړی شو، د ننګرهار د لېسې په ګډون د نورو لېسو او ښوونځیو ژمن او مسلمان ځوانان او استادان ورسره ملګري شول. په ۱۳۵۸لمریز کال کې زنداني او د زندان په سختو حالاتو کې یې د شهادت جام نوش کړ. نوموړي پخپل مبارز ژوند کې لیکنې هم کړي دي، چې د چاپ شویو آثارو نومونه یې په لاندې ډول دي:

۱- د دیني علومو اصول تدریس.

۲- د قرآن اجتماع

۳- سیرت النبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- د قرآن پلوشې (حمدونه او نعتونه) شعري ټولګه.

مولوي صاحب همیم د اوو زامنو پلار وو، چې نومونه یې په لاندې ډول په ترتیب سره دي:

۱- طالب العلم حفظ الرحمن، ۲- مولوي مشتاق احمد، ۳- مولوي شایق احمد، ۴- مولوي واثق احمد، ۵- طارق احمد، ٦- باعث احمد، ۷- صادق احمد

**۲- مولوي محمد اسماعیل (مولانا صاحب) د مولوي محمد جعفر زوی:** د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي په یوې دینداري او روڼ انده کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی . مولوي محمد اسماعیل شپږ زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- مولوي ډاکټر حمدالله، ۲- مولوي نثار احمد، ۳- ډاکټر افتخار احمد، ۵- حافظ رضوان الله، ٦- شهید مولوي اعزازالله.

**۳- مولوي حافظ محمد اسرارالله د مولوی محمد جعفر زوی:** په کال ۱۳۲۷ل د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو د کلي په یوې دینداري کورنۍ کې زیږیدلی دی. کله چې د لوست سن ته ورسېد، د خپل کور چې د یوې مدرسې حیثیت یې درلوده د کوچنیتوب په دوره کې یې له خپل والد صاحب نه علاوه له خپل مشر ورور هیمم صاحب ا و د خپل پلار د تره زوی مولوي صاحب غلام حیدر څخه خپل درس پیل کړ، چې هغه وخت د خصوصي مدارسو په تدریسي نصاب کې د قرآن کریم په ناظرې یادولو نه وروسته (پنج کتاب، ماتخفة

(c) ketabton.com: The Digital Library



النصایح، گلستان، بوستان خواجه حافظ او د داسې نورو کتابونو تر څنګ د خط املاء او انشاء او څه ناڅه د حساب درسونه ویل کېده) لوستي دي او د قرآن کریم د حفظ لپاره د جلال اباد ښار د بهسودو دروازې د فیل خانې جامع جومات ته ولاړ او هلته یې د قرآن کریم په حفظ پیل وکړ او ضمناً یې د نجم المدارس د شمول لپاره چې کتابونه شرط ول ولوست او په ۱۳۴۲ل کال کې په نوموړې مدرسه کې شامل او وروسته په اعلی درجه ورڅخه فارغ شو. قاري صاحب یو ملي او نړیوال شخصیت دی، د ټولنې د اصلاح بنسټ ایښودونکی وو، چې ان د حج او اوقافو وزارت پیشنهاد هم ورته شوی وو، که د ده په اړه او د ده د کړیو کارونو په اړه چې څومره لیکل وشي، نو کم به وي. نوموړي ډېری سفرونه د نړۍ ګڼو هېوادونو ته کړي او د ګڼو نړیوالو کنفرانسونو ګډونوال پاتې شوی دی. حافظ مولوي محمد اسرار الله شپږ زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- استاد فضل الله، ۲- عزیز احمد، ۳- حافظ فیاض احمد، ۴- الطاف احمد، ۵- محمد مدني، ٦- عبدالرشید.

## ۱- د مولوي محمد ابراهیم همیم کاکړ د زامنو پېژندنه:

**۱- حفظ الرحمن د مولوي محمد ابراهیم همیم زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت، د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلی دی. په ۱۳۵۸لمریز کال کې یې د نجم الدین اخندزاده په مدرسه کې خپلې دیني زده کړې کولې، چې د مدرسې د لارې په اوږدو کې د موټر د نسکورېدو له امله په شهادت ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- مولوي مشتاق احمد د مولوي محمد ابراهیم همیم زوی:** په ۱۳۴۸ل کال د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي په یوې دینداري او علم پروري کورنې کې دې نړۍ ته راغلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده په ښوونځي کې بشپړې کړي دي، منځنۍ زده کړې یې د مهاجرت په دور کې د پېښور په الهجرة و الجهاد مدرسه کې کړي دي، هملته یې د امام ابو حنیفه رحمه الله له معهد څخه د څوارلسم سند اخیستی. د لیسانس سند یې د سعودي عربستان هېواد د مدینې منورې له اسلامي پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي څخه ترلاسه کړی دی، له سعودي هېواد وروسته بېرته د پېښور ښار ته راغی او ماستري یې دلته په علوم دیني او عربي ادبیاتو کې وکړه. د ژوند په دې اوږد مزل کې یې ډېرې دندې کړي دي، چې د ځینو یادونه یې اړینه بولم:

۱- پنځلس کاله د پېښور د امام ابو حنیفه رحمه الله په درالمعلمین کې استاد پاتې شوی.

۲- پنځه کاله د پېښور د امام ابوحنیفه رحمه الله په پوهنتون کې د عربي ژبې د ادبیاتو استاد.

۳- په کال ۱۳۹۳ل کې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د همیم صاحب په دارالعلوم کې استاد.

۴- په کال ۱۳۹۳ل د ننگرهار ولایت مرکز جلال آباد، په ښار انستیتوت کې د عربي ژبې او ادبیاتو استاد.

نوموړی چاپ او ناچاپ آثار هم لري:

چاپ شوي آثار یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- سوله ایز ژوند په اسلام کې.
۲- د کتابخانې اصول په عربي ژبه کې.
نا چاپ:
۱- د تدریس وسایل ( تدریسی میتودونه ) په عربي ژبه کې.
مولوي مشتاق احمد دوه زامن لري، چې مشر یې صهیب او کشر یې عمر نومېږي.

**۳- مولوی شایق احمد د مولوي محمد ابراهیم همیم زوی:** په ۱۳۴۹ل کال د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي په یوې دینداري او علم پرورې کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی. لومړنۍ زده کړې د خیبر پښتونخوا د پېښور ښار د ابو سفیان رضی الله عنه ښوونځي کې کړي، منځنۍ زده کړې یې هم هملته د الهجرة والجهاد مدرسه کې کړي، د لیسانس سند یې د سعودي عربستان هېواد د امام محمد بن سعود اسلامي پوهنتون د حدیثو له پوهنځي څخه اخیستی دی. بېرته د پاکستان پېښور ښار ته راغی او ماسټري یې په علوم دیني کې د پېښور پوهنتون څخه واخیسته.
نوموړي ډېرې دندې هم کړي دي، د ځینو یادول یې دلته اړین بولم:
۱- د پېښور په دارالربیعه کې استاد.
۲- د جلال اباد ښار، د امام بخاري په مدرسه کې استاد.
۳- د جلال اباد ښار، په منځني طبي زده کړو انستیتوت کې استاد.
۴- په کال ۱۳۹۳ل د بهسودو ولسوالۍ، د همیم صاحب په دارالعلوم کې استاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- پـه کـال ۱۳۹۳ل د جـلال آبـاد، تعلـیم القـران والسـنه پـه مدرسـه کې استاد.

٦- د جلال آباد ښار، د ابی ابن کعب رضی الله عنه په مدرسه کې استاد.

نوموړی د ژوند له ټولو مصرفیتونو سره سره چاپي آثار هم لري:

۱- د ښـځو د حقوقـو څخـه دفـاع پـه قـرآن کـریم او سـنتو کـې (پښـتو او دري).

۲- آیا په اسلام کې بدعت شته؟ (پښتو).

۳- آیا د بدل نکاح روا ده؟ (پښتو).

او داسې نورې لیکنې هم لري، چې دلته یې په همدې درېیو بسنه کوو.

مولوي شایق احمد درې زامن لري، چې عبارت دي له:

۱- اسحق، ۲- ایوب، ۳- عبدالله.

**۴- مولوي واثـق احمـد د مولـوي محمـد ابـراهیم همـیم زوی:** پـه ۱۳۵۱ل کال د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي پـه یـوې دینداري کورنۍ کـې دې نـړۍ تـه راغلـی. لـومړنۍ زده کـړې د خېبر پښتونخوا د پېښور ښار د ابو سفیان رضی الله عنـه ښـوونځی کـې کـړي، منځنۍ زده کړې یې هم هملته د الهجرة والجهاد مدرسـه کـې کـړي، د لیسانس سند یې د قطر هېواد د اسلامي پوهنتون څخه اخیستی، بېرته د پېښور ښار ته راغی او ماسټري یې په علوم دیني کې د پېښـور پوهنتـون څخه واخیسته. د ژوند په اوږدو کې یې ډېری دنـدې اجـراء کـړي دي، چې د ځینو یادونه یې دلته کوم:

۱- د پاکستان د هریپور په دارحراء مدرسه کې استاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د پاکستان د پېښور په امام بخاري رحمه الله مدرسه کې استاد.
۳- د خبیب رضی الله عنه په مدرسه کې استاد.
۴- د معاذ بن جبل رضی الله عنه د مدرسې مدیر.
۵- د امر د ماین پاکۍ د موسسې مالي مسوول.
٦- د کابل د خانه نور په خصوصي پوهنتون کې استاد.

یو چاپ شوی آثار د ( اسیرالکلام فی معانی کلمات القرآن کریم ) په نوم هم لري، چې له عربي ژبې څخه یې پښتو ته ژباړلی دی.

د مولوي محمد ابراهیم همیم درې بچې **طارق احمد**، **باعث احمد** او **صادق احمد**، چې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په ولایتو کلي کې پیدا شوي دی. درې واړو په کوچنیتوب کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي.

## ۵- د مولوي مشتاق احمد د زامنو پېژندنه:

**۱- صهیب د مولوي مشتاق احمد زوی:** په کال ۱۹۸۹م په پېښور کې زیږېدلی دی. تر دولسم ټولګي زده کړې یې د عبدالله بن زید رضی الله عنه په عالي لېسه کې بشپړې کړي دي، بیا د کابل د سلام پوهنتون د اقتصاد پو هنځي څخه فارغ شویدی.

**۲- عمر د مولوي مشتاق احمد زوی:** په کال ۱۹۹۳م په پېښور کې زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د عبدالله بن زید رضی الله عنه په لېسه کې کړي، بیا د ننګرهار ولایت د عبدالوکیل عالی لېسې له دولسم ټولګي څخه فار غ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٦- د مولوي شايق احمد د زامنو پېژندنه:

مولوي شايق احمد درې زامن د (١- **اسحق**، ٢- **ايوب**، ٣- **عبدالله**). پـه نومونو لـري، چـې درې واړه کـوچني دي، د دې درې واړ د پيداېښـت ځای يې د ننګرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ د ولايتو کلی دی.

## ٧- د مولوي واثق احمد د زامنو پېژندنه:

مولوي واثق احمد څلور زامن د (١- **يوسف**، ٢- **حمـزه**، ٣- **حنظلـه**، ۴- **محمد**). په نومونو لري، چې څلور واړه کوچني دي، د دې څلور واړو د پيداېښـت ځـای يـې د ننګرهـار ولايـت د بهسـودو ولسـوالۍ د ولايتـو کلی دی.

## ٢- د مولوي محمد اسماعيل د زامنو پېژندنه:

**١- مولـوي ډاکټـر حمـدالله د مولـوي محمـد اسـماعيل زوی:** د پيداېښت ځای يې د ننګرهار ولايـت د بهسـودو ولسـوالۍ د ولايتـو کلـی دی. په کال ٢٠٠٣م کې يې د بهاولپور لـه اسلامي پوهنتـون د شريعـاتو پوهنځي څخه يـې د قـرآن کـريم پـه تفسـير کـې دوکتـورا واخيسـته، د حديثو دوره يې د پېښور شيخ صاحب حسن جان څخه کړې وه، چې د لوړ ذکاوت څښـتن او پـوه عـالم دی. د ننګرهـار پوهنتـون د سـاينس او تکنالوجۍ پوهنځي استاد، مدافع وکيل او د ننګرهـار ولايـت د بهسـودو ولسوالۍ د پلن غر د جامع جومات خطيب هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- مولوی نثار احمد د مولـوي محمـد اسـماعیل زوی:** د پیداښـت ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلی دی. د پېښور پوهنتون د عربي ادبیاتو په څانګه کې یې ماسټري کړې او خپلې نـورې لوړې زده کړې یې د کویټ او سعودي عربستان هېوادونـو کـې کـړي دي. په ۱۳۹۳لمریز کال کې حقوقي مشاور او د پوهنتون استاد وو.

**۳- ډاکټر افتخار احمد د مولوي محمد اسـماعیل زوی:** د پیداښـت ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلی دی. د اسلام آباد د نړیوال اسلامي پوهنتون څخه یې د حدیثو په علـم کـې دوکتـورا اخیستې ده، په ۲۰۱۲م کال کې د کابل پوهنتون د شریعاتو په پوهنځي کـې اسـتاد او پـه ۱۳۹۳ لمریـز کـال کـې د بـاختر پوهنتـون د حقوقـو پوهنځي رئیس هم وو.

**۴- مولوي فیضان احمد د مولوي محمد اسماعیل زوی:** د پیداښـت ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلی دی. د پېښور د فاضل وفاق المدارس څخه فارغ او خپله ماسټري یـې پـه پالیسـۍ او عامه اداره کې د امریکا د متحده ایالاتو څخه اخیستې ده. په پوهنتـون کې د استادۍ دنده لري او د ګران افغانستان د اقتصاد وزارت د بشـري منابعو ریاست رئیس هم دی.

**۵- حافظ رضوان الله د مولـوي محمـد اسـماعیل زوی:** د پیداښـت ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي دی. د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



آباد د نړیوال پوهنتون د شریعاتو او قانون پوهنځي څخه فارغ شوی دی. دنده یې حقوقي مشاور او مدافع وکالت دی.

**٦- شهید مولوي اعزازالله د مولوي محمد اسماعیل زوی:** پیداېښت یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي کې شوی دی، لا د ننګرهار پوهنتون د شریعاتو د پوهنځي د څلورم کال زده کړیال و، چې په ۲۰۱۱م کال کې د ننګرهار ولایت د چکنوریو د افغان مېنې شمال ختیځه برخه کې د سیند په اوبو کې لاهو او د شهادت جام یې نوش کړ.

**۳- د حافظ محمد اسرارالله د زامنو پېژندنه:**

**۱- استاد فضل الله د مولوي محمد اسرارالله زوی:** په کال ۱۹٦۸م د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د هجرت په دیار الهجرة والجهاد په عالي مدرسه کې کړیدي. د شرعیاتو ماسټري او د دوکتورا سند یې له سعودي عربستان هېواد څخه اخیستی. اوسمهال د ننګرهار اسلامي پوهنتون استاد دی. استاد د درې زامنو پلار دی، چې عبارت دي له:
۱- خبیب احمد، ۲- محمد عثمان، ۳- عمار.

**۲- عزیز احمد د مولوي محمد اسرارالله زوی:** په کال ۱۹۷۲م د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د هجرت په دیار د امام ابو حنیفه رحمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله  په عالي مدرسه کې بشپړې کړي دي، بیا د پېښور اسلامي پوهنتـون څخه فارغ شوی دی.

**۳- حـافظ فیـاض احمـد د مولـوي محمـد اسرارالله زوی:** پـه کـال ۱۹۷۵م د ننګرهـار ولایـت د بهسـودو ولسـوالۍ د ولایتـو پـه کـلي کـې زیږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د پېښور د امام ابو حنیفه رحمه الله په عالي مدرسه کې بشپړې کړي، بیا د پېښور اسلامي پوهنتون نه فارغ شوی دی.

**۴- الطاف احمد د مولوي محمـد اسرارالله زوی:** پـه کـال ۱۹۷۹م د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو پـه کـلي کـې زیږېـدلی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د هجرت په دیا ر د پېښور د عبدالله بـن زید رضی الله عنه په عالي مدرسه کې کړي، بیا په ۲۰۰۴م کال د ننګرهار اسلامي پو هنتون د طب پوهنځي څخه فارغ شویدی.

**۵- محمد مدني د مولـوي محمـد اسرارالله زوی:** پـه کـال ۱۹۸۴م د مهاجرت په دیار پېښور کې زیږېدلی دی. لـومړنۍ او منځنـۍ زده کـړې یې د هجرت په دیا ر د پېښور د استقلال په عالي لېسه کې بشـپړې کـړي دي. وروسته بیا د اسلام آباد پوهنتـون د اقتصـاد پـوهنځي څخـه یــې د لیسانس سند ترلاسه کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦- عبدالرشید د مولوي محمد اسرارالله زوی:** په کال ۱۹۸۵م کې د هجرت په دیار پېښور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د هجرت په دیار د پېښور د استقلال په عالي لېسه کې بشپړې کړي دي، بیا په ۲۰۰۸م کال کې د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي څخه فارغ شویدی. ماسټري یې په حقوقو او سیاسی علومو کې د اسلام اباد د ای جي کی پوهنتون نه په ۲۰۱۰م کال کې اخیستې ده، بیا په ۲۰۱۵م کال کې د هندوستان هېواد د ډي. ام. اس. جي. ام څخه یې په منجمنټ او رهبرۍ کې دوکتورا ترلاسه کړېده.

## د استاد فضل الله د زامنو پېژندنه:

**۱- خبیب احمد د استاد فضل الله زوی:** په کال ۱۹۸۸م د هجرت په دیار پېښور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د پېښور د استقلال په عالي لېسه بشپړې کړي دي، نوموړي لوړې زده کړې د چین په هېواد کې کړي دي.

**۲- محمد عثمان د استاد فضل الله زوی:** په کال ۱۹۹۰م د هجرت په دیار پېښور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د عبدالله بن زید رضی الله عنه په مدرسه کې کړي او منځنۍ زده کړې یې د همیم صاحب په مدرسه کې بشپړې کړي، بیا د ننګرهار اسلامي پوهنتون نه فارغ شویدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- عمار د استاد فضل الله زوی:** په ۱۹۹۵م د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د ننگرهار په عالی لېسه کې بشپړې کړې دي، بیا د ننگرهار اسلامي پوهنتون څخه فارغ شوی دی.

## ٦- د ملا میر محمد شپږم زوی ملا محمد اکبر

د ملا محمد اکبر د پیدا کېدو ځای د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. دی د نورو وروڼو په شان یو پوه، هوښیار او زیرک عالم وو، یوازې یوه لور یې د **بي بي نسیمې** په نوم درلوده، هغه یې خپل وراره عبدالمالک ته، چې د ملا محمد جان زوی وو، په نکاح ورکړې وه.

## ۷ - د ملا میر محمد اووم زوی ملا دوست محمد

د ملا دوست محمد د پیدا کېدو ځای د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. دی د نورو وروڼو په شان پوه، هوښیار او زیرک عالم وو، نوموړي پنځه زامن درلودل، چې عبارت دي له:

۱- قاري محمد مسافر، ۲- قاري محمد حسن، ۳- محمد معصوم، ۴- برهان الدین، ۵، محبوب الهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملا دوست محمد د زامنو پېژندنه:

**۱- قاري محمد مسافر د ملا دوست محمد زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳۲۱لمریز کال او د پیداېښت ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. دننګرهار ولایت له مرکزي دارالحفاظ څخه فارغ شوی. د ښوونکي او د جومات د امامت دنده یې درلوده، نوموړي د ښوونې او روزنې په برخه کې ښه خدمات افغاني ټولنې ته وړاندې کړي دي. قاري محمد مسافر څلور زامن لري، چې عبارت دي له:
۱- مولوي حفیظ الحق، ۲- انورالحق، ۳- اظهارالحق، ۴- بلال احمد.

**۲- قاري محمد حسن د ملا دوست محمد زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳۲٦لمریز کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. د ننګرهار ولایت د نجم الدین اخند زاده له مدرسې فارغ شوی او په ۱۳۸۲ل کال کې وفا ت او په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو. قاري محمد حسن څلور زامن لري، چې نومونه یې لاندې یاد شوي دي:
۱- احسان الله، ۲- عرفان الله، ۳- ریاض الله، ۴- تحیة الله.

**۳- محمد معصوم د ملا دوست محمد زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳۲۸ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. نوموړي په کال۱۹۹۲میلادي کې د سند د کراچۍ پوهنتون څخه د عمومي طب په څانګه کې زده کړې کړي او په مختلفو نړیوالو او ملي روغتیایي ادارو کې یې دنده اجراء کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر محمد معصوم په خپل مسلک کې پوه او وارد انسان وو. ډاکټر محمد معصوم شپږ زامن لري، چې عبارت دي له:
۱- انعام الله، ۲- اکرام الله، ۳- عمران الله، ۴- عون الله، ۵- فوزالله، ٦- عزیر احمد.

**۴- برهان الدین د ملا دوست محمد زوی:** د پیدایښت نېټه یې ۱۳۳۰ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. د ننگرهار ولایت د مرکزي زراعت عالي لېسې څخه فارغ شوی وو، د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د املاکو د مدیر او نورې ښې دندې یې اجراء کړې وې. نوموړی په ۱۳۸٦ل کال د زړه د ناروغۍ له امله وفات او په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو. برهان الدین شپږ زامن لري، چې عبارت دي له:
۱- شفا الله،۲- بشارت الله، ۳- وفیق الله، ۴- وثیق الله، ۵- امیر الله ٦- عطاءوالله.

**۵- محبوب الهي د ملا دوست محمد زوی:** د پیدایښت نېټه یې ۱۳۳۳ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. ابتدایه او ثانوي زده کړې یې د هجرت په دیار د پېښور د الهجرة والجهاد په عالي مدرسه کې کړي، په کال ۱۳٦۵ل کې د ملتان د وفاق المدارس د ۱۴ ټولگي څخه فارغ او بیا یې د پېښور په صدر کې د امداد العلوم په مدرسه کې د حدیثو دوره وکړه، بیا یې څلور کاله د امام ابو حنیفه رحمه الله په مدرسه استاد وو. په کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۹۷ل کې یې د الفلاح پوهنتون د اسلامیاتو د رشتې څخه د لیسانس سند واخیست، نوموړی اوسمهال د ننگرهار ولایت د محمدي صاحبزده عالي لېسه کې د ښوونکي پاکه دنده لري.

## ۱- د قاري محمد مسافر د زامنو پېژندنه:

**۱- مولوی حفیظ الحق د قاري محمد مسافر زوی:** د پیدایښت نېټه یې ۱۳۵۱ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. نوموړي په کال ۱۹۹۸م کې یې د پېښور اسلامي پوهنتون څخه په دینی علومو کې ماسټري اخیستې ده. د لوړ استعداد سره سره یې د یو رښتیني او ایمانداره عالم په صفت د استادۍ نه نیولې ان تر مدیریت پورې دندې اجراء کړي دي. لومړنۍ زده کړې یې د محمدي صاحبزاده عالي لېسه کې کړي، ثانوي زده کړې یې د امام ابو حنیفه رحمه الله په مدرسه او په کال ۱۳۷۱لمریز کې د همدې مدرسې څخه فارغ شوی دی. د امداد العلوم په جامعه کې یې د حدیثو لویه دوره کړې او په ۱۹۹۴م کال کې د ملتان وفاق المدارس العربیه نه یې د لیسانس ډیپلوم اخیستی دی. په کال ۱۹۹۸م یې د پېښور په اسلامي پوهنتون کې ماسټري وکړه، نوموړي ډېرې دندې اجراء کړي دي، چې د ځینو یادونه یې په لنډ ډول سره کوم.

۱- د میا عمر ۱ عالي لېسې مدیر.

۲- د میخانیکي لېسې مدیر.

۳- د سراچه علي خان لېسې مدیر.

۴- د محمدي صاحبزاده عالي لېسې مرستیال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- د لغمان پوهنتون استاد.
٦- د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د نسوانو لېسې امر.
۷- د بحر آباد عالي لېسې امر.
۸- د ملکه حمیرا عالي لېسې امر.
او نوموړی اوس مهال د ملنگ جان عالي لېسې د امر او د خپل جومات د امام پتوگه دنده لري.
مولوي حفیظ الحق چاپ او ناچاپ آثار هم لري، چې دلته یې یوازې د چاپ شویو آثارو ذکر کوو؛
۱- د لمانځه لومړنۍ زده کړه.
۲- سپېڅلې عقیده.
۳- ریاء او ځان ښودنه.
۴- سپېڅلي اسلامي اخلاق.
۵- مسنونې په زړه پورې دعاگانې.
٦- سپېڅلي اسلامي اداب.
۷- د گلو گېډۍ نعتونه (شعري ټولگه).
۸- ستا کوڅې ته به درځم نعتونه (شعري ټولگه).
او نور ... .
د افغانستان د مشرانو جرگې، د پوهنې وزارت، د ننگرهار ولایت مقام، د ننگرهار د پوهنې ریاست، د ودان موسسې، د بهسودو د پوهنې آمریت او د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ قومي مشرانو د ده کړي کاري خدمتونه د ستاینلیکونو په ورکولو سره ستایلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي حفیظ الحق نه یوازې یو دیني عالم، بلکې ښه لیکوال او مدیر هم دی. د دې کتاب تر لیکلو پورې د مولوي حفیظ الحق درې زامن وو، چې نومونه یې په لاندې ډول سره دي:

۱- عبدالله مصباح، ۲- مظهر واجد، ۳- فضل مولا.

**۲- انورالحق د قاري محمد مسافر زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۵۹ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. انور الحق خصوصي زده کړې کړې دي، نوموړی د دوه زامنو پلار دی، چې مشر یې مستمر او کشر یې احتشام نومېږي.

**۳- اظهارالحق د قاري محمد مسافر زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۷۱ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. په کال ۱۳۹۳ل کې د ننگرهار عالي دارالمعلمین څخه فارغ شوی او د ښوونکي دنده لري.

**۴- بلال احمد د قاري محمد مسافر زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۷۶ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. نوموړی د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده لېسې څخه فارغ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د قاري محمد حسن د زامنو پېژندنه:

**۱- احسان الله د قاري محمد حسن زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳۵۸ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. په کال ۲۰۱۴ میلادي کې یې د پېښور پوهنتون د دیني علومو په څانګه کې زده کړې وکړې. په دینی علومو کی ماسټر او په اداره او مالیي چارو هم برلاسی دی. احسان الله د دې کتاب تر کمپوز کولو پورې دوه زامن درلودل، چې مشر یې خلیل الله او کشر یې ذبیح الله نومېږي.

**۲- عرفان الله د قاري محمد حسن زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳٦٦ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. په کال ۱۳۹۳ل د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې له پوهنځی څخه فارغ شوی دی.

**۳- ریاض الله د قاري محمد حسن زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳٦۸ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. په کال ۱۳۹۱ل کې د ننګرهار عالي دارالمعلمین د ریاضی له څانګې فارغ شوی دی.

**۴- تحیة الله د قاري محمد حسن زوی:** د پیداېښت نېټه یې ۱۳۷۲ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. نوموړی معذور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- د ډاکټر محمد معصوم د زامنو پېژندنه:

**۱- انعـام الله د ډاکتـر محمـد معصـوم زوی:** د پیداښـت نېټـه یـې ۱۳٦٦ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د هجـرت پـه دیـار د پېښـور ښـار دی. په کال ۱۳۸٦ل کې د ننگرهار پوهنتون د حقوقـو پـوهنځي څخـه فارغ شوی، نوموړی د لوړ استعداد، ذکاوت او ښو احلاقـو خاونـد دی. پـه مـلي او نړیوالـو ادارو کـې یـې دنـدې اجـراء کړي دي.

**۲- اکرام الله د ډاکتـر محمـد معصـوم زوی:** د پیداښـت نېټـه یـې ۱۳٦۸ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د هجـرت پـه دیـار د پېښـور ښـار دی. په کال ۱۳۹۱ل کې د کابل د کاردان پوهنتون د کمپیـوټر ساینس پوهنځي څخه فارغ شوی دی.

**۳- عمران الله د ډاکتـر محمـد معصـوم زوی:** د پیداښـت نېټـه یـې ۱۳۷۰ل کال او د پیدا کېدو ځای یې د هجـرت پـه دیـار د پېښـور ښـار دی. په کال ۱۳۹۲ل کې د ننگرهار پوهنتون د انجینرۍ پوهنځي څخـه فارغ شوی دی.

**۴- عـون الله د ډاکتـر محمـد معصـوم زوی:** د پیداښـت نېټـه یـې ۱۳۷۲ل کـال او د پیـدا کېـدو ځـای یـې د ننگرهـار ولایـت د بهسـودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. په کال ۱۳۸۷ل کې د ننگرهار عـالي لیسـې د دولسم ټولگي څخه فارغ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵- فوزالله د ډاکټر محمد معصوم زوی:** د پيداښت نېټه يې ۱۳۷۴ل کال او د پيدا کېدو ځای يې د ننگرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. په کال ۱۳۹۱ل د ننگرهار عالي لېسې د دولسم ټولگي څخه فارغ شوی دی.

**٦- عزير احمد د ډاکټر محمد معصوم زوی:** د پيداښت نېټه يې ۱۳۷۷ل کال او د پيدا کېدو ځای يې د ننگرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی. نوموړی د عبدالوکيل عالي لېسې څخه فارغ شوی دی.

## ۴- د برهان الدين د زامنو پېژندنه:

**۱- شفا الله د برهان الدين زوی:** په کال ۱۳٦۷ل د هجرت په ديار پېښور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې پېښور کې کړي، بيا د ننگرهار ولايت ته راغلل او دلته په کال ۱۳۸۷ل د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده عالي لېسې څخه په اعلی درجه فارغ او په ۱۳۸۸ل کال کې د دولتي کانکور له لارې د ننگرهار پوهنتون کمپيوټر ساينس پوهنځي ته بريالی، خو د ځينو ستونزو له امله يې ونشوکولای تر څو نوموړی پوهنځی ولولي. په ۱۳۹۰ل کال کې د عمومي کانکور له لارې کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي ته بريالی او په کال ۱۳۹۵ل کې ترې بريالی راووت. نوموړي د پوهنځي ترڅنگ د کابل پوهنتون حقوقي يو کلن ستاژ هم بشپړ او په کال ۱۳۹۷ل کې د ازدې سيالۍ له لارې د افغانستان په لوی څارنوالۍ کې د تحقيق چارو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظارت څارنوال په حیث مقرر شو، د ستونزو له امله یې دنده نیمگړې شوه اوسمهال ام تي ان مخابراتي شرکت کې دنده لري. نوموړی اراده لري چې راتلونکې کې په نړیوالو اړیکو کې ماسټری هم وکړي.

**۲- بشارت الله د برهان الدین زوی:** په کال ۱۳۶۹ل د هجرت په دیار پېښور کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې پېښور کې کړي،بیا د ننگرهار ولایت ته راغلل او دلته په کال ۱۳۸۹ل د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده عالي لېسې څخه په اعلی درجه فارغ شوی دی. له ۱۳۸۹ل کال څخه تر ۱۳۹۱ل کال پورې یې د افغانستان تخنیکي او مسلکي زده کړو انستیتوت ولوست او په ۱۳۹۱ل کال کې د ازدې سیالۍ له لارې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په ښوونځي کې د ښوونکي په توگه دنده واخیسته. په همدې کال کې د کانکور ازموینې له لارې د ننگرهار پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځي ته بریالی او په ۱۳۹۵ل کال کې د نوموړي پوهنځي د ریاضي له څانگې څخه د کدر په نمرو فارغ شو. په ۱۳۹۷ل کال کې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په ښوونځي کې د سر ښوونکي په توگه مقرر شو.

**۳- وفیق الله د برهان الدین زوی:** د پیدایښت نېټه یې ۱۳۷۱ل کال دی. د پکتیا پوهنتون د انجینرۍ پوهنځي څخه فارغ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- وثیق الله د برهان الدین زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۷۳ل کال دی. په کال ۱۳۹۳ل کې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده لیسې څخه فارغ شوی دی.

**۵- امیر الله د برهان الدین زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۷۹ل کال دی. په کال ۱۳۹۳ل کې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده لیسې څخه فارغ شوی دی.

**٦- عطاءوالله د برهان الدین زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۸۳ل کال دی. نوموړی د ښوونځي زده کوونکی دی.

**۵- د مولوي محبوب الهي د زامنو پېژندنه:**

**۱- یحیی د مولوي محبوب الهي زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۷۹ل کال او د ښوونځي زده کوونکی دی.

**۲- اسحاق د مولوی محبوب الهي زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۸۱ل کال او د ښوونځي زده کوونکی دی.

**۳- ذکریا د مولوی محبوب الهي زوی:** د پیداښت نېټه یې ۱۳۸۳ل کال او د ښوونځي زده کوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د مولوي حفیظ الحق د زامنو پېژندنه:

**۱- عبدالله مصباح د مولـوي حفـیظ الحـق زوی:** پـه کـال ۱۳۸۲ل د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې زیږېدلی دی.

**۲- مظهر واجد د مولوي حفظ الحق زوی:** په کال ۱۳۸٦ل د ننګرهـار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې زیږېدلی دی.

**۳- فضل مولا د مولوي حفظ الحق زوی:** پـه کـال ۱۳۹۰ل د ننګرهـار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې زیږېدلی دی.

## ۲- د انورالحق د زامنو پېژندنه:

**۱- مستمر د انورالحق زوی:** په کال ۱۳۸۲ل د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې زیږېدلی دی.

**۲- احتشام الحق د انورالحق زوی:** په کال ۱۳۸۹ل د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې زیږېدلی دی.

## ۱- د قاري احسان الله د زامنو پېژندنه:

**۱- خلیل الله د قـاري احسـان الله زوی:** پـه کـال ۱۳۸٦ل د ننګرهـار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې زیږېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- ذبیح الله د قاري احسان الله زوی:** په کال ۱۳۸۷ل د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې زېږېدلی دی.

## ۲- ملا نور محمد رحمه الله

مخکې یادونه وشوه، چې ملا دوست محمد رحمه الله دوه زامن درلودل مشر زوی یې ملا میر محمد رحمه الله او کشر زوی یې ملا نور محمد رحمه الله نومېده. د ملا میر محمد رحمه الله کورنۍ خو مو مخکې وپېژندله، اوس تاسې درنو لوستونکو ته د ملا نور محمد رحمه الله کورنۍ در پېژنم.

ملا نور محمد رحمه الله هم یوه لوی دیني عالم، مدبر او پوه انسان وو، نوموړي یوازې یو نارینه اولاد د ملا راز محمد په نوم درلوده.

## ۱- د ملا نور محمد رحمه الله د زوی ملا راز محمد پېژندنه:

**۱- ملا راز محمد د ملا نور محمد زوی:** د پیدایښت ځای یې د ننګرهار ولایت دبهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، دا هم د خپل پلار او تره په شان ډېر پوه، مدبر، زیرک او په دین پوه عالم وو. نوموړي دوه ودونه کړي وو او اوه نارینه اولادونه یې درلودل، له لومړۍ مېرمنې نه یې پنځه زامن درلودل، چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

۱- جلندر، ۲- قلندر، ۳- سراج الدین، ۴- یاسین، ۵- شهاب الدین.

د دویمې مېرمنې نه یې دوه زامن درلودل، چې مشر یې عبدالقیوم او کشر یې سیف الدین نومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د ملا راز محمد د زامنو پېژندنه:

**۱- جلندر د ملا راز محمد زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی یو با ایمانه او پرهېزگاره انسان وو او کروند گر وو، نوموړی یو زوی د محمد انور په درلوده.

**۲- قلندر د ملا راز محمد زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، دا هم د خپل مشر ورور په شان په کروندگرۍ بوخت وو، نوموړي یوازې یوه لور درلوده، چې د افغانستان په کندوز ولایت کې واده شوې وه.

**۳- سراج الدین د ملا راز محمد زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی په تنکۍ ځوانۍ کې وفات شوی دی.

**۴- یاسین د ملا راز محمد زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی په تنکۍ ځوانۍ کې وفات شوی دی.

**۵- شهاب الدین د ملا راز محمد زوی:** په کال ۱۳۱۱ل د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي په یوې دینداري کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی او په کال ۱۳۸۱ل کې د پېښور په چارسده کې وفات

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی. نوموړی دوه زامن لري، چې مشر زوی یې جاجی او کشر زوی یې میراجان نومېږي.

**٦- عبدالقیوم د ملا راز محمد زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړي دوه ودونه کړي وو، چې ټول یې پنځه زامن درلودل، چې یو یې له مشر یې مېرمنې محمد نعیم او پاتې څلور (محمد مقیم، محمد مبین، محمد مسلم او محمد سلیم) یې له کشرې مېرمنې څخه وو.

**٧- سیف الدین د ملا راز محمد زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړي طبي زده کړې کړې وې او ۴۲ کاله یې د ننگرهار ولایت په ملاریا مجادله کې د هېوادوالو خدمت کړی دی. ډاکټر سیف الدین پنځه زامن درلودل، چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

۱- خالدالدین، ۲- سراج الدین، ۳- معراج الدین، ۴- اکرام الدین، ۵- اسلام الدین.

## ۱- د جلندر د زوی پېژندنه:

**۱- محمد انور د جلندر زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی یو فعال کروند گر وو. محمد انور دوه زامن درلودل، چې مشر یې عبدالغني او کشر یې امام جان نومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه:** د ملا راز محمد د **دویم زوی قلندر** یوازې یوه لور وه، چې په کندوز کې واده شوې وه.
**درېیم زوی سراج الدین** یې له واده کولو څخه مخکې وفات شوی وو او **څلورم زوی یاسین** یې هم له واده کولو څخه مخکې وفات شوی وو.

## ۵- د شهاب الدین د زامنو پېژندنه:

**۱- جاجی د شهاب الدین زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی له دولسم ټولګي څخه فارغ او د بوټانو او څپلیو د ګنډولو کار کوي. جاجي پنځه زامن لري، چې نومونه یې په لاندې ډول دي:
۱- محمد مسافر، ۲- عبدالواحد، ۳- نور آغا، ۴- نهضت یار، ۵- محمد شعیب.

**۲- میراجان د شهاب الدین زوی:** په ۱۳۳۳ل کال د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي کې زېږېدلی دی. په کال ۱۳۴۰ل کې یې خپلې لومړنۍ زده کړې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده عالي لېسه کې بشپړې کړې، په کال ۱۳۵۲ل کې له دولسم ټولګي څخه فارغ شو او له فراغت وروسته یې ښلاښلې دندې اجراء کړي دي:
۱- په کال۱۳۵۴ل کې د ننګرهار ولایت د مستوفیت کارمند شو.
۲- په کال ۱۳۵۸ل کې یې په احسان موسسه کی دنده واخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داسې نورې دندې یې هم اجراء کړې دي. میراجان پنځه زامن لري، چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

۱- نجیب الله، ۲- نقیب الله، ۳- عتیق الله، ۴- شفیق الله، ۵- حمزه.

## ٦- د عبدالقیوم د زامنو پېژندنه:

**۱- محمد نعیم د عبدالقیوم زوی:** په ۱۳۳۳ل کال د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په محمدي صاحبزاده ښوونځي کې کړي، په ۱۳۵۴ل کال کې د ننګرهار عالي لېسې له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی دی. نوموړي د خپل ژوند په دوران کې بېلابېلې دندې اجراء کړې دي، دوه کاله د انجینر عبدالغفار جهادي سر ګروپ پاتې شوی دی، دوه کاله یې د ثمرخېلو په ساحه کې عسکري هم کړې او د دې ټولو سره سره د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو په کلي کې د سواد زده کړې ښوونکی هم وو. محمد نعیم په کال ۱۳۷۹ل د زمري (اسد) په پنځه وېشتمه نېټه د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو په کلي کې د مزاېیل د لګېدو له امله له دې فاني نړۍ سره خدای په اماني وکړه او شهېد شو، نوموړی دوه زامن لري، چې مشر زوی یې قاري رحیم الله او کشر زوی یې محمد نسیم نومېږي.

**۲- محمد مقیم د عبدالقیوم زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- محمد مبین د عبدالقیوم زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

**۴- محمد مسلم د عبدالقیوم زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

**۵- محمد سلیم د عبدالقیوم زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی.

## ۷- د ډاکټر سیف الدین د زامنو پېژندنه:

**۱- خالد الدین د ډاکټر سیف الدین زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده په لېسه کې کړي، د ننګرهار پوهنتون د انجینرۍ پوهنځی یې شروع، خو د ژوند ناخوالو د همدې پوهنځي لوستو ته پرېنښود، مجبور شو او پوهنځی یې پرېښود، نوموړی اوسمهال د نجارۍ استاد او نجاري کوي.

**۲- سراج الدین د ډاکټر سیف الدین زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، په کال ۱۳۷۴ل یې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د پېښور په التقوی لېسه کې بشپړې کړي، نوموړی د التقوی پوهنتون د حقوقو پوهنځي څخه فارغ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. همدارنګه ساینس، منجمینټ، ژورنالیزم او اقتصاد پوهنځی یې لوستی او په لیډر شیپ کې ماسټري هم لري. په ملي او نړیوالو ادارو کې یې دندې اجراء کړي او د نړۍ ۲۸ مختلفو هېوادونو ته یې رسمي سفرونه کړي دي.

**۳- معراج الدین د ډاکټر سیف الدین زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د پېښور د مېرویس خان هوتک په لېسه کې کړي، په کال ۱۳۷۹ل کې له دولسم ټولګي څخه فارغ او وروسته بیا د الفلاح پوهنتون د انجینرۍ له پوهنځي څخه فارغ شوی دی.

**۴- اکرام الدین د ډاکټر سیف الدین زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، په کال ۱۳۸۱ل کې د پېښور د مېرویس خان هوتک لېسې له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی دی. په کال ۲۰۱۰م کې د کابل د کاردان پوهنتون له اقتصاد پوهنځي څخه فارغ او اوس مهال په کابل کې یو ترانسپورتي شرکت کې دنده مخته وړي.

**۵- اسلام الدین د ډاکټر سیف الدین زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، لومړنۍ، منځنۍ او تر دولسم ټولګي زده کړې یې د ننګرهار ولایت مرکز د ننګرهار عالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېسه کې بشپړې کړي، په کال ۱۳۹۲ل د پکتیا پوهنتون د انجینرۍ لـه پوهنځي څخه فارغ شوی دی.

## ۱- د محمد انور د زامنو پېژندنه:

**۱- عبدالغني د محمد انور زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی یو غریبکار او بې کبره انسان دی اوس مهال د خښتو په بټۍ کې کار کوي.

**۲- امام جان د محمد انور زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی اوس مهال موټر چلوونکی دی.

## ۱- د حاجي د زامنو پېژندنه:

**۱- محمد مسافر د حاجي زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی یو غریبکار انسان دی.

**۲- عبدالواحد د حاجي زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی د بوټانو او څپلیو ګنډلو کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- نور آغا د جاجي زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی یو غریبکار انسان دی.

**۴- نهضت یار د جاجي زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی یو غریبکار انسان دی.

**۵- محمد شعیب د جاجي زوی:** د پیدا کېدو ځای یې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلی دی، نوموړی یو غریبکار او بې غرضه انسان دی.

## ۲- د میراجان د زامنو پېژندنه:

**۱- نجیب الله د میراجان زوی:** په ۱۳۵٦ل کال د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د هجرت په دیار پېښور کې کړې، په ۱۳۷۵ل کال کې د ننگرها ر ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده لېسې لـه دولسم ټولګي څخه فارغ شوی دی. نوموړی یو څه موده له احسان موسسې سره دنده اجرا او اوسمهال په ملي اردو کې دنده لري.

**۲- نقیب الله د میراجان زوی:** په ۱۳۵۸ل کال د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي کې زېږېدلی دی. له کال ۱۳۷۱ل څخه تر کال ۱۳۷۴ل یې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د هجرت په دیار پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کړي، بیا خپل هېواد ته راغی او په۱۳۸۰ل کال کې د ننگرهار ولایت د محمدي صاحبزاده عالي لېسې څخه فارغ شوی دی. په ۱۳۸۵ل کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی دی. له ۱۳۸۳ل کال څخه تر ۱۳۹۳ل کال پورې یې د امر موسسې سره لس کلنه دنده اجراء کړې ده.

**۳- عتیق الله د میراجان زوی:** په ۱۳۶۲ل کال د ننگرهار ولایت بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي کې زیږېدلی دی. نوموړی اوس مهال په ملي وسلوال پوځ کې دنده لري.

**۴- شفیق الله د میراجان زوی:** په ۱۳۷۳ل کال د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي کې زیږېدلی دی. په ۲۰۰٦م کال کې یې خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې په پېښور کې بشپړې کړي، په ۲۰۱۱م کال کې د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده عالي لېسې څخه فارغ او بیا د ننگرهار اسلامي پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی دی.

**۵- حمزه د میراجان زوی:** په ۱۳۷۵ل کال د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي کې زیږېدلی دی. په ۱۳۸۱ل کال یې خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې پوره او په ۱۳۹۳ل کال د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده عالي لېسې څخه فارغ شوی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د ننګرهار د اسلامي پوهنتون د زراعت پوهنځي څخه فارغ شوی دی.

## د محمد نعیم د زامنو پېژندنه:

**۱- قاري رحیم الله د محمد نعیم زوی:** په ۱۳۶۲ل کال د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ولایتو کلي کې زیږېدلی دی. په کال ۱۳۸۲ل یې خپلې لومړنۍ، منځنۍ او تر دولسم ټولګي زده کړې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده لېسه کې بشپړې کړې دي. په ۱۳۸۴ل کال د شهېد همیم صاحب د دارالعلوم د حفظ القرآن له څانګې څخه په لوړو نومرو فارغ شوی. په ۱۳۸۵ل کال د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي کې شامل او په ۱۳۸۹ل کال ترې فارغ شوی دی. نوموړي له امر د ماین پاکۍ موسسې سره د ډلمشر په حیث دنده اجراء کړې ده او همدا رنګه یې د ننګرهار ولایت په پوهنې ریاست کې د ټولنیز ماموریت سرته رسولې ده. قاري رحیم الله څلور زامن لري، چې نومونه یې په لاندې ډول دي:
۱- هدایت الله، ۲- فریدالله، ۳- سبحان الله، ۴- مطیع الله.

**۲- محمد نسیم د محمد نعیم زوی:** په ۱۳۷۰ل کال د ننګرها ولایت مرکز جلال آباد په درېیمه ناحیه د حضرتانو کلي کې دې نړۍ ته راغلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د محمدي صاحبزاده لېسه کې کړي، منځنۍ زده کړې یې د ننګرهار ولایت مرکز جلال آباد د عبدالوکیل لېسه کې او د همدې لېسې له

(c) ketabton.com: The Digital Library




دولسم ټولګي څخه په ۱۳۹۱ل کال کې فارغ شوی دی. د ۱۳۹۱ل کال د سنبلې میاشتې په نولسمه نېټه د ننگرهار ولایت د پولیسو په اکاډمۍ کې شامل او د همدې کال د جدي میاشتې په اوومه نېټه له یادې اکاډمۍ څخه فارغ او د ننگرهار ولایت په روداتو ولسوالۍ کې په دنده مقرر شو. نوموړی اوسمهال د ننگرهار ولایت په حج اوقافو ریاست کې د مامور صفت دنده لري.

**د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړانو کلي د کاکړو د پېژندنې پای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د بلند ګاه کلي د کاکړانو پېژندنه:**



(c) ketabton.com: The Digital Library

**کاکړان** **134** **د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړو پېژندنه.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



**معاون فضل الدین**

↓

**عبدالظاهر**

↓

**محمد طاهر**

د دفاع وزارت له نظامي طب څخه فارغ ډاکټر.

↓

**محمد ایوب**

لیسانس، بریدمل

په ملي دفاع وزارت کې.

↓

(c) ketabton.com: The Digital Library



**معاون فضل الدین**

**شمس الدین**

**فرید**
د کانال مدیر ، بکلوریا.

**جلال الدین**
د مستوفیت مامور
لیسانس په اقتصاد کې

**ابراهیم**
خیاط ( ګنډونکی )

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کاکړان 137 د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړو پېژندنه.**

## معاون فضل الدین

## عبدالقیوم

### عبدالوهاب

ښوونکی.

### عبدالجمیل

د نقوسو د احوالو او ثبتولو ریاست کې اجیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکړان | 138 | د ننگرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د کاکړو پېژندنه.

**معاون فضل الدین**

↓

**محمد نعیم**

↓

**محمد صمیم فضلی**

۱۴ پاس، د کار او ټولنیزو چارو وزارت کار کوونکی

↓

(c) ketabton.com: The Digital Library



**معاون فضل الدین**

**عبدالقدوس**

**عبدالشکور**

له زراعت پوهنځي څخه فارغ، لیسانس

**عبدالرشید**

له اقتصاد پوهنځي څخه فارغ، لیسانس

**عبدالصبور**

د مستوفیت مامور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**معاون فضل الدين**

**محمد اسمعيل فضلي**

**محمد وسيم**

د شرعياتو د پوهنځي زده کړيال

**محمد جسيم**

زده کوونکی

**عبدالباعث**

زده کوونکی

**فريدون فضلي**

ليسانس، ښوونکی

پای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرچینې ...!

۱- محقق ډاکټر طالبي یاد عبداللطیف، پښتني قبیلې (شجرې)، پنځم چاپ ۱۳۹۴ل. کال، اسد دانش خپرندویه ټولنه،کابل.
۲- شهید مولوي کاکړ همیم محمد ابراهیم، د قرآن پلوشې، لومړی چاپ ۱۳۸۲ل. د ټولنې د اصلاح اسلامي مرکز، بهسود ـ جلال آباد.
۳- له انټرنیټ پاڼې څخه د (پښتانه کاکړ) برخه را اخیستنه.
۴- ډاکټر وحید الله د عبدالخالق زوی څخه د مولوي محمد جان د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.
۵- حاجي عبدالغفور د ملا محمد شریف زوی څخه د مولوي محمد یعقوب د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.
٦- ډاکټر عبدالبصیر د مولوي محمد حنیف زوی څخه د د مولوي محمد سالم د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.
۷- قاري محمد جمیل د عبدالکریم زوی څخه د ملا ظفر گل د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.
۸- ډاکټر الطاف احمد د مولوي محمد اسرار الله زوی څخه د مولوي محمد جعفر د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.
۹- مولوي محمد جان د ملا محمد شریف زوی څخه د مولوي محمد اکبر د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.
۱۰- مولوي محبوب الهي د مولوي دوست محمد زوی څخه د مولوي دوست د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.
۱۱- جاجی د شهاب الدین زوی څخه د ملا نور محمد د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.
۱۲- سراج الدین د ډاکټر سیف الدین زوی څخه د ډاکټر سیف الدین د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.
۱۳- ډاکټر فضل هادي فضلي د ډاکټر عبدالقدیر فضلي زوی څخه د معاون فضل الدین د کورنی معلومات را اخیستنه، ۱۳۹۹ل. کال.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**